DA AFGHANISTAN BANK

ټیکاو | ټینګښت | باور



# کلنی راپور سالانه ۱۳۹۸

(مرغومی ۱۳۹۷ – لیندۍ ۱۳۹۸)

DA AFGHANISTAN BANK




# کلنی راپور
# سالانه ۱۳۹۸

(مرغومی ۱۳۹۷ – لیندی ۱۳۹۸)

**د افغانستان بانک کلنی راپور**

د ریاست د دفتر عمومی آمریت

پته: د افغانستان بانک، ابن سینا واټ، کابل - افغانستان

info@dab.gov.af

0093 0202104761

Da Afghanistan Bank-Youtube

twitter.com/AFGCentralbank

www.facebook.com/AFGCentralbank

Web: www.dab.gov.af

## د مطالبو لړلیک

**د افغانستان بانک د لوی ریاست د سرپرست پیغام** ..... الف

**۱– د اقتصادي وضعیت او د پولي سیاست د کړنو لنډ راپور** ..... ۱

- نړیوال اقتصادي وضعیت ..... ۱
- په افغانستان کې اقتصادي بدلونونه ..... ۱
- حقیقي سکتور ..... ۱
- بهرنی سکتور ..... ۳
- د پولي سکتور بدلونونه ..... ۵
- د مالي سکتور بدلونونه ..... ۶
- په ۱۳۹۸ مالي کال کې د بودجې وضعیت ..... ۸

**۲– د بانکي نظام د وضعیت او کړنو شننه** ..... ۱۱

۱. بانکي نظام ته لنډه کتنه ..... ۱۱

۲. د بانکي نظام ټولیزه شتمنی ..... ۱۲

۲.۱ ټولیزه پورونه ..... ۱۳

۲.۲: د پورونو کیفیت ..... ۱۴

۲.۳: د پور ډولونه ..... ۱۵

۲.۴: سکتوري پورونه ..... ۱۵

۲.۵: د اړوندو اشخاصو پورونه ..... ۱۵

۲.۶: متصرف شوې شتمنی ..... ۱۵

۳: سیالیت ..... ۱۵

۳.۱: سیالې شتمنی ..... ۱۵

۳.۲: الزامي زیرمې ..... ۱۶

۳.۳: د بانکونو تر منځ طلبات ..... ۱۶

۳.۴: له بهرنیو بانکونو سره امانتونه ..... ۱۷

۳.۵: ټولیزه امانتونه ..... ۱۷

۴: پانګه ..... ۱۸

۵: د بانکي نظام ګټه ..... ۱۹

۵.۱:د پورونو د ټکټانې کچه ..... ۲۰

۵.۲:د امانتونو د ټکټانې نرخ ..... ۲۰

۶: له بیلانس شیټ څخه بهر توکي ..... ۲۱

۷: د اسلامي بانکوالۍ او مالي خدمتونو د آمریت د کړنو څرنګوالی ..... ۲۱

**۳– د اداینو لوی آمریت** ..... ۲۵

- نړیوالې اداینې (سویفټ SWIFT) ..... ۲۵
- د بانکونو ترمنځ د اداینو سیستم ..... ۲۵
- د داخلي اداینو برخه ..... ۲۵
- د چکونو د تصفیې او تسویې برخه ..... ۲۶
- د پلان او پالیسۍ د پراختیا برخه ..... ۲۶

**۴– د بازار عملیات** ۲۹
- اسعاري زيرمې ۲۹
- د پانگه ايزو پاڼو ليلام (کپيټل نوټ) ۲۹
- د اسعارو ليلام ۳۱
- الزامي زيرمې ۳۱
- ليټراف کريډټونه ۳۲

**۵– د عامه اعتبارونو د ثبت لوی آمريت** ۳۵
۱– د عامه اعتبارونو د ثبت مديريت ۳۵
۲– د منقولو مالونود رهني حقونو د ثبت مديريت ۳۶
۳– د سوداگريزې پراختيا مديريت ۳۶
۴– د معلوماتي ټکنالوژۍ برخه ۳۶
۵– حقوقي مشاوريت ۳۷
۶– د اجرائيې او مالي چارو مديريت ۳۷

**۶– د افغان امانتونو د بيمې اداره** ۴۱
- د افغان امانتونو د بيمې ادارې پولي سرچينې ۴۱
- د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې له بانکونو څخه د حق البيمې ترلاسه کول ۴۱
- د اسلامي بانکوالۍ د امانتونو د بيمې تکافل د کړنلارې ترتيب ۴۱
- له هېواد څخه بهر د افغان امانتونو د بيمې ادارې پانگونه ۴۲
- له سوداگريزو بانکونو څخه د حق البيمې د را ټولولو په طريقه کې بدلون ۵۲

**۷– د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز** ۴۵

**۸– بودجه او مالي صورت حساب** ۵۹
۱. عوايد ۵۹
۲. لگښتونه ۶۰
۳. د اثاثيې، تجهيزاتو او تعميراتي پراختيايي لگښتونه ۶۰
- مالي صورت حسابونه ۶۲

**۹– د بانکي عملياتو لوی آمريت** ۷۱
الف: د نغدو پيسو او غيرنغدي معاملو اداره کول ۷۱
ب: اداري او پرمختيايي برخه ۷۲

**۱۰–اداره او پراختيا** ۷۷
- د ټولو ناظر اداره ۷۷
- د رياست د دفتر عمومی آمريت ۷۹
- د حقوقي مشاوريت دفتر ۸۱
- د بشري سرچينو لوی آمريت ۸۳
- د معلوماتي ټکنالوژۍ لوی آمريت ۸۹
- د خطرونو او د قانون د رعايتولو لوی آمريت ۹۲
- د مالي خدمتونو د پراختيا لوی آمريت ۹۳

۱ ګراف: د پرمختللو او د غوړېدو په حال هېوادونو کې د ناخالصو کورنیو تولیداتو وده ښکاره کوي ۱
۲ ګراف: د ناخالصه کورنیو تولیداتو د ودې کچه ښکاره کوي ۲
۳ ګراف: د مصرفي توکو د بیو کلنی شاخص وړاندې کوي ۳
۴ ګراف، د ۱۳۹۷ مالي کال سره د ۱۳۹۸ مالي کال د سوداګرۍ د بیلانس پرتله ۴
۵ ګراف: په ۱۳۹۸ مالي کال کې د پولي زیرمې وده وړاندې کوي ۵
۶ ګراف: په ۱۳۹۸ مالي کال کې په ګردښت کې د پیسو وده ښکاره کوي ۵
۷ ګراف، په ۱۳۹۸ مالي کال کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانی د مبادلې نرخ ۷
۸ ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د مهمو اجزاوو بهیر ۱۲
۹ ګراف: د بانکي نظام د ناخالصو پورونو بهیر ښکاره کوي ۱۳
(۱۰ او ۱۱) ګرافونه: د بانکي نظام د ناخالصو پورونو او له نیتې اوښتو پورونو بهیر ۱۴
۱۲ ګراف: د بانکي نظام د پورونو سکتوري تمرکز ۱۵
۱۳ ګراف: د بانکي نظام د سیالو شتمنیو او ټولیزه امانتونو بهیر وړاندې کوي ۱۵
۱۴ ګراف: د بانکي نظام د الزامي زیرمو او ټولیزه امانتونو بهیر ښکاره کوي ۱۶
۱۵ ګراف: د بانکي نظام د بانکونو تر منځ د طلباتو او ټولیزه شتمنیو بهیر ښکاره کوي ۱۶
( ۱۶ او ۱۷ ) ګرافونه: د حسابونو د ډولونو پر بنسټ د بانکي نظام ټولیزه امانتونه او د اسعارو پر بنسټ د بانکي نظام ټولیزه امانتونه ښکاره کوي ۱۷
( ۱۸ او ۱۹ ) ګرافونه: د امانتونو په جذب کې د بانکونو ونډه او د امانت ایښودونکو پر بنسټ ټولیزه امانتونه ۱۷
۲۰ ګراف: د بانکي نظام د مقرراتي پانګې بهیر ښکاره کوي ۱۸
۲۱ ګراف: په ربعواره توګه د بانکي نظام د خالص متراکم شوی بهیر ښکاره کوي ۱۹
۲۲ ګراف: د بانکي نظام د نویو امانتونو د ټکټانې منځنی نرخ ښکاره کوي ۲۰
۲۳ ګراف: د بانکي نظام  د نویو امانتونو د ټکټانې د منځني نرخ میلیان ۲۰
۲۴ ګراف: د بانکي نظام د نویو پورونو او نویو امانتونو د ټکټانې د منځني نرخ توپیر ښکاره کوي ۲۱
۲۵ ګراف: د نړیوالو اداینو د سیستم اجراء شوي مبلغونه ۲۵
۲۶ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د بانکونو ترمنځ د اداینو د سیستم له لارې اجراء شوي مبلغونه ۲۵
۲۷ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د چکونو د تسویې او تصفیې د برخې لخوا اجراء شوي مبلغونه ۲۶
۲۸ ګراف: د تقاضا شویو او لیلام شویو پانګه ایزو پاڼو نور تفصیلات ۳۰
۲۹ ګراف: د پانګه ایزو پاڼو او شپنیو امانتونو د ټکټانې د نرخ بهیر ۳۰
۳۰ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ټولیزه ناتصفیه شویو پانګه ایزو پاڼو شرحه ۳۰
۳۱ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د پانګه ایزو پاڼو د پلور او شپنیو امانتونو له درکه ورکړل شوې ټکټانه ښکاره کوي ۳۱
۳۲ ګراف: په افغانیو د سوداګریزو بانکونو د الزامي زیرمو بهیر ۳۱
۳۳ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د سوداګریزو بانکونو الزامي زیرمې په دالر ۳۱
۳۴ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې په یورو د سوداګریزو بانکونو الزامي زیرمې ۳۲
۳۵ ګراف: په شپنیو امانتونو کې د سوداګریزو ټولیزه بانګونه ۳۲
( ۳۶ او ۳۷ ) ګرافونه: د راپور ورکوونکې مرجعو په توپیر سره د اسعارو د مبادلې د معاملو او د حوالې او مبادلې د برخې د لویو معاملو بهیر ښکاره کوي ۴۸

( ۳۸ او ۳۹ ) ګرافونه د زونونو په توپیر سره د مالي جریمو او د راپورونو د پلي کولو جزئیاتو ښکاره کوي ........ ۴۹
۴۰ ګراف: د راپور ورکوونکو مراجعو په توپیر سره د ډالرو د لیلام د راپور جزئیات ښکاره کوي ........ ۴۹
(۴۱ او ۴۲ ) ګرافونه: د مبادلې د برخې لویې معاملې او د راپور ورکونې په پورتال کې ثبت شوې مراجعې وړاندې کوي ........ ۵۰
۴۳ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د بودجې د بنسټیزو شقوقو زیاتوالی او کموالی ........ ۵۹
۴۴ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د عوایدو د عمده او بنسټیزو شقوقو زیاتوالی او کموالی ........ ۶۰
۴۵ ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لګښتونو د عمده او بنسټیزو شقوقو زیاتوالی او کموالی ........ ۶۰
۴۶ ګراف: په ۱۳۹۸ مالي کال کې د تجهیزاتو اثاثې او د تعمیراتي پراختیایي لګښتونو د عمده او بنسټیزو شقوقو زیاتوالی او کموالی ښکاره کوي ........ ۶۱
۴۷ ګراف: ټولیزه پلټل شوې او نا پلټل شوې شعبې ښکاره کوي ........ ۷۷
۴۸ ګراف: د پلټل شویو، تعقیب شویو، نه تعقیب شویو شعبو او... سلنه ښکاره کوي ........ ۷۸

۱ جدول: د ناخالصه کورنیو تولیداتو وده (د سلنې بدلونونه) ..... ۲
۲ جدول: په کلني ډول د عمومي شاخص د انفلاسیون نرخ ښکاره کوي ..... ۳
۳ جدول: د جاري حساب بیلانس په میلیون امریکایي ډالرو ..... ۴
۴ جدول: د مالي او پانګه ایزه حساب بیلانس (په میلیون امریکایي ډالر) ..... ۵
۵ جدول: د ۱۳۹۸ کال منظوره شوې او حقیقي عملي شوې بودجه او د ۱۳۹۹ مالي کال وړاندیز شوې بودجه ..... ۷
۶ جدول: په لنډه توګه د بانکي نظام د مهمو شاخصونو بدلونونه او د وروستنیو برخو تفصیل وړاندې کوي ..... ۱۱
۷ جدول: په هېواد کې د بانکي نمایندګیو شمېر او نورې شته بانکي آسانتیاوې وړاندې کوي ..... ۱۲
۸ جدول: په ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ کلنو کې د شتمنیو د کیفیت د شاخصونو پرتله ښکاره کوي ..... ۱۳
۹ جدول: د اسعارو په بنسټ د بانکي نظام ټولیزه پورونه ..... ۱۴
۱۰ جدول: د پورونو د کیفیت شاخصونه وړاندې کوي ..... ۱۴
۱۱ جدول: د بانکي نظام د سیالیت شاخصونه وړاندې کوي ..... ۱۵
۱۲ جدول: د امانتونو او اسعارو د ډول پر بنسټ د بانکي نظام ټولیزه امانتونه (په میلیون افغانۍ) وړاندې کوي ..... ۱۸
۱۳ جدول: د پانګې د کفایت نسبت یا شاخص ښکاره کوي ..... ۱۸
۱۴ جدول: د بانکي نظام د ګټورتیا شاخصونه ..... ۱۹
۱۵ جدول: د بانکي نظام میاشتنۍ ګټه/زیان ښکاره کوي ..... ۲۰
۱۶ جدول: د بانکي نظام د پورونو ډولونه ښکاره کوي ..... ۲۰
۱۷ جدول: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې بانکونو ته د پانګه ایزو پاڼو د لیلام تفصیلات ..... ۳۰
۱۸ جدول: د عامه اعتبارونو د ثبت په سیستم کې ثبت شوي تړونونه ..... ۳۵
۱۹ جدول: بانکونو او د پورونو کوچنیو او منځنیو مؤسسو ته د وړاندې شوي خدمتونه ..... ۳۷
۲۰ جدول: د اسعارو د تفکیک په پام کې نیولو سره له بانکونو څخه د حق البیمې ترلاسه کول ..... ۴۱
۲۱ جدول: د قضیو ډول، د خطر شاخص، د شکمنو راپورونو شمېر ..... ۴۶
۲۲ جدول: د زونونو د توپیر پر بنسټ په بریښنایي او لیکلې بڼه د راپور ورکولو بهیر ښکاره کوي ..... ۴۷
۲۳ جدول: د ډالرو د لیلام په پروسه کې د سرغړونې پر وړاندې تر لاس لاندې نیول شوي اقدامات ..... ۵۰
( ۲۴ او ۲۵ ) جدولونه: د هغو غوښتنلکیونو جزئیات چې پر بنسټ یې د معلوماتو ورکولو غوښتنه شوې ..... ۵۲
۲۶ جدول: د افغانیو او نورو ادارو د اسعارو پروسس ..... ۷۲
۲۷ جدول د هېواد دننه او بهر د جوړو شویو پروګرامونو اړوند معلومات وړاندې کوي. ..... ۸۶
۲۸ جدول: دمعلوماتي تکنالوژۍ شبکې د بیخ بنستونو مدیریت او خوندیتوب ..... ۹۰

# د اقتصادي وضعیت او د پولي سیاست د کړنو لنډ راپور

# د اقتصادي وضعیت او د پولي سیاست د کړنو لنډ راپور

## نړیوال اقتصادي وضعیت


د نړیوال بانك د راپور پر بنسټ، د نړۍ اقتصادي کچه د ۱۳۹۸ کال په اوږدو کې راکمه شوې ده چې بنسټیز لاملونه یې د نړېوالې سوداګرۍ کمزوره کړنې، د غوړېدو په حال هېوادونو په تولیداتو او پانګونو کې کموالی چې له امله یې د پرمختللو او د غوړېدو په حال هېوادونو لکه چین، هند، برازیل او روسیې کې اقتصادي وده کمه شوې ده، ګڼل کېږي.

د نړیوال بانك او د پیسو د نړیوال صندوق په راپور کې راغلي دي چې د پرمختللو هېوادونو په اقتصاد کې ۱.۷ سلنه، د اروپايي سیمې د هېوادونو په اقتصاد کې ۱.۲ سلنه او د پرمختګ او غوړېدو په حال هېوادونو په اقتصاد کې ۳.۷ سلنه کموالی راغلی دی.

د پرمختللو هېوادونو له ډلې، د امریکې د متحده ایالتونو اقتصاد د ۱۳۹۸ کال په اوږدو کې شاوخوا ۲.۳ سلنه وده کړې، حال دا چې بریتانیې او آلمان په دې موده کې په ترتیب سره شاوخوا ۱.۴ سلنه او ۰.۴ سلنه وده تجربه کړې ده.

د غوړېدو په حال هېوادونو له ډلې، د ۱۳۹۸ کال په اوږدو کې د چین اقتصاد ۶.۱ سلنه او د ترکیې اقتصاد ۰.۹ سلنه وده درلودلې ده.

( ۱ ) ګراف: د پرمختللو او د غوړېدو په حال هېوادونو کې د ناخالصو کورنیو تولیداتو وده ښکاره کوي




سرچینه: نړیوال بانک

## په افغانستان کې اقتصادي بدلونونه

### حقیقي سکتور

د حقیقي سکتور بدلونونه د ۱۳۹۸مالي کال په اوږدو کې په دوو برخو کې تر څېړنې لاندې نیول کېږي. لومړۍ برخه د اقتصادي ودې د بدلونونو ارزونه او دویمه برخه د انفلاسیوني بدلونونو شننه رانغاړي.

### اقتصادي وده:

افغانستان د تېر کال په پرتله د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د پام وړ اقتصادي وده کړې ده. ناخالصه کورني تولیدات چې د کرنې، صنعت او خدمتونو سکتورونه رانغاړي، په ۱۳۹۸ مالي کال کې۴.۰۳ سلنې ته رسیږي، حال دا چې دا شمېره په تېر مالي کال کې ۱.۵۸ سلنه ثبت شوې وه. د کرنې سکتور په ۱۳۹۸ مالي کال کې د پام وړ وده تجربه کړې ده. د کرنې د سکتور د کړنو د ښه والي بنسټیز لاملونه یې د مناسبې هوا او اورښت کافي کچه او همدارنګه د ځمکې او هوا له لارو د وچو او تازه میوو د صادراتو زیاتوالی ګڼل کېږي او د راپور ورکونې په دوره کې یې د هېواد په اقتصادي ودې مثبتې اغېزې کړې دي. د کرنې سکتور چې د ناخالصه کورنیو تولیداتو ۲۵.۵۲ سلنه جوړوي، په ۱۳۹۸ مالي کال کې یې ۲۰.۷۹ سلنه وده کړې، حال دا چې دا شمېره په ۱۳۹۷ مالي کال کې منفي ۵.۸۶ سلنه محاسبه شوې وه. د کرنې سکتور د ودې د زیاتیدو بنسټیز لامل د دې سکتور د فرعي برخو لکه (غلو او دانو چې د تېر کال له منفي۱۲.۵۴ سلنې څخه په ۱۳۹۸مالي کال کې۱۴.۹۵ سلنې، میوې چې د تېر کال له منفي ۹.۴۳ سلنې څخه ۱۹.۶۵ سلنې او نورې برخې له ۳.۴۶ سلنې څخه د ارزونې لاندې دوره کې۴۶.۳۱ سلنې) ته لوړې شوې دي.


په افغانستان کې د صنعت د سکتور وده د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د پام وړ کموالی ښکاره کوي. دا سکتور چې د ناخالصو کورنیو تولیداتو ۱۲.۱۳ سلنه جوړوي، کچه یې د ۱۳۹۷ مالي کال له ۱۹.۴۴ سلنې څخه د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې منفي ۴.۳۹ سلنې ته راکمه شوې ده. په هېواد کې د پانګونو کموالی او د مالي، سیاسي او امنیتي خطرونو زیاتوالی هغه لاملونه دي چې د هېواد د صنعت سکتور یې اغیزمن کړی. شمېرې ښکاره کوي چې فابریکاتي صنایعې د ۱۳۹۷ مالي کال له ۶۸.۴۸ سلنې څخه د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې منفي ۹.۵۵ سلنې، نا خوراکي صنایعې له ۳۸.۰۵ سلنې څخه منفي ۳۶.۷۷ سلنې او ودانیزې کړنې له ۱.۹۹ سلنې څخه منفي ۱.۳۵ سلنې ته را کمې شوې چې په پایله کې یې د صنعت د سکتور د ودې کچه کمه شوې ده.

د خدمتونو سکتور په ۱۳۹۸ مالي کال کې منفي وده تجربه کړې ده. د خدمتونو سکتور چې د ناخالصه کورنیو تولیداتو ۵۷.۳۸ سلنه جوړوي، په ۱۳۹۸ مالي کال کې منفي ۱.۰۰ سلنه کموالی په ګوته کوي، حال دا چې دا شمېره په تېرکال کې ۲.۰۵ سلنه محاسبه شوې وه. د صنعت په سکتور کې نامطلوبو بدلونونو د خدمتونو په سکتور هم اغیزه درلودلې او د دې سکتور په ودې کې یې ټیټېدونکي بدلونونه رامنځ ته کړي. عمده او پرچونې سوداګرۍ د تېر مالي کال له ۱۰.۰۲ سلنې ودې څخه په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۰.۴۴ سلنه، رستورانتونه او هوټلونه له ۳.۳۳ سلنې څخه ۰.۶۵ سلنه، پُست او مخابرات له ۶.۶۰ سلنې څخه ۰.۹۰ سلنه، د معاملاتو لاربښوونې له ۴.۱۶ سلنې څخه ۲.۵۴ سلنه، ښوونه او روزنه له ۰.۶۸ سلنې څخه منفي ۲۶.۷۶ سلنه، روغتیایي او ټولنیز خدمتونه له ۲.۹۴ سلنې څخه ۰.۵۴ سلنه ثبت شوي دي.

(۱) جدول: د ناخالصه کورنیو تولیداتو وده (د سلنې بدلونونه)

| شاخص | له کوکنارو پرته | | |
|---|---|---|---|
| | ۱۳۹۶ | ۱۳۹۷ | ۱۳۹۸ |
| | ۱۷/۲۰۱۶ | ۱۸/۲۰۱۷ | ۱۹/۲۰۱۸ |
| ناخالصه کورني تولیدات | ۲.۹ | ۱.۵۸ | ۴.۰۳ |
| کرنه | ۹.۳۳ | -۵.۸۶ | ۲۰.۷۹ |
| صنعت | ۸.۰۵ | ۱۹.۴۴ | -۴.۳۹ |
| خدمتونه | -۱.۷۹ | ۲.۰۵ | -۱.۰۰ |

(۲) ګراف: د ناخالصه کورنیو تولیداتو د ودې کچه ښکاره کوي




## پولي انفلاسیون

د هېواد د پولي انفلاسیون نرخ د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې په مطلوب حد کې ؤ. د افغانستان بانک د یو لړ نوسانونو په درلودلو سره د انفلاسیون په مهارولو کې په بریالیتوب سره عمل کړی دی. انفلاسیون د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ۳.۶۳ سلنې او ۳.۷۵ سلنې تر منځ د حرکت په حال کې ؤ او د ۱۳۹۸ مالي کال د مرغومي په میاشت کې ۳.۷۵ سلنې ته ورسید. دا شمېره د ۱۳۹۸ مالي کال د لیندۍ په میاشت کې ۲.۷۷ سلنې ته رسیدې چې د پولي موخو د تحقق په برخه کې د بانک بریالیتوب ښکاره کوي.

د ۱۳۹۸ مالي کال د مرغومي په میاشت کې د عمومي انفلاسیون د زیاتوالي لامل د خوراکي او نا خوراکي توکو د بیو لوړوالی دی.

د ۱۳۹۸ مالي کال د مرغومي په میاشت کې د خوراکي توکو


شاخص ۵.۹۹ سلنې ته رسیږي، حال دا چې د همدې کال د لیندۍ په میاشت کې دا شمېره ۴.۹۱ سلنه رسیده. همدا ډول، د نا خوراکي توکو انفلاسیون چې د ۱۳۹۸ مالي کال د لیندۍ په میاشت کې ۰.۷۷ سلنه محاسبه شوی ؤ، د همدې کال د مرغومي په میاشت کې ۱.۶۵ سلنې ته لوړوالی موندلی دی.

په هېواد کې د انفلاسیوني بدلونونو د دقیقې مطالعې په موخه، د افغانستان بانک د اصلي انفلاسیون معیار هم تر غور لاندې نیولی دی. د دې معیار پر بنسټ، کوم غیرمعمولي لاملونه چې د موسمي بدلونونو یا نورو ځانګړو حالتونو له امله را منځ ته کېږي، له شاخص څخه ایستل کېږي څو پر عمومي شاخص باندې د هغه له اغیزې څخه مخنیوی وشي. د اصلي انفلاسیون له مهمو معیارونو څخه یو هم د اوسط موندنې میتود (Trimmed Mean) دی. دا معیار د شاخص یوه ځانګړې (۷۰ سلنه) برخه چې نورماله بدلونونه ښکاره کوي، رانغاړي. د دې معیار پر بنسټ د انفلاسیون نرخ د ۱۳۹۸ مالي کال د لیندۍ د میاشتې له ۳.۸۹ سلنې څخه په مرغومي میاشت کې ۳.۳۵ سلنې ته راکم شوی دی.

( ۲ ) جدول: په کلني ډول د عمومي شاخص د انفلاسیون نرخ ښکاره کوي

| توکي | مرغومي ۹۷ | سلواغه ۹۷ | کب ۹۷ | وری ۹۸ | غویي ۹۸ | غبرګولی ۹۸ | چنګاښ ۹۸ | زمری ۹۸ | وږی ۹۸ | تله ۹۸ | لړم ۹۸ | لیندۍ ۹۸ | مرغومي ۹۸ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| عمومي شاخص | ۰.۴۱ | ۰.۳۴ | ۱.۷۷ | ۳.۶۳ | ۴.۸۸ | ۴.۰۳ | ۲.۷۷ | ۲.۹۲ | ۱.۸۵ | ۱.۱۲ | ۱.۲۲ | ۲.۷۷ | ۳.۷۵ |
| د خوراکي توکو شاخص | -۰.۴۱ | ۰.۱۴ | ۲.۶۲ | ۵.۱۲ | ۷.۰۴ | ۵.۸۶ | ۴.۷۱ | ۵.۲۸ | ۴.۱۳ | ۲.۸۵ | ۳.۲۹ | ۴.۹۱ | ۵.۹۹ |
| د نا خوراکي توکو شاخص | ۱.۱۹ | ۰.۵۳ | ۰.۹۷ | ۲.۲۴ | ۲.۸۵ | ۲.۳۵ | ۱.۰۰ | ۰.۷۸ | -۰.۲۴ | -۰.۴۷ | -۰.۶۹ | ۰.۷۷ | ۱.۶۵ |
| د اوسط موندنې میتود (۳۰٪) | ۲.۰۲ | ۲.۲۳ | ۲.۶۲ | ۳.۵۴ | ۳.۰۰ | ۳.۰۴ | ۲.۵۳ | ۲.۱۴ | ۲.۲۳ | ۳.۲۶ | ۳.۴۶ | ۳.۸۹ | ۳.۳۵ |

( ۳ ) ګراف: د مصرفي توکو د بیو کلنی شاخص وړاندې کوي.




**بهرنی سکتور**

**بهرنی سوداګري**

د شته شمېرو پر بنسټ، په ۱۳۹۸ مالي کال کې د هېواد د خدمتونو او توکو صادرات د تېر مالي کال په پرتله ۶ سلنه کموالی ښکاره کوي. په ۱۳۹۸ مالي کال کې د هېواد د خدمتونو او توکو د ټولیزه صادراتو ارزښت ۱،۵۰۹.۲۱ میلیون امریکایي ډالرو ته رسیږي، په داسې حال کې چې تېر کال دا شمېره ۱،۶۰۹.۷۴ میلیون امریکایي ډالره ثبت شوې وه.

په همدې ترتیب، د هېواد د خدمتونو او توکو وارداتو د تېر کال په پرتله په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۸ سلنه کموالی موندلی، څرنګه چې په دې دوره کې د هېواد د وارداتو ټولیزه کچه شاوخوا ۷،۳۷۰.۵۸ میلیون امریکایي ډالره اټکل شوی او دا شمېره په تېر کال کې ۷،۹۸۳.۸۵ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیده.

د سوداګرۍ د بیلانس کسر په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۵،۸۶۱.۳۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۷ مالي کال د ۶،۳۷۴.۳۸ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۸ سلنه کموالی ښکاره کوي.

د هېواد خالص لومړني عواید په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۳۰۶.۶۶ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د تېر مالي کال د ۱۹۰.۷۳ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۶۱ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي، خو ثانوي عواید (بلاعوضي مرستې او د

کارګرانو د وجوهو لېږدونې) په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۱۷۵۶.۱۴ میلیون امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۷ مالي کال د ۲،۲۸۶.۸۱ میلیون امریکایي ډالرو په پرتله ۲۳ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي.


په ۱۳۹۸ مالي کال کې د جاري حساب کسر د ارزونې لاندې موده کې ۳،۷۹۸.۵۷ میلیون امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۷ مالي کال د ۳،۸۹۶.۸۴ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله شاوخوا ۳ سلنه کموالی په ګوته کوي.

(۳) جدول: د جاري حساب بیلانس په میلیون امریکایي ډالرو

| اجزا/دوره | د ۱۳۹۷ مالي کال لومړۍ ربعه | د ۱۳۹۷ مالي کال دویمه ربعه | د ۱۳۹۷ مالي کال درېیمه ربعه | د ۱۳۹۷ مالي کال څلورمه ربعه | د ۱۳۹۷ مالي کال | د ۱۳۹۸ مالي کال لومړۍ ربعه | د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه | د ۱۳۹۸ مالي کال درېیمه ربعه | د ۱۳۹۸ مالي کال څلورمه ربعه | د ۱۳۹۸ مالي کال |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د خدمتونو او توکو صادرات | ۳۳۴.۵۱ | ۳۷۷.۸۳ | ۴۵۵.۶۴ | ۴۴۱.۴۹ | ۱،۶۰۹.۴۷ | ۳۷۰.۴۹ | ۲۸۳.۸۹ | ۳۴۴.۶۴ | ۵۱۰.۲۰ | ۱،۵۰۹.۲۱ |
| د خدمتونو او توکو واردات | ۲،۱۱۱.۷۵ | ۱،۸۷۴.۳۰ | ۱،۹۴۵.۳۲ | ۲،۰۵۲.۴۸ | ۷،۹۸۳.۸۵ | ۱،۹۹۰.۹۶ | ۱،۷۱۱.۱۲ | ۱،۷۸۳.۱۳ | ۱،۸۸۵.۳۶ | ۷،۳۷۰.۵۸ |
| د سوداګرۍ د بیلانس کسر | -۱،۷۷۷.۲۴ | -۱،۴۹۶.۴۸ | -۱،۴۸۹.۶۸ | -۱،۶۱۰.۹۸ | -۶،۳۷۴.۳۸ | -۱،۶۲۰.۴۸ | -۱،۴۲۷.۲۳ | -۱،۴۳۸.۴۹ | -۱،۳۷۵.۱۶ | -۵،۸۶۱.۳۶ |
| د لومړنیو عوایدو حساب | ۲۲.۳۸ | ۵۴.۶۴ | ۶۳.۴۵ | ۵۰.۲۶ | ۱۹۰.۷۳ | ۷۵.۹۱ | ۱۰۱.۰۷ | ۶۸.۸۴ | ۶۰.۸۴ | ۳۰۶.۶۶ |
| د ثانوي عوایدو حساب | ۵۱۴.۰۱ | ۶۶۷.۹۲ | ۵۶۲.۰۳ | ۵۴۲.۸۵ | ۲،۲۸۶.۸۱ | ۲۶۷.۶۶ | ۵۴۷.۸۳ | ۳۴۱.۲۲ | ۵۹۹.۴۳ | ۱،۷۵۶.۱۴ |
| د جاري حساب کسر | -۱،۲۴۰.۸۴ | -۷۷۳.۹۲ | -۸۶۴.۲۰ | -۱،۰۱۷.۸۷ | -۳،۸۹۶.۸۴ | -۱،۲۷۶.۹۱ | -۷۷۸.۳۳ | -۱،۰۲۸.۴۳ | -۷۱۴.۸۹ | -۳،۷۹۸.۵۷ |

سرچینه: د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت

(۴) ګراف: د ۱۳۹۷ مالي کال سره د ۱۳۹۸ مالي کال د سوداګرۍ د بیلانس پرتله




## د پانګه ایزه حساب بیلانس

د هېواد د ادارنو د پانګه ایز حساب بیلانس د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې ۱،۱۹۳.۹۴ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي، حال دا چې دا شمېره په تېر کال کې ۱۳۱۴.۴۱ میلیونه امریکایي ډالره ثبت شوې چې ۹ سلنه کموالی ښکاره کوي. دا کموالی په بنسټیز ډول د پانګه ایزو لیږدونو د کموالي له امله را منځ ته شوی دی.

د بهرنۍ مستقیمې پانګونې خالصه ارزښت په ۱۳۹۸ مالي کال کې ۲.۹۰ میلیونه امریکایي ډالرو ته رسیږي چې د ۱۳۹۷ مالي کال د ۸۰.۶۳ میلیونه امریکایي ډالرو په پرتله ۱۰۴ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. په همدې ډول غیر مستقیمې پانګونې (په پور پانګو کې پانګونې) د ۱۳۹۷ مالي کال له ۱۴۲.۷۰ میلیونه امریکایي ډالرو څخه په ۱۳۹۸ مالي کال کې منفي ۱۴.۶۲ میلیونه امریکایي ډالرو ته را کمې شوې دي.

(۴) جدول: د مالي او پانګه ایزه حساب بیلانس (په میلیون امریکایي ډالر):

| د مالي او پانګه ایزه حساب بیلانس | د ۱۳۹۷ مالي کال لومړی ربعه | د ۱۳۹۷ مالي کال دویمه ربعه | د ۱۳۹۷ مالي کال دریمه ربعه | د ۱۳۹۷ مالي کال څلورمه ربعه | د ۱۳۹۷ مالي کال | د ۱۳۹۸ مالي کال لومړی ربعه | د ۱۳۹۸ مالي کال دویمه ربعه | د ۱۳۹۸ مالي کال دریمه ربعه | د ۱۳۹۸ مالي کال څلورمه ربعه | د ۱۳۹۸ مالي کال |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| پانګه ایزه حساب | ۳۷.۷۰ | ۱۹۹.۹۲ | ۴۵۶.۳۳ | ۶۲۰.۴۵ | ۱،۳۱۴.۴۱ | ۵۶.۱۳ | ۲۴۱.۵۷ | ۳۹۱.۵۷ | ۵۰۴.۶۸ | ۱،۱۹۳.۹۴ |
| مالي حساب | ۴۷.۵۴ | −۸۱.۸۸ | ۳۰۴.۰۴ | ۲۰۹.۷۵ | ۴۷۹.۴۵ | −۳۸.۳۴ | ۴۰.۸۸ | ۴۹.۱۸ | ۱۱.۵۹ | ۶۳.۳۱ |
| مستقیمي پانګونې | −۴۳.۳۱ | −۴۹.۷۵ | ۵.۹۴ | ۶.۵۰ | −۸۰.۶۳ | ۱.۷۱ | −۶.۳۰ | ۹.۰۴ | −۱.۵۵ | ۲.۹۰ |
| غیر مستقیمي پانګونې | ۴۴.۰۷ | −۱۱.۲۴ | ۱۰۶.۸۰ | ۳.۰۷ | ۱۴۲.۷۰ | −۱۶.۴۶ | ۱۵.۴۲ | −۳۳.۷۴ | ۲۰.۱۶ | −۱۴.۶۲ |
| نورې پانګونې | ۴۰.۹۸ | ۱۷.۴۷ | ۷۸.۶۵ | ۱۱۵.۹۲ | ۲۵۳.۰۲ | −۷۱.۶۱ | ۱.۳۵ | −۸۲.۵۸ | ۱۲۳.۷۲ | −۲۹.۱۳ |


سرچینه: د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت

**د پولي سکتور بدلونونه**

**نقدینګي (پولي زیرمې او په ګردښت کې پیسې):**

د ۱۳۹۸ مالي کال لپاره د پولي زیرمې د ودې کچه ۱۱.۶۰ سلنه ټاکل شوې وه چې له نیکه مرغه د افغانستان بانک توانیدلی خو دې موخې ته په بریالیتوب سره ورسیږي. د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې د پولي زیرمې حقیقي کچه ۳۲۱.۶۲۸ میلیارده افغانۍ ثبت شوې چې له ټاکل شوي حد څخه نږدې ۱.۲۵ میلیارده افغانۍ ټیټه ساتل شوې ده.


(۵) ګراف: په ۱۳۹۸ مالي کال کې د پولي زیرمې وده وړاندې کوي




سرچینه: د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت

همدا ډول، د ۱۳۹۸ مالي کال په ګردښت کې د پیسو د ودې کچه هم ۱۲ سلنه ټاکل شوې وه چې د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې شاوخوا ۲۵۹.۳۴۹ میلیارده افغانیو ته رسیږي. د ۱۳۹۸ مالي کال په ګردښت کې د پیسو حقیقي کچې د تېر کال په پرتله ۱۳.۶۵ سلنه وده کړې او له ټاکل شوي معیار څخه ۳.۶۸ میلیارده افغانۍ کمه ثبت شوې ده. له همدې امله کولای شو ووایو چې له ټاکل شوې موخې څخه د پولي زیرمې حقیقي کچه کمه او په ګردښت کې د پیسو حقیقي کچه له ټاکل شوې موخې څخه زیاته ده.

(۶) ګراف: په ۱۳۹۸ مالي کال کې په ګردښت کې د پیسو وده ښکاره کوي




سرچینه: د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت

**د افغانستان بانک د خالصه نړیوالو زیرمو کچه**


د هېواد خالصې نړیوالې زیرمې د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې ۷،۸۴۶.۰۷ میلیون امریکایي ډالره ثبت شوې دي چې د ټاکل شوي حد څخه ۱۴۱.۰۹ میلیون ډالره زیاتې دي.

**د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانی د مبادلې نرخ**

د افغانستان بانک د مبادلې د مدیریت شوي متحوله نرخ د رژیم څخه پیروي کوي او په دې رژیم کې د مبادلې نرخ په بازار کې د عرضې او تقاضا پر بنسټ ټاکل کیږي. څرګنده ده چې افغانستان د شدید سوداګریز کسر سره مخ دی چې د وارداتو په وړاندې اداینه په اسعارو باندې ترسره کېږي. له همدې کبله د اسعارو په بازار کې د افغانی ارزښت تر فشار لاندې راغلی چې دا موضوع د اسعارو په وړاندې د افغانی ارزښت د ټیټوالي یو ستر لامل ګڼل کیږي.

د ۱۳۹۸ مالي کال په پای کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانی د مبادلې نرخ ۷۸.۴۱ ؤ چې د تېر کال د ورته مودې په پرتله ۴.۶۵ سلنه ټیټوالی ښکاره کوي. همدا ډول، د پاونډ او یورو په وړاندې د افغانی نرخ په ترتیب سره ۵.۶ او ۱.۷۴ سلنه کم ثبت شوی دی.

(۷) ګراف، په ۱۳۹۸ مالي کال کې د امریکایي ډالرو په وړاندې د افغانی د مبادلې نرخ




سرچینه: د افغانستان بانک د پولي سیاست لوی آمریت

کوم لاملونه چې د اسعارو په وړاندې د افغانی پر مبادلوي ارزښت باندې فشار راوړي هغه پر وارداتو باندې د اقتصاد اتکاء، پر اسعارو باندې د اقتصاد اتکاء، د پانګې تېښتنه او امنیتي ننګونې دي.

**د پولي سیاست د تطبیقولو په برخه کې د افغانستان بانک اقدامات**

د افغانستان بانک له عمده موخو څخه یوه هم د کورنیو بیو د ثبات ساتل دي. د افغانستان بانک د مبادلې مدیریت شوی متحوله رژیم (Managed Floating Exchange Rate) تعقیبوي چې د نورو لاملونو تر څنګ د اقتصاد وارداتي کېدل د دې لامل کیږي چې د اسعارو په وړاندې د افغانی د مبادلې نرخ ډېر نوسانات ولري. د افغانستان بانک د نوساناتو د کنټرولولو په موخه د آزاد بازار له عملیاتو ( د اسعارو او ارزښت لرونکو پاڼو لیلام) څخه ګټه اخلي چې په ۱۳۹۸ مالي کال کې یې د اسعارو د لیلام له لارې په ټولیزه توګه ۲،۴۳۰.۴۰ میلیونه امریکایي ډالره پلورلي او په بدل کې یې ۱۸۹.۲۵ میلیارده افغانی له بازاره راټولې کړي دي.

یو بل ابزار چې د افغانستان بانک ترې د نقدینګۍ د کنټرولولو په موخه ګټه اخلي، هغه د بیه لرونکو پاڼو پلورل دي چې د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې ۲۴.۹۰ میلیارده افغانی بیه لرونکې پاڼې پلورل شوي دي.

**د مالي سکتور بدلونونه**

د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې ( د ۱۳۹۷ د مرغومي له ۱ نیټې څخه د ۱۳۹۸ د لیندۍ تر ۲۹ نېټې) د پولي سیاست لوی آمریت د هېواد د اقتصادي ودې او ټیکاو په موخه د مالي سکتور بېلابېلې برخې (بودجه، عواید او لګښتونه) د درې میاشتنیو او کلنیو خېړونو لپاره تحلیل کړي چې د هغې پر بنسټ د مالي سکتور کړنې د امنیتي، سیاسي ستونزو او د مبادلې د نرخ د بدلونونو له امله تر منفي اغیزې لاندې راغلي دي.

د پولي سیاست آمریت د مالي سکتور برخه د بودجې، عوایدو او لګښتونو په ګډون د نورو برخو په اړه د معلوماتو او مالي شمېرو د تر لاسه کولو په موخه د مالیې وزارت (د بودجې ریاست، د خزاینو ریاست او د مالي پالیسي ریاست) سره د یوه منظم پلان له مخې پر مخ ځي څو په بهرنیو مرستو کې د زیاتوالي یا کموالي او همدا ډول په هغو کې د بدلونونو د دلیلونو د پیدا کولو او د معلوماتو او شمېرو د راټولولو لپاره له ټولو لوړ پوړو مسئولینو سره د جلا غونډو له لارې اړیکې ونیول شي. د پولي سیاست آمریت د مالي سکتور برخې او د مالیې وزارت بېلابېل ریاستونه د بودجې، عوایدو او لګښتونو د برخو د مدیرانو په ګډون له نورو چارواکو سره د جلا غونډو له لارې د مالیې وزارت د اړتیا وړ معلومات او شمېرې د پښتیا په پام کې نیولو سره شریکوي او د مالي سکتور د ښه والي او ودې لپاره له یو بل سره نږدې همکاري کوي.

سربېره پر دې، د پولي سیاست آمریت د مالي سکتور برخه له کلني کاري پلان سره سم، د عامه او خصوصي ګډون د پروګرامونو (Public Private Partnership) د تطبیقولو لپاره د ځانګړي استازي او د دې ریاست د عامه ګډون د مشورتي بورد د غړي په توګه عمل کوي. د دې ترڅنګ دا برخه د اروپايي ټولنې له قوانینو او مقررو سره سم د مالیې وزارت د دولت د بیا رغونې په تړون (State Building Contract) کې چې په ۱۳۹۶ کال کې پیل شوی، ونډه لري. د دې تړون پر بنسټ، د عامه پالیسۍ، لوی اقتصاد د کاري اډانې او د عامه مالي مدیریت په برخو کې په یو لړ سمونونو هوکړه شوې او اروپايي ټولنې د دغو سمونونو په بدل کې له افغانستان سره ۲۰۰ میلیونه یورو اختیاري مرسته کوي. د افغانستان بانک د یادو پروګرامونو لپاره د ځانګړي استازي په توګه د اقتصادي شاخصونو د بېلو راپورونو په جوړولو کې د پښتیا په پام کې نیولو سره بنسټیز رول لوبوي څو یاد تړون د مالیې وزارت له پلان سره سم په ټاکلي وخت او په کره توګه عملي او تطبیق شي.

د پولي سیاست آمریت د مالي سکتور برخه د ۱۳۹۸ کال له کلني کاري پلان سره سم توانیدلی دی څو د مالي سکتور د متحولینو اړوندې شمېرې په میاشتنې، درې میاشتنې او کلنې ډول را ټولې او درې میاشتنی او کلنی احصائیوي خپرونې (Bulletin) ترتیب کړي. د دې تر څنګ یې میاشتنې اقتصادي راپورونه د افغانستان بانک عامل پلاوي ته وړاندې کړي او د دولت د مالي سکتور (بودجې، عوایدو او لګښتونو) کره شمېرې یې د افغانستان بانک د Financial Programming & Policies پروګرام لپاره وړاندې کړې دي.

له شته ننګونو سره سره بیا هم په ۱۳۹۸ مالي کال کې په ټولیزه توګه ۲۰۸.۴۱ میلیارده افغانۍ کورنۍ عواید را ټول شوي چې د تیر کال د ۱۸۹.۸۴ میلیارده افغانۍ په پرتله ۹.۷۸ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

( ۵ ) جدول: د ۱۳۹۸ کال منظوره شوې او حقیقي عملي شوې بودجه او د ۱۳۹۹ مالي کال وړاندیز شوې بودجه

| | د ۱۳۹۸ مالي کال منظوره شوې بودجه | | د ۱۳۹۸ مالي کال د پای عملي شوې حقیقي بودجه | | د ۱۳۹۹ مالي کال وړاندیز شوې بودجه | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | میلیارده افغانی | میلیارده ډالر | میلیارده افغانی | میلیارده ډالر | میلیارده افغانی | میلیارده ډالر |
| ټولیزه اصلي بودجه | ۳۹۹.۴۱ | ۵.۳۶ | ۴۱۲.۰۳ | ۵.۵۳ | ۴۲۸.۳۸ | ۵.۷۵ |
| عادي بودجه | ۲۷۵.۲۲ | ۳.۶۹ | ۲۷۲.۸۷ | ۳.۶۶ | ۲۸۹.۱۱ | ۳.۸۸ |
| پراختیایي بودجه | ۱۲۴.۱۹ | ۱.۶۶ | ۱۳۹.۱۶ | ۱.۸۷ | ۱۳۹.۲۷ | ۱.۸۷ |
| ټولیزه عواید | ۳۸۷.۰۲ | ۵.۲۰ | ۴۰۰.۸۰ | ۵.۳۸ | ۴۱۵.۹۸ | ۵.۵۹ |
| کورني عواید | ۱۸۸.۰۰ | ۲.۵۲ | ۲۰۸.۴۱ | ۲.۸۰ | ۲۰۸.۹۰ | ۲.۸۰ |
| بهرنی مرستې | ۱۹۹.۰۲ | ۲.۶۷ | ۱۹۲.۳۸ | ۲.۵۸ | ۲۰۷.۰۸ | ۲.۷۸ |

**په ۱۳۹۸ مالي کال کې د بودجې وضعیت:**

د ۱۳۹۸ مالي کال تر لیندۍ میاشتې پورې ملي بودجه ۳۹۹.۴۱ میلیارده افغانۍ او عملي شوې بودجه ۴۱۲.۰۳ میلیارده افغانۍ ته رسیږي.

| | |
|---|---|
| عادي بودجه | اټکل شوې ۲۷۵.۲۲ میلیارده افغانۍ، عملې شوې ۲۷۲.۸۷ ملیارده افغانۍ |
| پراختیایي بودجه | اټکل شوې ۱۲۴.۱۹ میلیارده افغانۍ، عملې شوې ۱۳۹.۱۶ میلیارده افغانۍ |
| کورني عواید | اټکل شوې ۱۸۸.۰۰ میلیارده افغانۍ، عملي شوې ۲۰۸.۴۱ میلیارده افغانۍ |
| بهرنۍ مرستې | اټکل شوې ۱۹۹.۰۲ میلیارده افغانۍ، عملي شوې ۱۹۲.۳۸ میلیارده افغانۍ |

د ۱۳۹۹ مالي کال د اټکل شوې بودجې کچه ۴۲۸.۳۸ میلیارده افغانۍ چې معادل یې ۵.۷۵ میلیارده امریکایي ډالره کیږي، رسیږي.

| | |
|---|---|
| د عادي بودجې وړاند وینه | ۲۸۹.۱۱ میلیارده افغانۍ، معادل یې ۳.۸۸ میلیارده امریکایي ډالره |
| د پراختیایي بودجې وړاند وینه | ۱۳۹.۲۷ میلیارده افغانۍ، معادل یې ۱.۸۷ میلیارده امریکایي ډالره |
| د کورنیو عوایدو وړاند وینه | ۲۰۸.۹۰ میلیارده افغانۍ، معادل یې ۲.۸۰ میلیارده امریکایي ډالره |
| د بهرنیو مرستو وړاند وینه | ۲۰۷.۰۸ میلیارده افغانۍ، معادل یې ۲.۷۸ میلیارده امریکایي ډالره |

# د بانکي نظام د وضعیت او کړنو شننه

## د بانکي نظام د وضعيت او کړنو شننه

د هېواد بانکي سکتور د ناخالصو داخلي توليداتو ۲۳.۵۸ سلنه جوړوي او له ۱۳ جواز لرونکو بانکونو څخه جوړ شوی دی. د دې بانکونو له ډلې درې دولتي بانکونه، اوه خصوصي بانکونه، يو اسلامي بانک او پاتې دوه د بهرنيو بانکونو نماينده ګی دي.

۱. بانکي نظام ته لنډه کتنه

(۶) جدول:په لنډه توګه د بانکي نظام د مهمو شاخصونو بدلونونه او د وروستنيو برخو تفصيل وړاندې کوي

| شاخصونه | کلني بدلونونه | | | ربعوار بدلونونه | | | کتنې (کلني بدلونونه) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | شمېرې په ميليون افغانيو | | | | | | |
| | دسمبر ۲۰۱۸ | دسمبر ۲۰۱۹ | د بدلون سلنه | سپتمبر ۲۰۱۹ | دسمبر ۲۰۱۹ | د بدلون سلنه | |
| ټوليزه شتمنی | ۳۱۵،۶۶۶ | ۳۱۳،۰۶۹ | -۰.۸۲٪ | ۲۹۸،۳۳۴ | ۳۱۳،۰۶۹ | ۴.۹۴٪ | دا شاخص د روان کال په اوړدو کې د تېر مالي کال په پرتله ۲.۵۹ ميلیارده افغانۍ کموالی ښکاره کوي |
| ټوليزه ناخالصه پورونه | ۴۱،۴۳۵ | ۴۱،۱۵۰ | -۰.۶۹٪ | ۴۲،۳۷۳ | ۴۱،۱۵۰ | -۲.۸۹٪ | د بانکي نظام ناخالصه پورونه د روان کال په اوږدو کې د تېر مالي کال په پرتله ۲۸۵ ميليونه افغانۍ راکم شوي دي |
| د بانکونو تر منځ ناخالص طلبات | ۹۴،۷۶۶ | ۸۳،۴۶۶ | -۱۱.۹۲٪ | ۸۵،۱۲۶ | ۸۳،۴۶۶ | -۱.۹۵٪ | د بانکونو تر منځ د ناخالصو طلباتو شاخص د تېر کال په پرتله ۱۱.۳۰ ميليارده افغانۍ کموالی ثبت کړی دی |
| په بيه لرونکو پاڼو کې پانګونه | ۲۲،۰۸۲ | ۳۱،۷۴۳ | ۴۳.۷۵٪ | ۳۰،۵۲۹ | ۳۱،۷۴۳ | ۳.۹۸٪ | د پانګونې شاخص په روان کال کې د تېر کال په پرتله ۹.۶۶ ميليارده افغانۍ زياتوالی ښکاره کوي |
| له نېټې اوښتي پورونه | ۱۰،۷۳۸ | ۱۲،۹۰۸ | ۲۰.۲۱٪ | ۱۳،۵۸۱ | ۱۲،۹۰۸ | -۴.۹۶٪ | له نېټې اوښتي پورونه د تېر کال په پرتله ۲.۱۷ ميليارده افغانۍ زيات شوي دي |
| معکوس ډلبندي شوي پورونه | ۶،۱۵۳ | ۷،۳۶۶ | ۱۹.۷۱٪ | ۸،۱۸۶ | ۷،۳۶۶ | -۱۰.۰۲٪ | دې شاخص په روان کال کې د تېر کال په پرتله ۱.۲۱ ميليارده افغانۍ وده کړې ده |
| صعب الحصول پورونه | ۳،۷۲۵ | ۵،۹۵۶ | ۵۹.۹۰٪ | ۵،۵۷۳ | ۵،۹۵۶ | ۶.۸۷٪ | صعب الحصوله پورونه په روان کال کې ۲.۲۳ ميليارده افغانۍ زيات شوي دي |
| ټوليزه امانتونه | ۲۷۳،۳۳۵ | ۲۶۶،۵۷۶ | -۲.۴۷٪ | ۲۵۳،۹۱۹ | ۲۶۶،۵۷۶ | ۴.۹۸٪ | د دې سکتور ټوليزه امانتونه د روان کال په اوږدو کې ۶.۷۵ ميليارده افغانۍ کموالی ښکاره کوي |
| ټوليزه پوراينې | ۲۸۱،۳۴۵ | ۲۷۷،۳۶۵ | -۱.۴۱٪ | ۲۶۳،۶۴۱ | ۲۷۷،۳۶۵ | ۵.۲۱٪ | دا شاخص د روان کال په اوږدو کې د تېر کال په پرتله ۳.۹۸ ميليارده افغانۍ کم شوی دی |
| ټوليزه مالي پانګه | ۳۴،۳۲۰ | ۳۵،۷۰۴ | ۴.۰۳٪ | ۳۴،۶۹۴ | ۳۵،۷۰۴ | ۲.۹۱٪ | مالي پانګه د روان کال په اوږدو کې ۱.۳۸ ميليارده افغانۍ زياته شوې ده |
| مقرراتي پانګه | ۳۰،۴۱۷ | ۳۱،۴۲۸ | ۳.۳۲٪ | ۳۰،۵۷۰ | ۳۱،۴۲۸ | ۲.۸۰٪ | دا شاخص ۱.۰۱ ميليارده افغانۍ زيات شوی دی |
| د خطر پر بنسټ عيـاري شـوې شتمنی | ۱۱۷،۷۴۴ | ۱۲۱،۱۹۶ | ۲.۹۳٪ | ۱۱۸،۴۵۳ | ۱۲۱،۱۹۶ | ۲.۳۲٪ | دا شاخص د تېر کال په پرتله ۳.۴۵ ميليارده افغانۍ زياتوالی ښکاره کوي |
| متراکمه خالصه ګټه/زيان | ۲،۳۷۸ | ۲،۶۸۳ | ۱۲.۸۳٪ | ۱،۴۲۲ | ۲،۶۸۳ | ۸۸.۶۷٪ | د روان کال ټوليزه ګټه ۳۰۵ ميليونه افغانۍ زياته شوې ده |

د هېواد د بانکي نظام د کړنو هر اړخیزه راپور په لاندې توګه وړاندې کیږي.

(۷) جدول: په هېواد کې د بانکي نمایندګیو شمېر او نورې شته بانکي آسانتیاوې وړاندې کوي:


| بانکي آسانتیاوې | د ۲۰۱۹ دسمبر | د ۲۰۱۸ دسمبر | بدلونونه | د بدلون سلنه |
|---|---|---|---|---|
| د بشپړو خدمتونو وړاندې کوونکې نماینده ګۍ | ۲۰۵ | ۲۰۳ | ۲ | ۰.۹۹٪ |
| د محدودو خدمتونو وړاندې کوونکې نماینده ګۍ | ۲۰۵ | ۲۱۲ | (۷) | - ۳.۳۰٪ |
| د صرافی اتومات ماشینونه | ۳۵۹ | ۳۴۱ | ۱۸ | ۵.۲۸٪ |
| د خرڅلاو ځایونه (POS) | ۱۲۲ | ۱۷۰ | (۴۸) | - ۲۸.۲۴٪ |
| ۲۱، ۲۴ او ۲۵ ډوله آسانتیاوې | ۱۰۴ | ۸۷ | ۱۷ | ۱۹.۵۴٪ |
| د اعتبار کارت (کریډیټ کارت) | ۱٬۲۹۴ | ۲٬۰۰۸ | (۷۱۴) | - ۳۵.۵۶٪ |
| د پوراینې کارت (ډبټ کارت) | ۶۸۸٬۷۵۵ | ۵۰۶٬۵۵۷ | ۱۸۲٬۱۹۸ | ۳۵.۹۷٪ |
| د صرافی د اتوماتو ماشینونو کارت | ۲۵۲٬۲۷۰ | ۲۲۶٬۰۶۶ | ۲۶٬۲۰۴ | ۱۱.۵۹٪ |
| ماستر کارت | ۱۱٬۶۰۴ | ۱٬۵۶۶ | ۱۰٬۰۳۸ | ۶۴۱.۰۰٪ |
| د مخکې ورکړې کارت | ۲۵٬۵۵۵ | ۵٬۰۸۸ | ۲۰٬۴۶۷ | ۴۰۲.۲۶٪ |
| د ویب سرفر کارت | ۴٬۶۶۰ | ۱۲٬۸۸۷ | (۸٬۲۲۷) | - ۶۳.۸۴٪ |
| د پور حسابونو شمېر | ۶۶٬۳۰۲ | ۷۲٬۴۵۷ | (۶٬۱۵۵) | - ۸.۴۹٪ |
| د پوروړو تعداد | ۶۶٬۲۲۱ | ۷۲٬۴۵۵ | (۶٬۲۳۴) | - ۸.۶۰٪ |
| د پور د هغو حسابونو شمېر چې د پوروړي شرکت رئیسه یا مرستیاله میرمنه وي | ۱۴٬۲۱۰ | ۱۵٬۵۹۳ | (۱٬۳۸۳) | - ۸.۸۷٪ |
| د امانت ایښودونکو شمېر | ۴٬۰۱۲٬۹۲۸ | ۳٬۶۸۷٬۲۰۶ | ۳۲۵٬۷۲۱ | ۸.۸۳٪ |
| د بیلانس لرونکو حسابونو شمېر | ۳٬۳۱۶٬۶۸۷ | ۳٬۱۸۲٬۰۴۴ | ۱۳۴٬۶۴۲ | ۴.۲۳٪ |
| د کار کوونکو تعداد (داخلي او بهرني) | ۹٬۶۰۹ | ۹٬۴۲۲ | ۱۸۷ | ۱.۹۸٪ |

## ۲- د بانکي نظام ټولیزه شتمنی

د بانکي نظام ټولیزه شتمنۍ د ۱۳۹۸ کال د لیندۍ په میاشت (د ۲۰۱۹ دسمبر) کې ۳۱۳.۰۶ میلیارده افغانۍ ته رسیږي چې د تېرې مودې (۱۳۹۷ لیندۍ) په پرتله ۰.۸ سلنه کموالی ښکاره کوي. د بانکي نظام په ټولیزه شتمنیو کې د کموالي بنسټیز لامل د امانتونو ویستل ګڼل کیږي چې د مشتریانو په جاري امانتونو کې لیدل کیږي. نورو لاملونو لکه د یوه بهرني بانک د څانګې تړل او د ونډو د ګټې ورکول هم ټولیزه شتمنۍ کمې کړي دي.

د ټولیزه شتمنیو د جزئیاتو په څېړلو سره دا څرګندیږي چې د بانکونو تر منځ په طلباتو (ډالري حسابونو)، د افغانستان بانک په پانګه ایزو پانړو، د اجباري زیرمو په حسابونو او په خالصو (ډالري) پورونو کې کموالی تر سترګو کیږي.

(۸) ګراف: د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو د مهمو اجزاوو بهیر




څرنګه چې په پورته ګراف کې لیدل کیږي، د بانکي نظام د شتمنیو بنسټیزې برخې د خزانې نغدې پیسې او په د افغانستان

بانک بانـدې طلبات (۴۱.۹۷ سلنه)، د بانکونو تر منځ طلبات (۲۶.۶۶ سلنه)، ناخالص پورونه (۱۳.۱۴ سلنه) او په بیه لرونکو پاڼو کې پانګونه (۱۰.۱۴ سلنه) دي.

(۸) جدول: په ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ کلنو کې د شتمنیو د کیفیت د شاخصونو پرتله ښکاره کوي


| د شتمنیو د کیفیت شاخصونه | دسمبر ۲۰۱۸ | مارچ ۲۰۱۹ | جون ۲۰۱۹ | سپتمبر ۲۰۱۹ | دسمبر ۲۰۱۹ |
|---|---|---|---|---|---|
| په ټولیزه شتمنیو کې د نغدو پیسو او پر افغانستان بانک د طلباتو (د پانګه ایزو پاڼو پرته) نسبت | ۳۱.۹۶٪ | ۳۲.۱۶٪ | ۳۰.۷۵٪ | ۳۰.۵۵٪ | ۳۳.۴۶٪ |
| په ټولیزه شتمنیو کې د پانګه ایزو پاڼو نسبت | ۱۰.۹۲٪ | ۸.۷۷٪ | ۸.۶۱٪ | ۸.۶۵٪ | ۸.۵۱٪ |
| په ټولیزه شتمنیو کې د بانکونو تر منځ د طلباتو (داخلي) نسبت | ۱.۰۱٪ | ۱.۳۱٪ | ۱.۳۵٪ | ۱.۷۶٪ | ۱.۶۳٪ |
| په ټولیزه شتمنیو کې د بانکونو تر منځ د طلباتو (بهرنی) نسبت | ۲۸.۹۰٪ | ۲۸.۶۷٪ | ۲۹.۰۲٪ | ۲۶.۵۴٪ | ۲۵.۰۴٪ |
| د مشتریانو په امانتونو کې د ناخالصو پورونو نسبت | ۱۵.۴۵ ٪ | ۱۶.۶۲ ٪ | ۱۶.۹۹ ٪ | ۱۷.۰۲ ٪ | ۱۵.۷۲ ٪ |
| په ټولیزه ناخالصو پورونو کې د پورونو د خسارې د جبران د زیرمو نسبت | ۹.۸۳٪ | ۱۰.۶۷٪ | ۱۰.۹۳٪ | ۱۲.۲۵ ٪ | ۱۲.۲۱ ٪ |
| په شتمنیو کې د پورونو د خسارې د جبران د زیرمو نسبت | ۱.۲۹ ٪ | ۱.۴۹ ٪ | ۱.۵۵ ٪ | ۱.۷۴ ٪ | ۱.۶۰ ٪ |
| په مقرراتي پانګه کې د اړوندو اشخاصو د پورونو نسبت | ۱.۱۰ ٪ | ۰.۵۳ ٪ | ۱.۲۵ ٪ | ۱.۲۶ ٪ | ۱.۲۷ ٪ |
| په ټولیزه شتمنیو کې د متصرف شویو شتمنیو نسبت | ۰.۲۸ ٪ | ۰.۳۰ ٪ | ۰.۳۰ ٪ | ۰.۳۳ ٪ | ۰.۳۵ ٪ |
| په ټولیزه ناخالصو پورونو کې د متصرف شویو شتمنیو نسبت | ۲.۱۳ ٪ | ۲.۱۴ ٪ | ۲.۱۵ ٪ | ۲.۳۰ ٪ | ۲.۶۴ ٪ |
| په ټولیزه شتمنیو کې د صعب الحصوله پورونو نسبت | ۱.۱۸ ٪ | ۱.۵۳ ٪ | ۱.۸۲ ٪ | ۱.۸۷ ٪ | ۱.۹۰ ٪ |

## ۲.۱ ټولیزه پورونه

د بانکي نظام ټولیزه ناخالصه پورونه د ۱۳۹۸ کال د لیندۍ (۲۰۱۹ دسمبر) په میاشت کې ۴۱.۱۵ میلیارده افغانیو ته رسیږي چې د تیرې مودې (۱۳۹۷ لیندۍ) په پرتله ۰.۶۹ سلنه کموالی ښکاره کوي چې د دې کموالي بنسټیز لاملونه د پورونو حذفول او تصفیه ګڼل کیږي.

باید وویل شي چې د پورونو د ورکولو په پروسه کې خصوصي بانکونه د ټولیزه ناخالصه پورونو د ۸۸.۷۰ سلنې ونډې په درلودلو سره لومړی مقام لري، له هغې وروسته دولتي بانکونه د ۱۰.۵۶ سلنې ونډې په درلودلو دویم مقام او د بهرنیو بانکونو نماینده ګۍ د ۰.۷۴ سلنې ونډې په درلودلو سره د هیواد د اقتصادي مشارکت د لست په پای کې ځای لري.

(۹) ګراف: د بانکي نظام د ناخالصو پورونو بهیر ښکاره کوي




د بانکي نظام ټولیزه ناخالص پورونه د ټولیزه امانتونو ۱۵.۴۴ سلنه او د دې نظام د ټولیزه شتمنیو ۱۳.۱۴ سلنه جوړوي.


(۹) جدول: د اسعارو په بنسټ د بانکي نظام ټولیزه پورونه


| د اسعارو په بنسټ د بانکي نظام ټولیزه پورونه (په میلیون افغانی) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اسعار | دسمبر ۲۰۱۸ | مارچ ۱۹ | جون ۱۹ | سپتمبر ۱۹ | دسمبر ۱۹ |
| افغانی | ۱۷،۰۷۱ | ۱۸،۸۶۴ | ۲۰،۲۲۷ | ۲۰،۴۳۹ | ۲۰،۹۱۲ |
| ډالري | ۲۴،۲۴۷ | ۲۲،۹۵۵ | ۲۳،۶۸۵ | ۲۱،۸۵۱ | ۲۰،۱۷۱ |
| نور اسعار | ۱۱۷ | ۱۱۷ | ۱۰۱ | ۸۳ | ۶۸ |

## ۲.۲: د پورونو کیفیت

د بانکي نظام د پورونو کیفیت د اندیښنې وړ دی. څرنګه چې صعب الحصول پورونه د ټولیزه ناخالص پورونو ۱۴.۴۷ سلنه جوړوي او د ۲۰۱۸ زیږدیز کال د دسمبر میاشتې را پدېخوا مخ په زیاتېدو دي. د ۱۴.۴۷ سلنه صعب الحصولو پورونو له ډلې، ۱۳.۰۹ سلنه په څلورو بانکونو پورې تړاو لري او دا بانکونه د بانکي نظام ۶۶.۱۹ سلنه ټولیزه ناخالصه پورونه او ۳۷.۵۷ سلنه مقرراتي پانګه جوړوي.

(۱۰ او۱۱) ګراف: د بانکي نظام د ناخالصو پورونو او له نیتې اوښتو پورونو بهیر




د بانکي ډلې له تحلیلونو دا څرګندیږي چې ۹۹ سلنه ټولیزه صعب الحصوله پورونه، خصوصي بانکونو پورې تړاو لري، حال دا چې دولتي بانکونه د ټولیزه صعب الحصوله پورونو یوازې ۱ سلنه جوړوي.

(۱۰) جدول: د پورونو د کیفیت شاخصونه وړاندې کوي

| د پورونو د کیفیت شاخصونه | دسمبر ۲۰۱۸ | مارچ ۲۰۱۹ | جون ۲۰۱۹ | سپتمبر ۲۰۱۹ | دسمبر ۲۰۱۹ |
|---|---|---|---|---|---|
| په ناخالصو پورونو کې له نیتې څخه د اوښتو پورونو نسبت | ۲۵.۹۲٪ | ۳۰.۱۸٪ | ۲۵.۴۱٪ | ۳۲.۰۵٪ | ۳۱.۳۷٪ |
| په ناخالصو پورونو کې د معکوس ډلبندي شویو پورونو نسبت | ۱۴.۸۵٪ | ۱۵.۲۹٪ | ۱۶.۸۸٪ | ۱۹.۳۲٪ | ۱۷.۹۰٪ |
| په ناخالصو پورونو کې د صعب الحصولو پورونو نسبت | ۸.۹۹٪ | ۱۰.۹۱٪ | ۱۲.۸۰٪ | ۱۳.۱۵٪ | ۱۴.۴۷٪ |
| په مقرراتي پانګه کې د صعب الحصولو پورونو نسبت | ۱۲.۲۵٪ | ۱۵.۰۶٪ | ۱۷.۹۱٪ | ۱۸.۲۳٪ | ۱۸.۹۵٪ |
| له نیتې څخه په اوښتو پورونو کې د غیر معیاري پورونو د خساري د جبران د زیرمې نسبت | ۳۳.۱۲٪ | ۳۱.۱۸٪ | ۳۸.۵۶٪ | ۳۴.۸۰٪ | ۳۵.۵۰٪ |
| په صعب الحصوله پورونو کې د غیر معیاري پورونو د خساري د جبران د زیرمې نسبت | ۷۳.۰۲٪ | ۶۹.۳۹٪ | ۶۵.۲۴٪ | ۶۸.۲۴٪ | ۶۶.۳۷٪ |
| په معیاري پورونو کې د معیاري پورونو د خساري د جبران زیرمې نسبت | ۱.۶۸٪ | ۱.۸۰٪ | ۱.۵۲٪ | ۱.۶۲٪ | ۱.۵۶٪ |
| د لومړی کچې په پانګې کې د صعب الحصوله پورونو د خساري د جبران د زیرمې نسبت | ۳.۴۹٪ | ۴.۵۳٪ | ۶.۳۳٪ | ۵.۹۲٪ | ۶.۷۵٪ |
| په ټولیزه خالصو پورونو کې د خالصو صعب الحصولو پورونو نسبت | ۲.۶۹٪ | ۳.۷۴٪ | ۵.۰۰٪ | ۴.۷۶٪ | ۵.۵۴٪ |
| په ټولیزه ناخالصو پورونو کې د خالصو صعب الحصولو پورونو نسبت | ۲.۴۳٪ | ۳.۳۴٪ | ۴.۴۵٪ | ۴.۱۸٪ | ۴.۸۷٪ |


**۲.۳: د پور ډولونه**

بانکي نظام د پورونو بېلابېل ډولونه لکه د اضافه برداشت، موده ایز او اسلامي پورونه وړاندې کوي چې د اضافه برداشت پورونه د دې سکتور د ټولیزه پورونو ۵۰ سلنې جوړوي.

**۲.۴: سکتوري پورونه**

د سکتوري پورونو د ورکړې بهیر دا ښکاره کوي چې د سوداګرۍ سکتور د ۴۴.۳۵ سلنې ونډې (چې ۱۱.۳۰ سلنه یې روغنیات او پټرولیم جوړوي) په درلودلو سره لومړی مقام او د خدمتونو سکتور د ۲۲.۱۵ سلنې ونډې چې ۶.۵۷ سلنه یې په مخابراتو پورې تړاو لري، په دویم مقام کې ځای نیولی. تولیدات او صنعت د ۱۱ سلنې، زیر بنائي پروژې د ۸.۷۵ سلنې او ساختماني سکتور د ۷.۵۱ سلنې ونډو په درلودلو سره په ترتیب سره دریم، څلورم او پنځم مقام کې ځای لري.

(۱۲) ګراف: د بانکي نظام د پورونو سکتوري تمرکز




**۲.۵: د اړوندو اشخاصو پورونه**

په بانکي نظام کې د اړوندو اشخاصو ټولیزه پورونه ۳۹۸ میلیونه افغانیو ته رسیږي چې د ټولیزه ناخالصو پورونو ۰.۹۷ سلنه او د مقرراتي پانګې ۱.۲۷ سلنه جوړوي. د دې ترڅنګ د اړوندو اشخاصو پورونه د اړوندې مقررې له ټاکل شویو حدودو (په انفرادي ډول د مقرراتي پانګې ۵ سلنه او په ټولیزه توګه د مقرراتي پانګې ۲۵ سلنه) څخه په ټیټه کچه کې واقع دي.

**۲.۶: متصرف شوي شتمنی**

د بانکي نظام ټولیزه متصرف شوي شتمنی ۱.۰۸ میلیارده افغانیو ته رسیږي چې د ټولیزه شتمنیو ۰.۳۵ سلنه جوړوي او په ۵ بانکونو پورې تړاو لري.


**۳: سیالیت**

د هېواد بانکي نظام د کافي سیالو شتمنیو (نغدي پیسې او د نغدو پیسو معادل) درلودونکی دی او د ټولو بانکونو د سیالیت نسبتونه د محاسبې او د سیالیت د اداري په مقرره کې له ټاکل شوي تر ټولو ټیټ حد (د سیالیت پراخه نسبت ۱۵ سلنه او د سیالیت چټکه نسبت ۲۰ سلنې) څخه لوړ دی. د بانکي نظام د سیالیت پراخه نسبت د منځني ارزښت له پلوه ۵۵.۸۹ سلنه دی.

**۳.۱: سیالې شتمنی**

د بانکوالۍ نظام کافي سیالې شتمنی لري. سیالې شتمنی (نغدې پیسې او د نغدو پیسو معادل) د ټولیزه شتمنیو ۶۸.۶۳ سلنه او د لنډ مهاله پوراینو ۸۷.۱۲ سلنه جوړوي.

(۱۳) ګراف: د بانکي نظام د سیالو شتمنیو او ټولیزه امانتونو بهیر وړاندې کوي



(۱۱) جدول: د بانکي نظام د سیالیت شاخصونه وړاندې کوي:

| د سیالیت شاخصونه | دسمبر ۲۰۱۸ | مارچ ۲۰۱۹ | جون ۲۰۱۹ | سپتمبر ۲۰۱۹ | دسمبر ۲۰۱۹ |
|---|---|---|---|---|---|
| په ټولیزه امانتونو کې د ناخالصو پورونو نسبت | ۱۵.۱۶ ٪ | ۱۶.۲۷ ٪ | ۱۶.۵۶ ٪ | ۱۶.۶۹ ٪ | ۱۵.۴۴ ٪ |
| په شتمنیو کې د ناخالصو پورونو نسبت | ۱۳.۱۳ ٪ | ۱۴.۰۰ ٪ | ۱۴.۲۲ ٪ | ۱۴.۲۰ ٪ | ۱۳.۱۴ ٪ |
| په لنډ مهاله پوراینو کې د سیالو شتمنیو نسبت | ۹۰.۶۸ ٪ | ۸۹.۸۸ ٪ | ۸۹.۰۶ ٪ | ۸۶.۵۶ ٪ | ۸۷.۱۲ ٪ |
| په لنډ مهاله پوراینو کې د اوچت سیالیت لرونکو شتمنیو نسبت | ۳۶.۶۹ ٪ | ۳۶.۳۵ ٪ | ۳۸.۱۹ ٪ | ۳۶.۸۹ ٪ | ۳۸.۳۶ ٪ |
| په ټولیزه شتمنیو کې د سیالو شتمنیو نسبت | ۷۲.۹۰ ٪ | ۷۰.۹۲ ٪ | ۶۹.۹۷ ٪ | ۶۷.۷۳ ٪ | ۶۸.۶۳ ٪ |
| په ټولیزه امانتونو کې په بهرنیو پیسو د سپارل شویو امانتونو نسبت | ۷۰.۵۶ ٪ | ۷۱.۲۸ ٪ | ۷۲.۹۶ ٪ | ۷۰.۵۷ ٪ | ۶۹.۰۸ ٪ |
| د مشتریانو په امانتونو کې د ناخالصو پورونو نسبت | ۱۵.۴۵ ٪ | ۱۶.۶۲ ٪ | ۱۶.۹۹ ٪ | ۱۷.۰۲ ٪ | ۱۵.۷۲ ٪ |
| په ټولیزه پوراینو کې د مفرو پوراینو نسبت | ۰.۷۷ ٪ | ۰.۷۸ ٪ | ۱.۳۳ ٪ | ۰.۹۸ ٪ | ۰.۹۱ ٪ |
| په ټولیزه امانتونو او مالي پانګه کې د داخلي پورونو نسبت | ۱۳.۴۷ ٪ | ۱۴.۳۶ ٪ | ۱۴.۶۰ ٪ | ۱۴.۶۸ ٪ | ۱۳.۶۱ ٪ |

### ۳.۲: الزامي زیرمې

بانکي مؤسسې د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د امانتونو لپاره د الزامي زیرمو د مقررې د شرایطو سره برابرې دي. همدا ډول اوسنۍ ټولیزه الزامي زیرمې د افغانیو امانتونو ۸ سلنه او د ډالرې او یورو امانتونو ۱۰ سلنه دي.


(۱۴) ګراف: د بانکي نظام د الزامي زیرمو او ټولیزه امانتونو بهیر ښکاره کوي




### ۳.۳: د بانکونو تر منځ طلبات

د بانکونو تر منځ ناخالصه طلبات جاري او موده ایزه امانتونه او بانکونو او مالي مؤسسو ته پورونه را نغاړي چې د دې سکتور د شتمنیو دویمه لویه برخه جوړوي او ډیره برخه یې په بهرنیو بانکونو کې جاري او موده ایز امانتونه جوړوي.

(۱۵) ګراف: د بانکي نظام د بانکونو تر منځ د طلباتو او ټولیزه شتمنیو بهیر ښکاره کوي



**۳.۴:** له بهرنيو بانکونو سره امانتونه


په بهرنيو بانکونو کې ايښودل شوي ټوليزه امانتونه د بانکي نظام د ټوليزه شتمنيو ۲۵ سلنه او د ټوليزه امانتونو ۳۰ سلنه جوړوي. په بيه لړونکو پاڼو کې د پانګونې له زياتوالي سره د هېواد څخه د بهر پانګونې ونډه د بانکي نظام ټوليزه شتمنۍ ۳۵ سلنې او ټوليزه امانتونه ۴۱ سلنې ته رسيږي او د دې ښکارندويي کوي چې د جذب شويو وجوهو لويه برخه د هېواد څخه بهر په پانګه اچول شوې ده، حال دا چې د ناخالصو پورونو ونډه د بانکي نظام د ټوليزه شتمنيو ۱۳ سلنه او د امانتونو ۱۵ سلنه جوړوي.

**۳.۵:** ټوليزه امانتونه


امانتونه چې د بانکي نظام د تمويل بنسټيزه سرچينه بلل کېږي د ۲۰۱۹ کال په دسمبر مياشت کې ۲۶۶.۵۷ ميلیارده افغانيو ته رسيږي چې د ۲۰۱۸ زيږديز کال د دسمبر مياشتې په پرتله ۲.۴۷ سلنه کموالی ښکاره کوي او دا کموالی د جاري امانتونو د ويستلو له کبله را منځ ته شوی دی.


(۱۶ او ۱۷) ګرافونه: د حسابونو د ډولونو پر بنسټ د بانکي نظام ټوليزه امانتونه او د اسعارو پر بنسټ د بانکي نظام ټوليزه امانتونه ښکاره کوي




(۱۸ او ۱۹) ګرافونه: د امانتونو په جذب کې د بانکونو ونډه او د امانت ايښودونکو پر بنسټ ټوليزه امانتونه



خرنګه چې پورته لیدل کیږي، د بانکي نظام د امانتونو لویه برخه حقوقي یا شرکتي امانتونه (۴۹.۴۷ سلنه) جوړوي او له هغو وروسته انفرادي امانتونه ۴۳.۸۸ سلنې، دولتي امانتونه ۴.۸۳ سلنې او د مالي مؤسسو امانتونه ۱.۸۳ سلنې ته رسیږي.

سربېره پر دې، خصوصي بانکونه د بانکي نظام د ټولیزه امانتونو لویه ونډه ( ۶۸.۲۹ ) سلنه جوړوي او د بانکي نظام په ټولیزه امانتونو کې د دولتي بانکونو او د بهرنیو بانکونو د نماینده ګیو ونډې په ترتیب سره ۲۶.۲۷ سلنې او ۵.۴۴ سلنې ته رسیږي.


(۱۲) جدول: د امانتونو او اسعارو د ډول پر بنسټ د بانکي نظام ټولیزه امانتونه (په میلیون افغانۍ) وړاندې کوي

| د امانتونو او اسعارو د ډول پر بنسټ د بانکي سکتور ټولیزه امانتونه (په میلیون افغانیو) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اقلام | ۲۰۱۸ دسمبر | ۲۰۱۹ مارچ | ۲۰۱۹ جون | ۲۰۱۹ سپتمبر | ۲۰۱۹ دسمبر | د کلني بدلون سلنه |
| جاري | ۲۰۳،۳۶۲ | ۱۸۵،۹۲۹ | ۱۹۱،۰۰۵ | ۱۸۱،۸۷۷ | ۱۹۴،۱۰۹ | – ۴.۵۵ ٪ |
| موده ایزه | ۱۹،۵۴۶ | ۲۱،۳۹۲ | ۲۲،۵۵۲ | ۲۰،۴۶۴ | ۱۹،۹۶۱ | ۲.۱۲ ٪ |
| سپما | ۵۰،۴۲۷ | ۵۰،۴۴۹ | ۵۲،۲۶۰ | ۵۱،۵۷۸ | ۵۲،۵۰۶ | ۴.۱۲٪ |
| **ټولیزه امانتونه** | **۲۷۳،۳۳۵** | **۲۵۷،۷۷۱** | **۲٦٥،۸۱۸** | **۲۵۳،۹۱۹** | **۲٦٦،٥۷٦** | **– ۲.٤۷ ٪** |
| افغانۍ | ۸۰،۴۵۶ | ۷۴،۰۴۴ | ۷۱،۸۸۱ | ۷۴،۷۳۸ | ۸۲،۴۱۵ | ۲.۴۳٪ |
| ډالري | ۱۷۴،۸۸۶ | ۱۶۶،۵۳۲ | ۱۷۶،۲۶۴ | ۱۶۴،۲۵۴ | ۱۷۰،۸۳۹ | –۲.۳۱٪ |
| نور اسعار | ۱۷،۹۹۳ | ۱۷،۱۹۵ | ۱۷،۶۷۳ | ۱۴،۹۲۶ | ۱۳،۳۲۳ | – ۲۵.۹۵٪ |

**۴: پانګه**

د بانکونو د راپورونو له مخې، بانکي نظام کافي پانګه لري چې د بانکي نظام د ټولیزه شتمنیو ۱۱.۴۰ سلنه جوړوي. د بانکي نظام مالي پانګه په روانه میاشت کې ۳۵.۷۰ میلیارده افغانیو ته رسیږي او د تیرې مودې (د ۲۰۱۸ زیږدیز کال د دسمبر میاشتې) په پرتله ۴.۰۳ سلنه زیاته شوې ده چې لوی لاملونه یې د روان کال ګټه او له ټرلو شرکتونو څخه د ونډې د سود ترلاسه کول ګڼل کیږي. په همدې ډول د بانکي نظام مقرراتي پانګه ۳۱.۴۲ میلیارده افغانیو ته رسیږي چې د تېر کال په پرتله ۳.۳۲ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي.

(۲۰) ګراف: د بانکي نظام د مقرراتي پانګې بهیر ښکاره کوي





(۱۳) جدول: د پانګې د کفایت نسبت یا شاخص ښکاره کوي

| د پانګې د کفایت شاخصونه | ۲۰۱۸ دسمبر | ۲۰۱۹ مارچ | ۲۰۱۹ جون | ۲۰۱۹ سپتمبر | ۲۰۱۹ دسمبر |
|---|---|---|---|---|---|
| د خطر پر بنسټ د عیارې شوې شتمنۍ د مقرراتي پانګې نسبت | ۲۵.۸۳ ٪ | ۲۶.۹۹ ٪ | ۲۶.۵۱ ٪ | ۲۵.۸۱ ٪ | ۲۵.۹۳٪ |
| د خطر پر بنسټ د عیارې شوې شتمنۍ د لومړۍ سطحې د پانګې نسبت | ۲۴.۴۹ ٪ | ۲۷.۴۵ ٪ | ۲۶.۰۹٪ | ۲۵.۲۴ ٪ | ۲۴.۵۰ ٪ |
| اتکائي نسبت | ۹.۱۳٪ | ۱۰.۳۱ ٪ | ۱۰.۰۰٪ | ۱۰.۰۲ ٪ | ۹.۴۸٪ |
| د ټولیزه شتمنیو د مالي پانګې نسبت | ۱۰.۸۷ ٪ | ۱۱.۴۴ ٪ | ۱۱.۴۹ ٪ | ۱۱.۶۳ ٪ | ۱۱.۴۰٪ |

### ۵: د بانکي نظام ګټه

بانکي نظام د ۲۰۱۹ زیږدیز کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۲.۶۸ میلیارده افغانۍ خالصه ګټه کړې، حال دا چې په تېره ورته دوره کې یې ۲.۳۷ میلیارده افغانۍ خالصه ګټه کړې وه چې په روان کال کې د ښه والي ښکارندويي کوي. د تېرې دورې په پرتله د ګټې ۱۲.۸۳ سلنه زیاتوالی د اسعارو د بیا ځلي ارزښت ټاکنې، د بیه لرونکو پاڼو له خرخلاو څخه د ګټې، د مالیې په لګښتونو کې د کموالي او د خالصې ټکټانې په عوایدو کې د ډېروالي له امله رامنځ ته شوی دی. په داسې حال کې چې د تیرې دورې په پرتله عملیاتي لګښتونه زیات شوي او له ټکټانې پرته عواید کم شوي دي.

(۲۱) ګراف: په ربعواره توګه د بانکي نظام د خالص متراکم شوی بهیر ښکاره کوي




(۱۴) جدول: د بانکي نظام د ګټورتیا شاخصونه

| ګټه کوونکي شاخصونه | دسمبر ۲۰۱۸ | مارچ ۲۰۱۹ | جون ۲۰۱۹ | سپتمبر ۲۰۱۹ | دسمبر ۲۰۱۹ |
|---|---|---|---|---|---|
| په خالصه ګټه کې د ټکټانې د خالصو عوایدو نسبت | ۱۲۸٪ | ۱،۱۸۳٪ | ۱۵۰٪ | ۱،۱۴۸٪ | ۱۱۸٪ |
| په شتمنیو کې د ټکټانې د خالصو عوایدو نسبت | ۰.۵۵٪ | ۰.۵۲٪ | ۰.۵۶٪ | ۰.۵۵٪ | ۰.۴۸٪ |
| په شتمنیو کې له ټکټانې پرته عوایدو نسبت | ۰.۹۳٪ | ۰.۵۱٪ | ۰.۶۱٪ | ۰.۵۳٪ | ۰.۸۴٪ |
| په خالصه ګټه کې د ټکټانې پرته عوایدو نسبت | ۲۱۵٪ | ۱،۱۶۱٪ | ۱۶۳٪ | ۱،۱۱۳٪ | ۲۰۹٪ |
| په خالصه ګټه کې د عملیاتي لګښتونو نسبت | ۲۰۹٪ | ۱،۹۲۱٪ | ۲۳۷٪ | ۱،۸۳۹٪ | ۲۲۶٪ |
| د ټکټانې پرته لګښتونو کې د معاشونو نسبت | ۷۰.۵۹٪ | ۷۳.۶۲٪ | ۷۴.۱۹٪ | ۶۸.۳۳٪ | ۶۳.۰۴٪ |
| د مثمریت نسبت | ۶۰.۸۳٪ | ۸۱.۹۸٪ | ۷۵.۶۵٪ | ۸۱.۳۰٪ | ۶۸.۹۹٪ |
| د ټکټانې پرته عوایدو او عملیاتي لګښتونو تر منځ تشه | ۸۵ | (۹۹۴) | (۸۴۷) | (۱،۰۳۶) | (۲۱۳) |
| په هره ربعه کې خالصه متراکمه شوې ګټه/ زیان | ۱،۳۶۳ | ۱۳۱ | ۱،۱۴۸ | ۱۴۳ | ۱،۲۶۱ |
| له شتمنیو څخه د ترلاسه شوې ګټې نسبت | ۰.۴۴٪ | ۰.۰۴٪ | ۰.۳۸٪ | ۰.۰۵٪ | ۰.۴۲٪ |
| له پانګې څخه د تر لاسه شوې ګټې نسبت | ۳.۸۳٪ | ۰.۳۸٪ | ۳.۳۰٪ | ۰.۴۱٪ | ۳.۶۲٪ |

یاددښت: په پورته جدول کې د بانکي نظام د هرې ربعې عواید او لګښتونه په متراکم ډول په پام کې نیول شوي دي.

څرنګه چې په پورته جدول کې لیدل کېږي، د بانکي نظام د مثمریت نسبت لوړ شوی دی. دا په دې معنی ده چې د بانکونو لګښتونه مخ په زیاتېدو دي او یا د بانکونو عواید د کمېدو په حال کې دي (د مثمریت نسبت ۵۰ سلنه او تر هغې کم مطلوب حالت دی)، همدا ډول د ټکټانې پرته عوایدو او د ټکټانې پرته لګښتونو تر منځ تشه د اندیښنې وړ ده (په ځانګړې ډول د ۲۰۱۹ زیږدیز کال د سپتمبر په میاشت کې) چې دا توپیر د بانکي نظام پر ګټې او د مثمریت پر نسبت ناوړه اغیزه لري او د زیاتو عملیاتي لګښتونو ښکارندويي کوي.

(۱۵) جدول: د بانکي نظام میاشتنۍ ګټه/زیان ښکاره کوي

| د بانکي نظام میاشتنۍ ګټه/زیان (ارقام په میلیون افغانۍ) | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| اقلام | ۱۸ دسمبر | ۱۹ مارچ | ۱۹ جون | ۱۹ سپتمبر | ۱۹ دسمبر |
| د ټکټاني عواید | ۶۸۳ | ۶۲۷ | ۶۸۰ | ۵۷۰ | ۵۶۷ |
| د ټکټاني لګښتونه | ۸۱ | ۷۹ | ۱۰۶ | ۸۱ | ۹۷ |
| د ټکټاني خالصه عواید | ۶۰۲ | ۵۴۷ | ۵۷۳ | ۴۸۹ | ۴۶۹ |
| خالص اعتباري تأمینات | −۱۹۰ | ۳۴ | −۲۰ | ۱۰۳ | −۴۳۶ |
| د پانګونو ګټه/زیان | ۲ | −۲ | ۲۵ | ۳۱ | ۷۵ |
| د ټکټاني پرته نور عواید | ۱,۳۰۷ | ۵۴۵ | ۵۳۰ | ۵۳۶ | ۱,۳۲۰ |
| له ټکټاني پرته لګښتونه | ۶۳۰ | ۵۲۵ | ۵۴۸ | ۵۱۹ | ۶۷۰ |
| د معاشاتو لګښتونه | ۴۶۸ | ۳۵۴ | ۳۷۰ | ۳۴۵ | ۳۸۱ |
| ټولیزه عملیاتي لګښتونه | ۱,۰۹۷ | ۸۷۹ | ۹۱۸ | ۸۶۴ | ۱,۰۵۱ |
| د اسعارو د بیاځلي ارزښت ټاکنې او د مالیې د لګښتونو څخه مخکې ګټه/زیان | ۱,۰۰۴ | ۱۷۷ | ۲۲۹ | ۸۹ | ۱,۲۴۸ |
| د اسعارو د بیاځلي ارزښت ټاکنې له امله ګټه/زیان | ۱۷ | ۸۶ | ۲۰۹ | ۵۳ | ۱۹۳ |
| د مالیې لګښتونه | ۱۸۹ | ۲۴۳ | ۸۸ | ۳۸ | ۱۶۷ |
| خالصه ګټه/زیان | ۸۳۲ | ۱۹ | ۳۵۰ | ۱۰۳ | ۱,۲۷۵ |

## ۵.۱: د پورونو د ټکټاني کچه

د هغو بېلابېلو پورونو د ټکټاني کچه چې مشتریانو ته په بانکي نظام کې ورکړل شوي، دا په ډاګه کوي چې د ټکټاني تر ټولو لوړه کچه په اعتباري کارتونو پورې اړه لري (که څه هم د مبلغ له پلوه ډیر کم دی) او ورپسې موده ایزه پورونه، اضافه برداشت پورونه، لګښتي پورونه او اسلامي (مرابحه) پورونه دي. په همدې ترتیب د ټکټاني تر ټولو لوړه کچه ۳۲ سلنې او تر ټولو ټیټه کچه ۲ سلنې ته رسیږي. په همدې ډول د هغو پورونو د ټکټاني منځنۍ کچه چې په روانه میاشت کې ورکړل شوي، ۱۲.۹۱ سلنې ته رسیږي.


(۱۶) جدول: د بانکي نظام د پورونو ډولونه ښکاره کوي

| د پور ډولونه | د ټکټاني د نرخ اوسط |
|---|---|
| اضافه برداشت | ۱۳.۷۰٪ |
| موده ایزه | ۱۳.۷۶٪ |
| لګښتي | ۱۲.۸۱٪ |
| مرابحه | ۱۲.۰۲٪ |
| اعتباري کارتونه | ۲۶.۸۰٪ |
| د ټکټاني تر ټولو لوړه کچه | ۳۲٪ |
| د ټکټاني تر ټولو ټیټه کچه | ۲٪ |


## ۵.۲: د امانتونو د ټکټاني نرخ

د مشتریانو د نویو امانتونو د جلبولو لپاره د ټکټاني نرخ د ۲۰۱۹ کال د دسمبر په میاشت کې ۱.۵۷ سلنه وه چې د تیرې مالي دورې په پرتله زیاتوالی ښکاره کوي.


(۲۲) ګراف: د بانکي نظام د نویو امانتونو د ټکټاني منځنۍ نرخ ښکاره کوي




(۲۳) ګراف: د بانکي نظام د نویو امانتونو د ټکټاني د منځني نرخ میډیان



(۲۴) ګراف: د بانکي نظام د نويو پوروونو او نويو امانتونو د ټکټانې د منځني نرخ توپير ښکاره کوي




## ۶: له بيلانس شيټ څخه بهر توکي

د بانکي نظام له بيلانس شيټ څخه د بهر تـوکو ټوليزه کچه د ۲۰۱۹ زيږديز کال د دسمبر په مياشت کې ۶۱.۸۴ مـيلـيارده افغانيو ته رسيږي چې لويه برخه يې د ليلام بانکي ضمانـتونـه، په ښه ډول د کار اجراء کول او مخکې ادايـنې جوړوي. دا توکي د تير کال (۲۰۱۸ دسمبر) په پرتله ۵.۲۱ سلنه زيـاتـوالـی په ګوته کوي.

## ۷: د اسلامي بانکوالۍ او مالي خدمتونو د آمريت د کړنو څرنګوالی

که څه هم په د افغانستان بانک کې د اسلامي بـانـکـوالۍ معاونيت پـه ۲۰۰۸ کـال کـې جـوړ شوی، خو د تېر کـال پـه اوږدو کې دا معاونيت په يو جلا آمريت (د اسلامي بانکـوالـۍ او مالي خدمتونو په آمريت) باندې بدل شو.

دا آمريت داسلامي بـانـکـونـو او د دولـتـي او خـصـوصـي سوداګريزو بانکونو د اسلامي بانکوالۍ د دريڅو له کړنو څخه د شرعي اصولو، د افغانستان د بانکـوالـۍ د قـانـون او پـه د افغانستان بانک کې د بانکوالۍ د کړنلارو او د نـړۍ‌د مـنـلـو شويو اسلامي معيارونو په رڼا کې څارنه کوي.

دې آمريت د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کـې د څـارنـې او مقرراتو، شرعي چارو او جواز ورکولو په برخو کـې يـو لـړ کړنې تر سره کړې دي چې دا کړنې په لاندې ډول دي.

د څارنې برخه

د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د پنځو اسلامي بانکونـو (هـر يو د غضنفر بانک، د افغان ملي بانک، نوی کابـل بـانـک، د افغانستان نړيوال بانک او د افغان يونايټډ بـانـک) د اسـلامـي بانکوالۍ له دريڅو څخه هر اړخيزه څارنه شوې ده. سربېره پـر دې د افغانستان اسلامي بانک او د شپږو متعارفو بـانـکـونـو د اسلامي بانکوالۍ د دريڅو مالي راپوورونـه هـم پـه ورځـنـۍ، مياشتنۍ، ربعواره او کلنۍ بڼه را ټول شوي او د AAOIFI او IAS له معيارونو سره د مطابقت ورکولو وروسته تر ارزونې او شننې لاندې نيول شوي دي.

د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې په مسـلـکـي ډول د راپـور ورکولو په موخه، د اسلامي بانکونو او د متعارفو بـانـکـونـو د اسلامي بانکوالۍ د دريڅو لپاره نوي فارمټونه جوړ شوي دي.

همدا ډول د دوو متعارفو بانکونو د اسلامي بانکوالۍ په دريڅو باندې د عالي شورا له تصويبونو سره سم، يو لړ شرايط وضـع شوي او د دې تصويبونو د تطبيق په موخه، له يادو بـانـکـونـو څخه په ځانګړې توګه د ساحې دننه څارنه شوې ده. د يادونې وړ ده چې ياد راپوورونه د افغانستان بانک له عامل پلاوي سـره شريک شوي چې په پايله کې د عامل پلاوي لخـوا پـه يـادو بانکونو يو لړ نوي شرايط وضع شوي دي.

همدارنګه د ساحې دننه څارنې د هر اړخيزه راپور له مخې، د يوه بانک د اسلامي بانکوالۍ د دريڅې په اړه يو لړ تـنـفـيـذي اقدامات تر سره شوي او له ياد بانک څخه د اصلاحي پلان د تر لاسه کولو وروسته د ياد پلان د پلي کولو پـه اړه عـمـلـي اقدامات تر سره شوي دي.

**د مقرراتو، شرعي چارو او جواز ورکولو برخه**

د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې، د ګټې د وېش د مقررې مسوده، د افغانستان بانک د شرعي چارو د څارنې د بورډ مقرره، د ښه مدیریت مقرره، د شرعي چارو د اداري مقرره، د اسلامي بانکوالۍ د کیمل میټریکس مسوده او د بانکونو او د اسلامي بانکوالۍ د دریڅو د پالیسیو د چارو د تنظیم اړوند متحد المال ترتیب شوي دي.

د ارزونې لاندې کال په اوږدو کې د جواز ورکولو مدیریت د دودیزه بانکونو د اسلامي بانکوالۍ د دریڅو او همدارنګه د بشپړه اسلامي بانکونو د مهمو بستونو لپاره یو منظم ډیټابیس جوړ کړی دی. پدې کال کې د افغانستان د اسلامي بانک او د اسلامي بانکوالۍ د دریڅو مهمو بستونو ته ۱۲ دشرایطو وړ کسانو ګمارنه او د کار تمدیدول، د ۶ مهمو بستونو شننه او ارزونه، د افغانستان د نړیوال بانک او د افغانستان د اسلامي بانک د اسلامي بانکوالۍ د دریڅو د تشکیلاتي جوړښت شننه او ارزونه او د افغانستان د اسلامي بانک د بنسټ لیک (اساس نامې) ارزونه او نهایي کول هم تر لاس لاندې نیول شوي دي.

د یادولو وړ ده چې د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د اسلامي بانکوالۍ او مالي خدمتونو آمریت د اسلامي بانکونو د کار کوونکو د ارزونې او شننې او د مهمو بستونو د تش پاتې کېدو له امله د اسلامي بانکوالۍ په دریڅو له وضع شویو نغدي جریمو څخه نږدې دو نیم میلیونه افغانۍ تر لاسه کړي دي.

په تېر کال کې د شرعي چارو د څارنې بورډ څلور غونډې تر سره کړي چې د دودیزه بانکونو د اسلامي بانکوالۍ د دریڅو او د افغانستان د اسلامي بانک د پالیسیو په اړه پکې بحثونه شوي او په دې برخه کې اړینې پرېکړې نیول شوي دي. د شرعي چارو د څارنې د بورډ له تصویب څخه وروسته دا پالیسۍ له اړوندو بانکونو سره شریکه شوې څو له دې وروسته خپل اجراات د هغه پر بنسټ عیار کړي.


# د اداينو لوی آمريت

د ورکړې د سالمو او اغېزناکو سیستمونو پرانېستل، ساتل او پراخه کول د افغانستان بانک له مکلفیتونو څخه ګڼل کېږي. د افغانستان بانک، په همدې موخه د ادراینو د سیستمونو او د هغه د مجریانو د ثبت، تنظیم او څارنې مسؤلیت په غاړه لري. په پیل کې، د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د دې آمریت لخوا د ترسره شویو اجرااتو ته لنډه کتنه کوو.

**نړیوالې ادراینې (سویفټ SWIFT):**

د نړیوالو ادراینو په برخه کې ۱،۸۴۴ وارده معاملې چې ارزښت یې ۲ میلیارده امریکایي ډالرو، ۲۵۴ وارده معاملې چې ارزښت یې ۱۳۲.۳ میلیونه یورو او ۲،۹۲۵ صادره معاملې چې ارزښت یې ۱.۳ میلیارده امریکایي ډالرو او همدا ډول ۵۸۲ صادره معاملې چې ارزښت یې ۳۲.۶ میلیونه یورو ته رسیږي او په ټولیزه توګه ۵،۶۰۵ معاملې کېږي، د نړیوالو ادراینو د سیستم له لارې اجراء او طی مراحل شوي دي. همدا ډول، د ۱۱.۶ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د اسعارو د تبادلې ۵۸۸ معاملې او د ۱۷۷.۲ میلیونه امریکایي ډالرو په ارزښت د نړیوال بانک اړوند ۳۸ مبادلوي معاملې هم په دې ربعه کې اجراء شوي دي. د یادو معاملو سربیره، د ۳.۱ میلیارده امریکایي ډالرو او د ۲۲۳.۶ میلیونه یورو په ارزښت د افغانستان بانک د اړوندو معاملو له صادره مبلغونو څخه دي چې په دې برخه کې طی مراحل شوي دي.


(۲۵) ګراف: د نړیوالو ادراینو د سیستم اجراء شوي مبلغونه (ارقام په میلیارد امریکایی ډالر)




**د بانکونو ترمنځ د ادراینو سیستم:**

شته شمېرې ښکاره کوي چې ۱۳۸،۷۶۷ معاملې د ۶۰۳.۱ میلیارده افغانیو په ارزښت، ۵۵،۸۲۴ معاملې د ۶.۶۹ میلیارد امریکایي ډالرو په ارزښت او همدا ډول ۲،۱۲۵ معاملې د ۶۰،۶۴۸،۹۱۶.۱۶ میلیونه یورو په ارزښت چې په ټولیزه توګه ۱۹۶،۷۱۶ معاملې کېږي، د بانکونو ترمنځ د ادراینو د سیستم له لارې ترسره او طی مراحل شوي دي.

(۲۶) ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د بانکونو ترمنځ د ادراینو د سیستم له لارې اجراء شوي مبلغونه




**د داخلي ادراینو برخه:**

دا برخه د دولت د عواید د راټولیدو ټولې معاملې ترسره کوي. د یاد سیستم له لارې د سوداګریزو بانکونو نماینده ګۍ


له د افغانستان بانك سره نښلول شوي دي، څو له دې لارې ټول عوايد د دولت حسابونو ته راټول کړي.

په دې برخه کې ۲۵۷،۹۷۵ معاملې چې ارزښت یې ۶۵.۲ میلیارده افغانۍ ته رسیږي، د ICPSS سیستم له لارې د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې اجراء او طی مراحل شوي دي.

**د چکونو د تصفیې او تسویې برخه:**

د چکونو د تسویې او تصفیې په برخه کې چې د غړو بانکونو چکونه په کې تسویه کېږي، ۱،۳۸۴ چکونه چې ارزښت یې ۳۵۳ میلیونه افغانۍ او ۱،۰۷۵ چکونه چې ارزښت یې ۱۱.۵ میلیونه امریکايي ډالرو ته رسیږي او ټولیزه توګه ۲،۴۵۹ چکونه کېږي، د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې تسویه او طی مراحل شوي دي.

(۲۷) ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د چکونو د تسویې او تصفیې د برخې لخوا اجراء شوي مبلغونه




**د پلان او پالیسۍ د پراختیا برخه:**

د کلنۍ راپور ترتیبول، د کړنلارو او پالیسو بیاکتنه، او د سیمې او نړۍ د هېوادونو له نړیوالو معیارونو سره سم او د ټکنالوژیکي بدلونونو په پام کې نیولو سره، د بریښنایي اداینو د پراختیا په برخه کې د ادایني د سیستمونو پراخوالی د پلان او پالیسۍ د پراختیا د برخې بنسټیزې دندې ګڼل کېږي.

په ۱۳۹۸ مالي کال کې د پراختیا، پلان او پالیسۍ برخې عمومي کړنې او لاسته راوړنې په لاندې توګه وړاندې کېږي:

۱. د اداینو د نویو سیستمونو د ATS Policy Framework پروسس او د هغې د دري او پښتو ژباړې نهايي کول.

۲. د بریښنايي اداینو پراختیا او د بانکونو ترمنځ د اداینو په سیستم کې د څلورو ګمرکونو او د افغانستان د ۲۳۴ عایداتي حسابونو نښلول.

۳. د بانکونو ترمنځ د اداینو سیستم ته د بانکونو د لاسرسي په برخه کې د کاري چاپیریال پراخول.

۴. د ATS (RTGS-ACH) پروژې د ادایني د نویو سیستمونو پلي کول او عملي کول.

۵. له داخلي او نړیوالو ادارو سره د اداینو د سیستم د پراختیا په اړه همکاري کول.

۶. په لویدیځ، شمال او ختیځ زون کې د بریښنايي ادایني د پراختیا د طرحې د پلي کولو لپاره د عامه پوهاوي د پروګرامونو په لاره اچول.

۷. د افغانستان بانک او نورو بانکونو د کارکوونکو لپاره د ATS (RTGS-ACH) د نویو سیستمونو په اړه د روزنیزو پروګرامونو ترسره کول.

۸. د ATS (RTGS-ACH) په نویو سیستمونو کې د اداینو د لوی آمریت د تخنیکي ټیم لخوا د معاملو ازمایښت، او همدا ډول د افغانستان د ټولو بانکونو لخوا د سیستمونو ازمایښت او د ازمایښت پر مهال د رامنځته شویو ستونزو حلول.

۹. د اداینو د آمریت د کاري کړنلارو بیاکتنه او د افغانستان بانک د عامل پلاوي لخوا د یادو کړنلارو منظورول.

# د بازار عملیات

## د بازار عملیات

د افغانستان بانک د قانون پر بنسټ، دا بانک د خپل پولي سیاست په اجراء کولو سره کولای شي د ازاد بازار له لارې په قطعي پیر او پلور (سمدلاسه او یا مخکې پیر) کې او یا د بیا پیرلو د تړونونو، د مبادلې وړ اسعارو، بیه لرونکو پاڼو او د دولت لخوا د ورکړل شویو پورونو پر بنسټ اقدام وکړي.

د بازار عملیاتو آمریت دنده لري څو د پولي سیاست د اجرائیوي بنسټ په توګه عمل وکړي او د اسعارو او پانګه ایزو پاڼو لیلام په لاره واچوي او همدا ډول د اسعاري زیرمو او اسعاري پانګه اچونو د اداره کولو په برخه کې هم اقدام وکړي.

د افغانستان د اسعاري زیرمو بهیر او څرنګوالی، د پانګه ایزو پاڼو لیلام، د اسعارو لیلام او د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د بازار د عملیاتو نورې کړنې په لاندې ډول وړاندې کیږي.

**اسعاري زیرمې:** د افغانستان اسعاري زیرمې د ۱۳۹۸ مالي کال د لیندۍ په ۲۹ شاوخوا ۸.۵۸۹ میلیارده امریکایي ډالرو ته رسیږي، چې د ۱۳۹۷ کال د مرغومې په لومړیو کې د ۸.۲۸۰ میلیارده امریکایي ډالرو ثبت شوې کچې په پرتله د افغانستان بانک په پورتوفولیو کې ۳۰۹ میلیونه امریکایي ډالره زیاتوالی ښکاره کوي.

د افغانستان بانک پانګونې چې د بازار عملیاتو د آمریت د ریزرف د مدیریت لخوا ترسره کیږي، په نړیوالو معتبرو بانکونو کې د موده ایزه امانتونو پانګونه او د لویو اقتصادي هېوادونو په دولتي بیه لرونکو پاڼو کې پانګونه رانغاړي.


که څه هم د ډالري پانګونې وضعیت، د سټرلینګ پونډ او یورو په پرتله چې تر اوسه پورې د پانګونې په نړیوال بازار کې له ښه وضعیت څخه برخمن نه دی، لوړیدونکی بهیر درلودلی دی، خو د ۱۳۹۸ مالي کال له دویمې ربعې وروسته د ډالري ټکټانو په نرخونو کې د پام وړ کموالی رامنځته شوی او په دې توګه یې د نړۍ د پانګې اچونې په بازار باندې د پام وړ اغیزې لرلې دی. همدا ډول، په امریکایي ډالرو کې د پانګونې د ټکټانې د نرخ ټیټوالی به د امریکا اقتصادي وضعیت او د پانګونې د ټکټانې د نرخ د کموالي په برخه کې د فدرال ریزرف بانک د پرېکړو په پام کې نیولو سره، ټیټیدونکی بهیر تجربه کړي.

که څه هم په نړیوال بازار کې د پانګې اچونې د ټکټانې نرخ د تیر کال په پرتله ښه نه ؤ او د پام وړ څپ څپاندتیاوې (نوسانونه) یې تجربه کړي، خو د افغانستان بانک په دې توانیدلی څو د خپلو پانګو اچونو له درکه شاوخوا ۱۸۱ میلیونه امریکایي ډالره ګټه ترلاسه کړي چې یوه برخه یې ساري لاسته راوړنه بلل شوې ده. په ورته وخت کې، په سټرلینګ پونډ پانګونه مخ په ښه کېدو ده، حال دا چې په یورو د پانګې اچونې لپاره د ټکټانې نرخ د تیر په څېر منفي دی او ښکاري چې په یورو د پانګې اچونې وضعیت د ۲۰۲۰ کال د څلورمې ربعې تر پایه پورې ښه والی ونه مومي.

**د پانګه ایزو پاڼو لیلام (کپیټل نوټ):** پانګه ایزې پاڼې د افغانستان بانک د پولي سیاست یو له ابزارونو څخه دي. د بازار د عملیاتو آمریت د ۱۳۹۸ مالي کال له پیل څخه تر پایه پورې، په اوونۍ کې یو ځلې د پانګه ایزو پاڼو لیلام ترسره کړی دی. همدا ډول، د یاد مالي کال په اوږدو کې شاوخوا ۴۸ ځلې د ۷ ورځنیو، ۲۸ ورځنیو، ۹۱ ورځنیو، ۱۸۲ ورځنیو او ۳۶۴ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو لیلام ترسره شوی چې په یاده موده کې ټولیزه لیلام شوي مبلغونه ۲۹۰،۹۱۰،۰۰۰،۰۰۰ افغانۍ


ته رسیږي او پانګه اچوونکي يې دولتي او خصوصي سوداګریز بانکونه جوړوي.

د تقاضا شویو او لیلام شویو پانګه ایزو پاڼو نور تفصیلات په (۲۸) ګراف کې لیدلای شئ





د افغانستان بانک د پولي سیاست د کمېټې د پرېکړې پر بنسټ او د تیرکال په څیر په روان کال کې هم لنډ مهاله پانګه ایزې پاڼې زیاتې پلورل شوي چې له امله يې د پانګه ایزو پاڼو لګښت کم شوی دی.

(۲۹) ګراف: د پانګه ایزو پاڼو او شپنيو امانتونو د ټکټاني د نرخ بهیر




د یادونې وړ ده چې د پانګه ایزو پاڼو د ټکټاني نرخ د عرضې او تقاضا او همدا ډول د لیلام د کمېټې د پرېکړې پر بنسټ د هېواد د پولي وضعیت په پام نیولو سره ټاکل کېږي. د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ۷ ورځنیو پانګه ایزو پاڼو د ټکټاني منځنی نرخ شاوخوا ۰.۴۰۸ سلنه، د اوږد مهاله (یو کلنو) پانګه ایزو پاڼو د ټکټاني منځنی نرخ ۲.۰۸ سلنه او د شپنيو امانتونو د ټکټاني نرخ ۰.۱۰ سلنه ټاکل شوی دی.

(۳۰) ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ټولیزه ناتصفیه شویو پانګه ایزو پاڼو شرحه





(۱۷) جدول: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې بانکونو ته د پانګه ایزو پاڼو د لیلام تفصیلات

| د بانک نوم | ۷ ورځنی | ۲۸ ورځنی | ۹۱ ورځنی | ۱۸۲ ورځنی | ۳٦٤ ورځنی | ټولیزه | د ونډې سلنه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| عزیزي بانک | ۱،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۱،۸۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۱۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۶۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۳،۵۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۱۰.۲۰٪ |
| پښتني بانک | ۵۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۴،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۱،۵۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۵۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۶،۵۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۲۴.۴۸٪ |
| دکوچنیو پوروونو لومړنی بانک | ۱۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۶۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۳۵۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۱۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۰ | ۱،۱۵۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۳.۲۶٪ |
| نوی کابل بانک | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۱،۷۵۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۵،۲۳۵،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۲،۵۲۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۹،۵۰۵،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۳۸.۷۹٪ |
| د افغانستان نړیوال بانک | – | ۲۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۲۵۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۲۵۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۲۵۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۹۵۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۳.۸۸٪ |
| آرین بانک | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰٪ |
| حبیب بانک | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰٪ |


| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| افغان ملي بانک | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰ | ۰.۰۰ | ۶.۹۴٪ |
| الفلاح بانک | – | ۰.۰۰ | ۳۷۵،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۱،۲۲۵،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۰ | ۱،۶۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۵.۵۱٪ |
| افغان یونایټډ بانک | | ۰.۰۰ | ۲۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۵۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۰ | ۷۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۲.۸۶٪ |
| میوند بانک | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰٪ |
| پاکستان نشنل بانک | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰ | ۷۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۳۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۱،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۴.۰۸٪ |
| غضنفر بانک | ۰ | | ۰ | | ۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰٪ |
| د افغان امانتونو د بیمې اداره | | | ۰ | | ۰ | ۰.۰۰ | ۰.۰۰٪ |
| ټولیزه | ۱،۶۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۲،۶۰۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۶،۹۲۵،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۹،۶۱۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۴،۱۷۰،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۲۴،۹۰۵،۰۰۰،۰۰۰.۰۰ | ۱۰۰.۰۰٪ |

(۳۱) ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د پانګه ایزو پاڼو د پلور او شپنیو امانتونو له درکه ورکړل شوې ټکټانه ښکاره کوي




باید یادونه وکړو چې د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د پانګه ایزو پاڼو او شپنیو امانتونو لپاره په ټولیزه توګه ۱۷۵،۱۵۴،۷۴۱.۶۷ افغانۍ ټکټانه ورکړل شوې او ځانګړې شوې بودجه یې ۵۰۰،۰۰۰،۰۰۰ افغانۍ په پام کې نیول شوې وه.


(۳۲) ګراف: په افغانیو د سوداګریزو بانکونو د الزامي زیرمو بهیر





**د اسعارو لیلام:** د افغانستان بانک د پولي سیاست د اغېزمنتیا په موخه د پانګه ایزو پاڼو د لیلام ترڅنګ د جواز لرونکو صرافانو لپاره د اسعارو لیلام هم په لاره اچوي. دې آمریت د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۱۴۲ ځلې د اسعارو لیلام ترسره کړی چې په ټولیزه توګه یې ۲،۴۳۰،۴۰۴،۹۹۹ امریکایي ډالره چې معادل یې ۱۸۹،۲۵۱،۲۵۵،۸۵۱ افغانۍ کېږي، بازار ته وړاندې کړي دي.

**الزامي زیرمې:** الزامي زیرمې د پولي سیاست یو بل ابزار دی چې سوداګریز بانکونه د قانون له مخې اړ دي څو هغه د اسعاري او افغانۍ امانتونو د ټاکل شوې سلنې په پام کې نیولو سره وساتي. د بانکونو په افغانۍ الزامي زیرمې د دوی د امانتونو ۸ سلنه ټاکل کېږي.


(۳۳) ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د سوداګریزو بانکونو الزامي زیرمې چې د امانتونو ۱۰ سلنه ټاکل شوې دي.



(۳۴) ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې په یورو د سوداګریزو بانکونو الزامي زیرمې




(۳۵) ګراف: په شپنیو امانتونو کې د سوداګریزو بانکونو ټولیزه پانګونه




**لیټراف کریډټونه:** د بازار عملیاتو د آمریت د لیټراف کریډټ برخې د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ۵۰،۲۰۸،۶۴۸ امریکایي ډالرو، ۱۶،۰۸۴،۳۷۰ یورو او د ۲۷،۲۰۷،۱۳۲ افغانۍ په ارزښت ۱۶ لیټراف کریډټونه پرانیستلي دي.

# د عامه اعتبارونو د ثبت لوی آمریت

## د عامه اعتبارونو د ثبت لوی آمریت

د عامه اعتبارونو د ثبت لوی آمریت د ۲۰۰۸ زېږدیز کال د سپتمبر په میاشت کې له نړیوال بانک سره د مالي سکتور د ټینګښت د پروژې د ترون پر بنسټ د افغانستان بانک په اډانه کې جوړ شوی.

د عامه اعتبارونو د ثبت لوی آمریت د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د اعتبارونو د ثبت مدیریت، د منقولو مالونو د رهني حقونو د ثبت مدیریت، د معلوماتي ټکنالوژۍ مدیریت، د سوداګرۍ د پراختیا مدیریت، حقوقي مشاوریت او د اداري او مالي مدیریت په برخو کې کړنې تر سره کړي چې لاندې د هرې برخې د کړنو راپور په لنډه توګه وړاندې کیږي:

۱- د عامه اعتبارونو د ثبت مدیریت

د افغانستان بانک د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم د افغانستان بانک د قانون او د اعتباراتو د راپور ورکونې د مقررې په رڼا کې فعالیت کوي او اوس مهال ټول سوداګریز بانکونه او کوچنۍ مالي مؤسسې (د فنکا مالي اداره، د اکسس مالي اداره، د متحد مالي اداره، د دهات افغان مالي اداره) او د افغانستان بانک د مالي چارو د څارنې لوی آمریت ترې په عملي توګه ګټه پورته کوي چې تر اوسه پورې د ۵،۸۰۰ کمپنیو او ۳۰۵،۳۹۲ انفرادي اشخاصو اعتباري معلومات په دې سیستم کې ثبت شوي دي.

د عامه اعتبارونو د ثبت په سیستم کې د بانکی محصولاتو بېلا بېل ډولونه لکه لیټراف کریډټ، بانکي تضمینونه، موده ایزه پورونه، اضافه برداشت پورونه، کریډټ کارت او اسلامي پورونه ثبت شوي دي.

د عامه اعتبارونو د ثبت په سیستم کې یو لړ ترونونه هم ثبت شوي چې په ( ۱۸ ) جدول کې ښودل شوي دي.

| شمېره | د قرار داد ډول | مبلغ |
|---|---|---|
| ۱ | ټولیزه پرانیستي قراردادونه | ۱۱۸،۲۲۰ |
| ۲ | ټولیزه تړلي قراردادونه | ۳۶۴،۶۳۸ |
| ۳ | په سیستم کې ټولیزه ثبت شوي قراردادونه | ۴۸۲،۸۵۸ |
| ۴ | په سیستم کې د ټولیزه ثبت شویو شرکتونو شمېر | ۵،۸۰۰ |
| ۵ | په سیستم کې د ثبت شویو انفرادي اشخاصو شمېر | ۳۰۵،۳۹۲ |

له دې سیستم څخه ګټه اخیستنه عامه نه ده، بلکې یوازې هغه کسان کولای شي له دې سیستم څخه ګټه پورته کړي چې دې اداري ته د اړونده اداري لخوا په رسمي توګه پېژندل شوي او له کړنلارې سره سم ورته کاروونکي (یوزرونه) جوړ شوي وي. د دې سیستم تر ټولو مهم محصول اعتباري راپورونه دي چې دا راپورونه د سیستم له کاروونکو سره په معقولو پریکړو او د مشتریانو په پېژندلو کې ځانګړې مرسته کوي. د دې راپورونو کاروونه وړیا نه ده او د عامل پلاوې د ۱۳۹۲/۱۰/۱۸ نېټې د ۴۱۵ ګڼې د تصویب له مخې له کاروونکو څخه فیس اخیستل کیږي.

په افغانستان کې د اعتبارونو د ثبت د سیستم کارونه یوه نوې پدیده ده او پرمختیا او پراختیا ته اړتیا لري، په همدې موخه د عامه اعتبارونو د ثبت لوی آمریت هڅه کوي څو نورې اداري هم د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم د کارونې له ګټو څخه خبرې کړي او د یاد سیستم څخه د ګټې اخیستنې په برخه کې لازمې اسانتیاوې برابرې کړي چې په همدې موخه یې د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې لاندې فعالیتونه تر سره کړي دي:

- د عامه اعتبارونو د ثبت د سیستم د کاروونې په موخه د بریښنا له شرکت سره د هوکړه لیک لاسلیکول
- د اسلامي مالي او پانګونې ادارې سره د هوکړه لیک لاسلیکول
- د اعتبارونو د ثبت سیستم د چمتو کولو په موخه د عامه اعتبارونو د ثبت سیستم د دویم پړاو پیلول، څو د غیرمکلفو ادارو اعتباري معلومات را ټول او دا اداره د دې سیستم د ګټې اخیستنې په اغیزمنتیا باوري کړي
- د عامه اعتبارونو د ثبت په سیستم د بشپړپوهاوي په موخه د افغانستان د مخابراتو د تنظیم له ادارې (اترا) او مخابراتي شرکتونو سره ډېرې غونډې تر سره شوي، څو معلومات د اعتبارونو په راپورونو کې شامل شي
- او په بدخشان، کندهار، هرات، ننګرهار او بامیانو ولایتونو کې سوداګرو، کسبګرو او کسبګرو میرمنو ته د مالي وجوهو د لاسرسي په اړه د ورکشاپ جوړول.

۲- د منقولو مالونود رهني حقونو د ثبت مدیریت

د عامه اعتبارونو د ثبت د آمریت دې برخې د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې لاندې کړنې تر سره کړې دي.

- د افغانستان بانک د تقنین کمیټې ته د غیرمنقولو مالونود رهن په قانون کې د تعدیلاتو د مسودې استول، څو تعدیلات له بیا کتنې وروسته تائید کړي
- د مالیې وزارت د سترو مالیه ورکوونکو ریاست کارکوونکو ته د روزنیز پروګرام جوړول، څو د منقولو مالونو د رهني حقونو د ثبت سیستم د کارولو طریقه زده کړي

۳- د سوداګریزې پراختیا مدیریت

د عامه اعتبارانو د ثبت آمریت د سوداګریزې پراختیا مدیریت د عامه پوهاوي د پروګرامونو په دوام کې د هېواد په پنځو زونونو کې د عامه پوهاوي پروګرامونه په لار اچولي او د مرکز په کچه یې دا ځل د اعتبارونو او د منقولو مالونو د رهني حقونو د ثبت د سیستمونو په اړه د عامه پوهاوي یو ورځنۍ ورکشاپونه جوړ کړي دي.

په دې پروګرامونو کې خصوصي متشبثینو، سوداګریزو بانکونو د پور ورکونې کوچنیو مالي مؤسسو، ملي سوداګرو، صنعت کارانو، متشبثو میرمنو، د لاسي صنایعو تولیدونکو، د پوهنتونونو استاذانواو محصلینو ګډون کړی ؤ.

د دې تر څنګ، د عامه اعتبارونو او د منقولو مالونود رهني حقونو د ثبت سیستمونو په اړه د عامه پوهاوي پروګرامونه د هېواد په مرکز او ولایتونو کې په خصوصي او عامه پوهنتونونو کې جوړ شوي دي.

په ټولیزه توګه، دا پروګرامونه د کابل، کاردان، کاتب او میوند پوهنتونونو د محصلینو لپاره جوړ شوي دي چې د عامه پوهاوي په دې پروګرامونو کې چې د مرکز په دولتي او خصوصي پوهنتونونو کې په لاره اچول شوي، ۱،۶۰۰ تنو او د هېواد په پنځو ولایتونو کې ۴۱۷ تنو ګډون کړی ؤ.

۴- د معلوماتي ټکنالوژۍ برخه

د معلوماتي ټکنالوژۍ مدیریت د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت له مرستندویه برخو څخه ګڼل کیږي او د دواړو سیستمونو په ورځنیو چارو او کارونو کې مهم رول لوبوي.

د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د دې مدیریت کړنې په لاندې ډول لنډیز شوي دي:

- د مالي ادارو (بانکونو او کوچنۍ مالي مؤسسو) د اجرااتو او رول پر بنسټ د بازار راپورونو ته د چټکې لاسرسۍ د (Benchmarking) د دوو ماډیولونو زیاتول او د کریډېټ انفو (د PCR د سیستم د وړاندې کوونکي) په مرسته په اتومات ډول د عامه اعتبارونو د ثبت په

سیستم کې د کاروونکو د صورت حسابونو د ترتیب لپاره د بلونو (Billing) جوړول دوام لري.

- د عامه اعتبارونو د ثبت د لوی آمریت د (PCR- CR) د سیستمونو د ډیټا محافظت د د لوړولو په موخه، د اړتیا وړ هارډویر برابر شوی او په ورځني ډول بک اپ ډیټا اخلي.
- د عامه اعتبارونو د ثبت سیستمونو د بک اپونو د آزمایلو لپاره د یوې منظمې داخلي کړنلارې جوړول او له ثبت شویو معلوماتو څخه د ډاډ تر لاسه کولو په موخه د آمریت د سیستمونو لپاره د ټسټ سرورونو جوړول.
- د نوري فایبر خوندي، دوامدارې او چټکې شبکې سره د 1MB او 2MB انټرنیټي کنکشنونو نښلول.
- د عامه اعتبارونو د ثبت د سیستمونو په نورو تخنیکي مواردو کې د تخنیکي ستونزو له را منځ ته کېدلو څخه مخنیوی او رسیدنه.

۵- حقوقي مشاوریت

د عامه اعتبارونو د ثبت آمریت د حقوقي مشاوریت برخې په ۱۳۹۸ مالي کال کې د نړیوال بانک لپاره د ربعوارو راپورونو د چمتو کولو تر څنګ لاندې کړنې تر سره کړې دي.

- په مرکز او ولایتونو کې د عامه پوهاوی په اړه د پروګرامونو په جوړولو کې د حقوقي برخې د موادو چمتو کول او برابرول.
- د عامه پوهاوی په جوړو شویو پروګرامونو کې فعاله ونډه اخیستنه او د حقوقي پریزنټیشنونو وړاندې کول.
- د عامه اعتبارونو د ثبت د سیستم د کارونې او د اعتباري معلوماتو په کیفیت کې د مقرراتي معیارونو د مراعتولو په موخه له بانکونو او کوچنیو مالي مؤسسو او اړونده مالي ادارو سره په غونډو کې فعاله ونډه اخیستنه.
- د دې ادارې د خدمتونو د ښه کولو په موخه د عامه اعتبارونو د ثبت په سیستم کې د نویو محصولاتو د زیاتولو لپاره د ادارې د قانون او مقرراتو په رڼا کې د حقوقي مطالعې تر سره کول.

۶- د اجرائیې او مالي چارو مدیریت

دا مدیریت د اداري مسئولیتونو تر څنګ، د بانکونو او د کوچنیو پورونو له مالي مؤسسو سره د دې آمریت د اړیکو ټینګولو مسئولیت په غاړه لري او د بانکونو او کوچنیو مالي مؤسسو میاشتني مالي راپورونه ترتیبوي.

د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د دې آمریت لخوا بانکونو او د پورونو کوچنیو او منځنیو مؤسسو ته د وړاندې شویو خدمتونو له درکه ۳،۳۵۲،۳۰۰ افغانۍ ټولیزه عواید ترلاسه شوي دي. یاد عواید د میاشتې، بانکونو او کوچنیو مالي مؤسسو د توپیر سره په لاندې (۱۹) جدول کې وړاندې کېږي.

| شمېره | میاشتې | بانکونه | کوچنی مالي مؤسسې | ټولیزه |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | دسمبر | ۲۳۴،۲۰۰ | ۶۰،۰۰۰ | ۲۹۴،۲۰۰ |
| ۲ | جنوري | ۲۳۳،۰۰۰ | ۱۵،۰۰۰ | ۲۴۸،۰۰۰ |
| ۳ | فبروري | ۲۴۶،۳۰۰ | | ۲۴۶،۳۰۰ |
| ۴ | مارچ | ۲۵۶،۰۵۰ | ۱۰۰،۰۰۰ | ۳۵۶،۰۵۰ |
| ۵ | اپریل | ۱۹۶،۲۵۰ | | ۱۹۶،۲۵۰ |
| ۶ | می | ۲۵۴،۳۵۰ | ۳۰،۰۰۰ | ۲۸۴،۳۵۰ |
| ۷ | جون | ۱۸۸،۸۰۰ | ۳۰،۰۰۰ | ۲۱۸،۸۰۰ |
| ۸ | جولای | ۲۶۴،۶۵۰ | ۴۵،۰۰۰ | ۳۰۹،۶۵۰ |
| ۹ | اګست | ۱۹۸،۵۰۰ | ۳۵،۰۰۰ | ۲۳۳،۵۰۰ |
| ۱۰ | سپټمبر | ۲۳۶،۸۰۰ | ۸۰،۰۰۰ | ۳۱۶،۸۰۰ |
| ۱۱ | اکتوبر | ۳۱۰،۹۰۰ | | ۳۱۰،۹۰۰ |
| ۱۲ | نومبر | ۲۲۷،۵۰۰ | ۱۱۰،۰۰۰ | ۳۳۷،۵۰۰ |
| ټولیزه کچه | | ۲،۸۴۷،۳۰۰ | ۵۰۵،۰۰۰ | ۳،۳۵۲،۳۰۰ |

# د افغان امانتونو د بیمې اداره

## د افغان امانتونو د بیمې اداره

د افغان امانتونو د بیمې اداره په سوداګریزو بانکونو کې د خلکو د امانتونو د ملاتړ، د یوه بانک د دیوالي کېدلو پر مهال د خلکو د امانتونو د بیا اداینې، د بانکي ټیکاو د ساتلو، د امانت ایښودونکو د هڅولو، د خلکو په سپماوو کې د زیاتوالي او د هېواد په بانکي نظام باندې د خلکو د باور د تر لاسه کولو په موخه د افغانستان بانک په اډانه کې جوړه شوې ده.

دې آمریت په یو شمېر برخو کې بنسټیزې کړنې تر سره کړې دي چې لاندې په ترتیب سره د افغان امانتونو د بیمې ادارې پولي سرچینو، د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د اسعارو د تفکیک په پام کې نیولو سره له بانکونو څخه د حق البیمې ترلاسه کولو، د اسلامي بانکوالۍ د امانتونو د بیمې تکافل د کړنلارې ترتیبولو، له هېواد څخه بهر د افغان امانتونو د بیمې ادارې پانګونې او له سوداګریزو بانکونو څخه د حق البیمې د را ټولولو په طریقه کې بدلون ته اشاره شوې ده.

- **د افغان امانتونو د بیمې ادارې پولي سرچینې**

د افغان امانتونو د بیمې ادارې عایداتي او پانګیزې سرچینې څلور بنسټیزې سرچینې ( د افغانستان بانک او مالیې وزارت څخه ترلاسه شوې لومړنۍ او دوراني پانګه، له سوداګریزو بانکونو څخه ترلاسه شوی حق العضویت، له سوداګریزو بانکونو څخه په ربعواره توګه د کلنۍ حق البیمه  را ټولول او د دې ادارې د پیسو د پانګونې له پروسې څخه ترلاسه شوی عاید) جوړوي.

- **د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د اسعارو د تفکیک په پام کې نیولو سره له بانکونو څخه د حق البیمې ترلاسه کول**

د افغان امانتونو د بیمې ادارې له خپلې کاري کړنلارې سره سم، د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د اسعارو د تفکیک په پام کې نیولو د (۲۰) جدول پر بنسټ له بانکونو څخه حق البیمه تر لاسه کړې ده:

| د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د سوداګریزو بانکونو له حساب څخه د افغان امانتونو د بیمې ادارې حساب ته وضع شوې حق البیمه | | | | |
|---|---|---|---|---|
| د کال ربعې | کال | افغانی | ډالر | یورو |
| څلورمه ربعه | جنوري، فبروریاو مارچ ۲۰۱۹ | ۳۵،۹۵۹،۹۳۱ | ۱،۰۵۹،۳۵۵ | ۹۷،۳۴۸ |
| لومړۍ ربعه | اپریل، می او جون ۲۰۱۹ | ۳۶،۱۶۹،۳۱۳ | ۱،۰۴۹،۹۴۴ | ۲۹،۹۰۵ |
| دویمه ربعه | جولای، اګست او سپټمبر ۲۰۱۹ | ۳۵،۸۹۵،۸۰۷ | ۱،۰۳۳،۳۹۸ | ۲۸،۵۵۴ |
| دریمه ربعه | اکتوبر، نومبر او دسمبر ۲۰۱۹ | ۳۷،۱۱۰،۷۳۵ | ۱،۰۶۲،۸۸۰ | ۲۵،۹۱۲ |
| ټولیزه | | ۱۴۵،۱۳۵،۷۸۶ | ۴،۲۰۵،۵۷۷ | ۱۸۱،۷۱۹ |

- **د اسلامي بانکوالۍ د امانتونو د بیمې تکافل د کړنلارې ترتیب**

د افغان امانتونو د بیمې ادارې د خپل ستراتیژیک پلان سره سم، د اسلامي بانکوالۍ د امانتونو د بیمې لپاره یو جلا سیستم په پام کې نیولی چې د اسلامي بانکوالۍ د امانتونو د تکافل د مسودې ټولیزه او بنسټیزه اډانه را نغاړي.

په دې سیستم کې جلا حسابونه، د حق البیمې جلا وضع کول، په جلا ډول د اسلامي بانکوالۍ د امانتونو د راپور ترلاسه کول او په جلا ډول راپور ورکول، د اسلامي شریعت پر بنسټ د ترلاسه شویو پیسو پانګونه تنظیم شوي دي چې د پورته

مواردو پر بنسټ دا اداره توانېدلې چې د اسلامي بانکوالۍ د امانتونو د بیمې د تکافل د کړنلارې مسؤده، د مقررو، کړنلارو او تړاکل شویو موخو په رڼا کې له شته امکاناتو سره سم ترتیب او وړاندې کړي. یاده کړنلاره د شرعي چارو د څارنې بورډ له تائید وروسته د افغانستان بانک عالي شورا ته د تصویب لپاره وړاندې کېږي.

- **له هېواد څخه بهر د افغان امانتونو د بیمې ادارې پانګونه**

د افغان امانتونو د بیمې اداره د خپلو پیسو (وجوهو) د خوندیتوب او د راکد پاتې کېدو څخه د هغه د مخنیوي په موخه د افغانستان بانک د بازار عملیاتو د آمریت له لارې له هېواد څخه بهر پانګونه کړې ده. دې آمریت د ۲۹،۴۹۸،۰۰۰ امریکایي ډالرو پانګونې له کبله کې چې د ګټې په موخه د درېیو میاشتو لپاره له هېواد څخه بهر په یوه بانک کې د امانت په ډول ایښودلې وې، ۱۴۵،۵۴۸.۰۵ امریکایي ډالره ګټه تر لاسه کړې ده.

- **له سوداګریزو بانکونو څخه د حق البیمې د را ټولولو په طریقه کې بدلون**

د حق البیمې د راټولولو، د اسعاري امانتونو د تفکیک، له سوداګریزو بانکونو څخه د حق البیمې د را ټولولو په پروسه کې د آسانتیاوو د رامنځته کولو او د اسعاري امانتونو په راپور کې د تفکیک چې د مالي چارو د څارنې آمریت له لارې لېږدول کېږي، په برخو کې د زیاتې روڼتیا په موخه د افغان امانتونو د بیمې ادارې د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې له ټولو سوداګریزو بانکونو څخه د افغانیو د امانتونو حق البیمه په افغانیو او اسعارو له دې ډلې د امریکایي ډالرو د امانتونو حق البیمه په ډالرو، یورو په یورو او د نورو اسعارو په امریکایي ډالرو راټوله کړې ده.

# د مالي معاملو او راپورونو د شنني مرکز

## د مالي معاملو او راپوروونو د شننې مرکز

**سریزه:**

د مالي معاملو او راپوروونو د شننې مرکز د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوي د قانون او د نړیوالو پېژندل شویو معیارونو، په ځانګړې توګه په ۲۰۰۶ زیږدیز کال کې د مالي اقداماتو د کاري ډلې ( Financial Action Task Force) د وړاندیزونو پر بنسټ د افغانستان بانک په اډانه کې پرانېستل شوی دی. د دې مرکز د جوړېدو موخه د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل اړوند کړنو لپاره د هېواد د مالي او بانکي نظام د ناسمې کارونې مخنیوی دی. د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوي د قانون پر بنسټ، د مالي معاملو او راپوروونو د شننې مرکز (د مالي استخباراتو واحد) په خپلو فعالیتونو، دندو او کړنو کې یوه خپلواکه اداره ده او د قانون له حکمونو سره سم په پرېکړو او د شکمنو معاملو د راپوروونو او د پیسو وینځلو، اصلي جرمونو او د ترهګرۍ د تمویل اړوند نورو معلوماتو په ترلاسه کولو، تجزیې، شننې او خپرولو کې بشپړه خپلواکي لري. د افغانستان د مالي معاملو او راپوروونو د شننې مرکز د مالي چارو له څارونکو، قانون پلي کوونکو او عدلي مراجعو سره یو ځای د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل د کړنو په پېژندلو او مبارزه کې د یو مناسب چاپېریال د رامنځته کولو او ساتلو په موخه ګډې هڅې کوي.

**په سرحدي ګمرکونو کې د اسعارو او د معاملې وړ بې نومه سندونو لېږدونې:**

د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوي د قانون د اوومې مادې د حکم او په سرحدي ګمرکونو کې د اسعارو او د معاملې وړ بې نومه سندونو د لېږدونو د کنټرول او راپور ورکونې د مقررې پر بنسټ په ټولو نړیوالو هوايي ډګرونو او شپږو ځمکنیو سرحدونو کې د اسعاور کنټرول ترسره کېږي. د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د اظهارلیک فورمونه چې په پورتنیو هوايي ډګرونو او ځمکنیو سرحدونو کې ثبت شوي، شمېرې یې په لاندې توګه درج شوي دي.

**د قانون پلي کوونکو ادارو ته د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې خپرې شوې قضیې:**

د افغانستان د مالي معاملو او راپوروونو د شننې مرکز د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوي د قانون د ۲۵ مادې د حکم پر بنسټ، مالي شکمنې معاملې له راپور ورکوونکو مراجعو څخه راټولوي او له شننې وروسته یې د نورو اجرااتو په موخه د قانون پلي کوونکو مراجعو او د لوېې څارنوالۍ اړوندو ادارو ته لېږي. د یاد قانون د ۳۶ مادې د حکم پر بنسټ، اړوندې ادارې باید د دوی له اجرااتو څخه د ترلاسه شوې پایلې په اړه د مالي معاملو او راپوروونو د شننې مرکز ته ډاډ ورکړي.

د شننې لوی مدیریت د مالي معاملو او راپوروونو د شننې مرکز د یوې مهمې او کلیدي برخې په توګه له کمي او کیفي پلوه د شکمنو مالي قضیو د شننې د لا زیاتوالي په هڅه کې دی. دا برخه په اعظمي توګه د شته سرچینو په کارولو سره د ترهګرۍ د تمویل، سازمان شویو جرمونو، د نشه یي توکو د

قاچاق، اختطاف، یرغمل کولو، پیسو وینځلو، فساد او بډو اخیستلو، له مالیاتو څخه تېښته، جعل او تقلب په برخو کې د قضیو د شننې او راجع کولو سربیره په ۱۰ قضیو کې د مالي او بانکي سندونو په اړه د تخنیکي نظرونو د وړاندې کولو په موخه د قانون پلي کوونکو ادارو د پلټنو د اغیزناکتیا د لا زیاتوالي لپاره د کارپوهانو د ۱۸ ناستو د ترتیبولو په برخه کې هم هر اړخیزه همکاري کړې ده.

د لا ډېرو معلوماتو لپاره (۲۱) جدول ته مراجعه وکړئ:

| شمېره | د قضیو ډول | د خطر شاخص | د شکمنو راپورونو شمېر | په قضیه کې د ښکیلو کسانو شمېر | د قانون پلي کوونکې اداره چې قضیه ورته راجع شوې ده |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ستراتیژیک(Strategic) | د انسان قاچاق | ۰ | ۱۹ | د کورنیو چارو وزارت د درنو جرمونو ریاست (MCTF) |
| ۲ | ستراتیژیک(Strategic) | د ترهګرۍ تمویل | ۰ | ۷ | د ملي امنیت لوی ریاست (۲۴۱) |
| ۳ | غبرګوني(Reactive) | د نشه یي توکو قاچاق | ۰ | ۹ | د لویې څارنوالۍ اداره (CNJC and ACJC) |
| ۴ | غبرګوني(Reactive) | د پیسو وینځل | ۱ | ۶ | د افغانستان بانک (د مالي چارو د څارنې لوی آمریت) |
| ۵ | غبرګوني(Reactive) | د پیسو وینځل | ۴ | ۶ | د کورنیو چارو وزارت د درنو جرمونو ریاست (MCTF) |
| ۶ | غبرګوني(Reactive) | د پیسو وینځل | ۵ | ۲۳ | د لویې څارنوالۍ اداره(AGO) |
| ۷ | غبرګوني(Reactive) | د ترهګرۍ تمویل | ۱ | ۷ | د ملي امنیت لوی ریاست (۲۴۱) |
| ۸ | غبرګوني(Reactive) | د انسان قاچاق، د ترهګرۍ تمویل او د اسعارو قاچاق | ۶ | ۲۲ | د ملي امنیت لوی ریاست (۲۴۱) |
| ۹ | احتیاطي (Proactive) | فریب او درغلي | ۰ | ۱۲ | د لویې څارنوالۍ اداره(AGO) |
| ۱۰ | احتیاطي (Proactive) | د ترهګرۍ تمویل | ۰ | ۱۰ | د ملي امنیت لوی ریاست (۲۴۱) |
| ۱۱ | ستراتیژیک(Strategic) | د ترهګرۍ تمویل | ۱ | ۳۱ | د ملي امنیت شورا |
| ۱۲ | احتیاطي (Proactive) | د ترهګرۍ تمویل | ۰ | ۱ | د کورنیو چارو وزارت د درنو جرمونو ریاست (MCTF) |
| ۱۳ | غبرګوني(Reactive) | د پیسو وینځل | ۱ | ۳ | د ملي امنیت لوی ریاست ( ۰۶۲) |
| ۱۴ | غبرګوني(Reactive) | د پیسو وینځل | ۳ | ۶ | د کورنیو چارو وزارت د درنو جرمونو ریاست (MCTF) |
| ۱۵ | غبرګوني(Reactive) | د پیسو وینځل | ۱ | ۳ | د لویې څارنوالۍ اداره (ACJC) |
| ۱۶ | غبرګوني(Reactive) | د پیسو وینځل | ۲ | ۵ | د لویې څارنوالۍ اداره(ACJC) |
| ۱۷ | غبرګوني(Reactive) | د پیسو وینځل | ۰ | ۱۸ | د لویې څارنوالۍ اداره(ACJC) |
| ۱۸ | غبرګوني(Reactive) | د پیسو وینځل | ۵ | ۱۴ | د لویې څارنوالۍ اداره(ACJC) |
| ۱۹ | غبرګوني(Reactive) | د ترهګرۍ تمویل | ۱ | ۱۰ | د ملي امنیت لوی ریاست (۲۴۱) |
| ۲۰ | غبرګوني(Reactive) | د پیسو قاچاق | ۰ | ۲ | د کورنیو چارو وزارت د درنو جرمونو ریاست (MCTF) |
| ۲۱ | غبرګوني(Reactive) | د ترهګرۍ تمویل | ۱ | ۱۰ | د ملي امنیت لوی ریاست (۲۴۱) |
| ۲۲ | غبرګوني(Reactive) | د ترهګرۍ تمویل | ۱ | ۱ | د ملي امنیت لوی ریاست (۲۴۱) |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۳ | ځوابي(Reactive) | د ترهګرۍ تمویل | ۱ | ۱ | د ملي امنیت لوی ریاست (۲۴۱) |
| ۲۴ | ځوابي(Reactive) | د نشه يي توکو قاچاق | ۱ | ۳ | د کورنیو چارو وزارت (SIU) |
| ۲۵ | ځوابي(Reactive) | د ترهګرۍ تمویل | ۱ | ۵ | د ملي امنیت لوی ریاست (CTP) |
| ۲۶ | ځوابي(Reactive) | د اسعارو قاچاق | ۰ | ۶ | د کورنیو چارو وزارت د درنو جرمونو ریاست (MCTF) |
| ۲۷ | ځوابي(Reactive) | غلا | ۳ | ۱۰ | د ملي امنیت لوی ریاست ( ۰۶۲) |
| ۲۸ | ځوابي(Reactive) | د پیسو وینځل | ۵ | ۹ | د کورنیو چارو وزارت (SIU) |
| ۲۹ | ځوابي(Reactive) | د پیسو وینځل | ۱ | ۳ | د کورنیو چارو وزارت (GDCT and CTP) |
| ۳۰ | ځوابي(Reactive) | د ترهګرۍ تمویل | ۱ | ۸ | د ملي امنیت لوی ریاست (۲۴۱) |
| ۳۱ | ځوابي(Reactive) | د ترهګرۍ تمویل | ۱ | ۲ | د ملي امنیت لوی ریاست (۲۴۱) |

**د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي:**

د افغانستان بانک د قانون په پام کې نیولو سره پولي خدمتونه چې د پیسو د خوندي ساتنې، لیږد، د چکونو د نغدولو او د اسعارو د تبادلې په ګډون د پیسو اړوند ترسره شوي خدمتونه رانغاړي. هغه شخص چې دا ډول خدمتونه وړاندې کوي، د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکي په نوم یادیږي او د قانون له مخې باید د فعالیت د جوزا لرونکی وي. یاد سکتور د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل له پلوه زیان لیدونکی دی؛ له همدې امله د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز د دې سکتور د فعالیت ترشاه د ۱۳۹۸ کال په اوږدو کې په دې اړه لاندې اقدامات ترلاس لاندې نیولي دي:

**په بریښنایي او لیکلي ډول د حوالو راپور ورکول**

د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز د دې سکتور د لا روڼتیا او اغیزناکتیا په موخه تل هڅه کړې څو په دې سکتور کې په بریښنایي توګه د راپور ورکولو زمینه برابره شي. په همدې ترتیب، په بریښنایي توګه د راپور ورکولو په موخه د ظرفیت لوړوني لپاره د دې مرکز لخوا په ټول هېواد کې یو لړ ځانګړي روزنیز پروګرامونه جوړ شوي چې په پایله کې یې په بریښنایي توګه د راپور ورکوونکو مراجعو په شمېر کې زیاتوالی راغلی دی.

اوس مهال دا سکتور د خپلو لویو نغدي معاملو د راپورونو ۸۲ سلنه په بریښنایي بڼه دې مرکز ته وړاندې کوي. په همدې توګه د لویو ترلاسه شویو نغدي معاملو د سلنې کچه له تېر کال سره برابره ده، حال دا چې د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو شمېر زیات شوی دی.

(۲۲) جدول: د زونونو د توپیر پر بنسټ په بریښنایي او لیکلې بڼه د راپور ورکولو بهیر ښکاره کوي

| د حوالو له برخې څخه د معاملو راپور ورکول | | | |
|---|---|---|---|
| شمېره | اړوند زون | بریښنایي | لیکلي |
| ۱ | مرکز | ۳۴۵ | ۵۴ |
| ۲ | ختیځ زون | ۱۰۶ | ۳۵ |
| ۳ | لویدیځ زون | ۲۱۱ | ۵ |
| ۴ | شمال زون | ۱۸۹ | ۰ |
| ۵ | شمال ختیځ زون | ۲۵۴ | ۰ |
| ۶ | جنوب لویدیځ زون | ۶۸ | ۴۸ |
| ۷ | جنوب ختیځ زون | ۳۷ | ۱۱۴ |
| ټولیزه | | ۱،۲۱۰ | ۲۵۶ |
| په ټولیزه توګه | | ۱،۴۶۶ | |


پورتنی جدول د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو په شمېر کې د تیر کال په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي.

**د حوالې او اسعارو د تبادلې د برخې د لویو معاملو د راپور ترلاسه کول**

د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي او صرافان د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوي د قانون د ۱۷ مادې او د صرافانو او پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د کړنو د تنظیم د مقررې د ۳۳ مادې پر بنسټ، د لویو معاملو د راپور پر وړاندې کولو اړ دي او د دې مقررې د حکمونو پر بنسټ، یاد سکتورونه اړ دي څو خپلې ټولې پولي معاملې (حوالې او مبادلې) چې کچه یې ۵۰۰،۰۰۰ افغانۍ یا له دې زیاته او یا په نورو اسعارو د دې معادل وي، د راتلونکې میاشتې د ۱۰ کاري ورځو په اوږدو کې دې مرکز ته وړاندې کړي.

هغه معاملې چې د ۴۸ ساعتونو په اوږدو کې په پرله پسې توګه له ورته اړخونو سره ترسره کېږي او د هغه ټولیزه کچه ټاکلې حد (۵۰۰،۰۰۰) پوره کړي، هم باید راپور یې ورکړل شي.

(۳۶ او ۳۷) ګرافونه: د راپور ورکوونکې مرجعو په توپیر سره د اسعارو د مبادلې د معاملو او د حوالې او مبادلې د برخې د لویو معاملو بهیر ښکاره کوي








**د راپورونو پلې کول- د حوالې برخه**


له هغه ځایه چې د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي په ټاکلې نېټه د خپلو لویو معاملو په راپور ورکونې اړ دي، له همدې امله د لویو معاملو د راپورونو د ترلاسه کولو مسئولې برخې پرېکړه وکړه څو یادې ترلاسه شوې معاملې تطبیق او لا وڅېړي.

د ترلاسه شویو راپورونو د پلې کولو پروسه د ترسره شوې معاملې د راپور د لېږلو په موخه، د راپور ورکولو د دوو مراجعو ترمنځ په ورته وخت کې ترسره کېږي. د دې پروسې د په لاره اچولو راپدېځوا، د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز د راپورونو د پلې کولو ۲۸ موضوعات چې د پولي خدمتونو ۲۸ موارد رانغاړي، بشپړ کړي دي. د راپور ورکونې دا مراجعې د درغلي کوونکو په توګه پېژندل شوي او په ټولیزه توګه پرې (۱،۴۰۰،۰۰۰) افغانۍ جریمه وضع شوې او ترې اخیستل شوې ده.

د یادونې وړ ده چې د راپورونو د پلې کولو پروسه نه یوازې په مرکز، بلکې د زونونو په کچه د دې مرکز په ټولو سیمه ایزو مدیریتونو کې هم ترسره شوې ده.

(۳۸ او ۳۹) ګرافونه د زونونو په توپیر سره د مالي جریمو او د راپورونو د پلي کولو جزئیاتو ښکاره کوي




**د افغانستان بانک لخوا د اسعارو (ډالرو) د لیلام د پروسې په اړه د مالي معاملو او راپورونو د شننې د مرکز اقدامات:**


د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز د هېواد په مالي نظام کې د روڼتیا او ښه والي د رامنځته کولو لپاره تل مهم رول لوبولی او د خپلو ژمنو د ترسره کولو او بشپړولو لپاره یې د هېواد په مالي نظام کې د روڼتیا او ښه والي په برخه کې، د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوي د قانون د ۵، ۱۷ او ۱۸ مادو د حکمونو په رڼا کې د افغانستان بانک لخوا د اسعارو (ډالرو) د لیلام د پروسې په څارنه کې هم ونډه لري.

د لا روڼتیا او د درغلي کوونکو اشخاصو لاس ته د پیرل شویو اسعارو د ورتللو د مخنیوي لپاره دې مرکز د افغانستان بانک لخوا د ډالرو د لیلام په پروسه کې یو لړ قانوني محدودیتونه، چې څینې یې په لاندې توګه بیان شوي، وضع کړي دي.

**د افغانستان بانک لخوا د اسعارو (ډالرو) د لیلام د راپور ترلاسه کول**

ټول صرافان او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوي د قانون د ۵ مادې د حکم په رڼا کې د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې د مرکز د راپور ورکوونکو مراجعو له ډلې څخه دي. له همدې امله، اړینه ده څو یاد سکتورونه خپل د اسعارو (ډالرو) د لیلام د ټولو معاملو راپورونه د هغې کچې په پام کې نیولو پرته د دې مرکز د راپور ورکونې د پورتال له لارې وړاندې کړي.

(۴۰ ) ګراف: د راپور ورکوونکو مراجعو په توپیر سره د ډالرو د لیلام د راپور جزئیات ښکاره کوي




**د افغانستان بانک لخوا د اسعارو (ډالرو) د لیلام په بهیر کې د قانون پلي کولو اقدامات**

د افغانستان بانک لخوا د ډالرو په لیلام کې د قانوني اقداماتو د پلي کولو د کړنلارې او نورو اړوندو قوانینو او مقرراتو پر بنسټ، دې مرکز د ډالرو د لیلام په پروسه کې د ګډون د شرایطو په اړه د قوانینو د حکمونو د نه پلي کولو څخه د سرغړونو پر وړاندې ځانګړې اقدامات ترلاس لاندې نیولي دي.

(۲۳) جدول: د ډالرو د لیلام په پروسه کې د سرغړونې پر وړاندې تر لاس لاندې نیول شوي اقدامات

| محرومیت | د ګډون کوونکو شمېر |
|---|---|
| دایمي | ۶ |
| مؤقتي | ۵۴ |

**د اسعارو د مبادلې د راپور ورکونې پورتال (FX-Portal):**

ټولې راپور ورکوونکې مراجعې (صرافان او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي) د لا روڼتیا او په ټاکلي وخت او په برېښنایي توګه د خپلو لویو معاملو د راپور ورکونې په موخه د برېښنایي راپور ورکونې سیستم لري.

صرافان او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي په دې وروستیو کې د خپلو اسعارو د مبادلې د راپور ورکونې په موخه "د اسعارو د مبادلې د راپور ورکونې د پورتال FX-PORTAL" په نوم سیستم باندې سمبال شوي او په همدې ترتیب، ټول صرافان او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي اړ دي، څو په یاد سیستم کې ځانونه ثبت او راجستر کړي.


د اسعارو د مبادلې د راپور ورکونې سیستم په درېیو ژبو (پښتو، دري او انګلیسي) کې د لاسرسي وړ دی او په کمپیوټر، ځیرکو موبایلونو او نورو ټکنالوژیکي وسایلو کې کارول کېدای شي. ټول صرافان او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي او اړونده دولتي اداري کولای شي، د راپور ورکونې له دې لارې د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوي له قانون سره سم خپلې معاملې تحلیل او تجزیه کړي. په ورته وخت کې، یاد سیستم د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل په څېر جرمونو د مرتکب کېدو مخه نیولې او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د بندیزونو د نوملړ په پلي کولو کې له راپور ورکوونکو مراجعو سره مرسته کوي.

له هغه ځایه چې زیات شمېر صرافان له اوسنۍ ټکنالوژۍ سره پوره بلدتیا نلري؛ له همدې امله د راپور ورکونې د سیستم نوعیت په ډېره ساده او اسانه بڼه طرحه شوی دی.

د راپور ورکونې د سیستم له جوړېدو راپدېخوا، د راپور ورکونې ۳،۰۱۵ مراجعې چې له ډلې یې ۱،۶۱۰ صرافان، ۱،۴۰۲ د پولي خدمتونو انفرادي وړاندې کوونکي او ۳ د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي شرکتونه دي، په دې سیستم کې ثبت او راجستر شوي دي.

(۴۱ او۴۲) ګرافونه: د مبادلې د برخې لویې معاملې او د راپور ورکونې په پورتال کې ثبت شوي مراجعې وړاندې کوي



ځرنګه چې پورته واضح شوي دي، په ټولیزه توګه ۱۲۸،۶۹۶ راپورونه د دې سیستم له لارې ترلاسه شوي چې ۸۴،۴۹۹ د صرافانو، ۴۳،۳۰۳ د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو او ۸۹۴ یې د پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو شرکتونو لخوا رالیږل شوي دي. د راپور ورکونې د پورتال د پروژې د پلي کولو پر مهال شاوخوا ۲۰۰ روزنیز پروګرامونه د هېواد په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د دې مرکز د سیمه ایزو عملیاتو د کاري ټیم لخوا په لاره اچول شوي دي.

یاد مرکز، په دې سیستم کې د راپور ورکونې د مراجعو د ثبت او راجستر کولو د پروسې د غوره پلي کولو په موخه ټول بانکونه اړ کړي، څو د جلا یوزرونو په جوړولو سره د جواز نه لرونکو او دې مراجعو ترمنځ تشخیص او توپیر وکړي. د دې سیستم د اړینو شرایطو د نه پوره کولو له امله د راپور ورکوونکو مراجعو (صرافانو او د پولي خدمتونو وړاندې کوونکو) ۷ جوازونه لغوه او ۱۶ جوازونه ځنډولي دي.

**د غیر بانکي مالي ادارو د مدیریت پرانېستل:**

دا مدیریت د ۲۰۱۹ کال د اپریل په میاشت کې د مالي معاملو او راپورونو د شننې د مرکز په اړانه کې پرانېستل شوی. د هېواد د مالي سیستم څلور مهم سکتورونه لکه؛ د بیمې سکتور، د پولي خدمتونو شرکتونه او صرافي، د بریښنایي پیسو ادارې او د کوچنیو پورونو ادارې، هغه ادارې دي چې دې مدیریت ته راپور ورکوي. څرنګه چې دا څلور سکتورونه د پراختیا په حال کې دي، نو له همدې امله اړینه ده څو د یو خپلواک مدیریت لخوا اداره شي او په دې توګه یې مسئولیت د غیر بانکي مالي ادارو مدیریت ته وسپارل شو. د دې ترڅنګ، یادې ادارې د دې مدیریت له سیستم سره نښلول شوي او د خپلو لویو او شکمنو معاملو راپورونه په منظمه توګه دې ادارې ته لیږدوي. همدا ډول، دې مدیریت د یادو سکتورونو او څارونکو ادارو د لا همغږۍ لپاره د همغږۍ ناستې هم برابرې کړې دي. سربیره پر دې، دې مدیریت د راپور ورکوونکو سکتورونو د کړنو د لا تنظیم په موخه له دې سکتور سره ځینې قوانین او مقررات شریک کړي او ترڅنګ یې هغه متحدالمالونه، چې د راپور ورکوونکو سکتورونو د کړنو د لا ښه تنظیم لپاره اړین ګڼل کېدل، یاد سکتور ته لیږلي دي.

**په ملي کچه همکارۍ:**

**د قانون پلي کوونکو مراجعو او نورو دولتي ادارو مالي معلوماتي غوښتنلیکونو ته رسېدنه:**

د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شوی عوایدو د مخنیوي د قانون د ۲۸ مادې د حکم پر بنسټ، د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د لوېې څارنوالۍ د بیلابیلو ریاستونو، د کورنیو چارو له وزارت، د ملي امنیت له عمومي ریاست، د جمهوري ریاست د چارو د ادارې د شتمنیو د ثبت او څېړنې له ادارې، د تدارکاتو له ملي ادارې، د مالیې وزارت د عوایدو له لوی ریاست او نورو دولتي ادارو څخه په ټولیزه توګه ۲۹۳ مالي معلوماتي غوښتنلیکونه ترلاسه کړي، چې له ډلې یې ۲۵۳ معلوماتي غوښتنلیکونه چې د ۸۸۲ حقیقي او حُکمي اشخاصو په اړه معلومات وړاندې کوي، د دې مدیریت لخوا ځواب شوي دي.

(۲۴) جدول: د هغو غوښتنلکیونو جزئیات چې پر بنسټ یې د معلوماتو ورکولو غوښتنه شوې

| شمېره | د معلوماتو د غوښتونکې مرجع نوم | د غوښتن لیکونو شمېر |
|---|---|---|
| ۱ | د لویې ښارنوالۍ اداره | ۶۱ |
| ۲ | د کورنیو چارو وزارت | ۱۱۱ |
| ۳ | د ملي امنیت لوی ریاست | ۷۱ |
| ۴ | د جمهوري ریاست د چارو د ادارې د شتمنیو د ثبت او څېړنې اداره | ۲۱ |
| ۵ | د ملي تدارکاتو اداره | ۸ |
| ۶ | د عوایدو لوی ریاست | ۶ |
| ۷ | نورې ادارې | ۸ |
| د دې ادارې په معلوماتي بانک کې د درج شویو غوښتنلیکونو شمېر | | ۲۸۶ |
| د ځواب ویل شویو غوښتنلکیونو ټولیز شمېر | | ۲۵۳ |
| د قانون پلي کوونکو او نورو دولتي ادارو څخه د ترلاسه شویو غوښتنلیکونو ټولیز شمېر | | ۲۹۳ |
| ځواب ویل شویو غوښتنلیکونو ته د شته حقیقي او حُکمي اشخاصو شمېر | | ۸۸۲ |

(۲۵) جدول: د هغو غوښتنلکیونو جزئیات چې پر بنسټ یې د معلوماتو ورکولو غوښتنه شوې

| شمېره | د غوښتن لیکونو موضوع | د غوښتن لیکونو شمېر |
|---|---|---|
| ۱ | د شتمنیو ثبت او څېړنه | ۲۸ |
| ۲ | فساد او بډې | ۲۳ |
| ۳ | د نشه یي توکو قاچاق | ۶۱ |
| ۴ | له مالیاتو تېښته | ۵ |
| ۵ | د ترهګرۍ تمویل | ۵۳ |
| ۶ | فریب او درغلي | ۲ |
| ۷ | اختطاف | ۶ |
| ۸ | د پیسو وینځل | ۱۰ |
| ۹ | غیر قانوني اخیستنې | ۱ |
| ۱۰ | د اسنادو جعل کاري | ۷ |
| ۱۱ | غلا | ۲ |
| ۱۲ | په برېښنایي لیږدونو کې تقلب | ۴ |
| ۱۳ | نور | ۸۴ |
| په ټولیزه توګه | | ۲۸۶ |

د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د جمهوري ریاست د چارو د ادارې د شتمنیو د ثبت او څېړنې له ادارې څخه د ۵۲۲ تنو لوړ پوړو دولتي چارواکو د منقولو شتمنیو په اړه ۲۱ معلوماتي غوښتنلیکونه ترلاسه کړي چې له ډلې یې د ۳۳۲ تنو لوړ پوړو دولتي چارواکو ۱۵ غوښتنلیکونو ته پر وخت ځواب ویلی دی.

**د قانون پلي کوونکو مراجعو او نورو دولتي ادارو څخه د معلوماتو غوښتنه:**

د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوي د قانون د ۲۸ مادې د حکم پر بنسټ، د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د اړتیا وړ ۱۸ غوښتنلکیونه، چې د خپلو قضیو د څېړنې لپاره یې اړین ګڼلي او د پام وړ شرکتونو لخوا د مالیاتو د ورکړې او نه ورکړې، د سوداګریزو شرکتونو د ګمرکي محصول، د سوداګریزو شرکتونو د جوازونو د اعتبار او نه اعتبار او د حقیقي اشخاصو د پېژند پاڼو د سم والي او ناسم والي په اړه شته معلومات د کورنیو چارو وزارت، مالیې وزارت، سوداګرۍ او صنعت وزارت او د احصائیې د ملي ادارې اړوندو ادارو ته لیږلي او په دې اړه یې ترې معلومات ترلاسه کړي دي.

**د حقیقي او حُکمي اشخاصو د بانکي حسابونو کنګل کول:**

د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز د معقولو دلایلو پر بنسټ د موضوع د ارزښت او استعجالیت په پام کې نیولو سره، توانېدلی څو د ۳۴ تنو حقیقي او حُکمي اشخاصو بانکي حسابونه د نشه يي توکو د قاچاق، پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل په تور د قانون پلي کوونکو ادارو لکه؛ د ملي امنیت لوی ریاست، د اداري فساد د درنو جرمونو پر وړاندې د مبارزې د ځانګړې څارنوالۍ د عمومي ریاست، عدلي او قضایي مرکز، د درنو جرمونو پر وړاندې د مبارزې ریاست، د اطلاعاتو او څېړنو ادارې او د نشه يي موادو پر وړاندې د مبارزې د معینیت د حساسو پلټنو د ادارې د غوښتنلیکونو پر بنسټ د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوي د قانون د ۳۷ مادې د حکم له مخې کنګل کړي دي په یادو بانکي حسابونو کې د کنګل شویو پیسو مبلغونه په ټولیزه توګه ۵۱،۵۳۸،۱۷۸ افغانی او ۲،۴۶۶،۹۸۴ امریکایي ډالرو ته رسیږي.

**د مالي اطلاعاتو د تبادلې په اړه لاسلیک شوي هوکړه لیکونه:**

- **د مالي اطلاعاتو د تبادلې په اړه د ملي امنیت له لوی ریاست سره د همکارۍ لاسلیک شوي هوکړه لیکونه:**

د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوي د قانون د ۲۸ مادې د حکم پر بنسټ، د مالي اطلاعاتو د تبادلې په اړه د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې د مرکز او د ملي امنیت د لوی ریاست ترمنځ د هېواد د نافذه قوانینو په رڼا کې د اطلاعاتو او معلوماتو په تبادله کې د همکارۍ د زمینې برابرولو او همدا راز د اقتصادي جرمونو، پیسو وینځلو، د ترهګرۍ د تمویل، د هېواد دننه د اصلي جرمونو له امله ترلاسه شوې شکمنې شتمنۍ د تشخیص په موخه د کشف، تثبیت، څېړنې او پلټنې د ترسره کولو او د بهرنیو هېوادونو د مالي استخباراتو له ادارو سره د اطلاعاتو د تبادلې د همکارۍ په موخه په ۱۳۹۸/۰۱/۲۴ نېټه د همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک شوی دی.

د یادونې وړ ده چې د ملي امنیت د لوی ریاست اړوندو ادارو د پیسو وینځلو، د ترهګرۍ د تمویل او نورو اصلي جرمونو سره په مبارزه کې د قانون او مخکنیو هوکړه لیکونو په رڼا کې د اطلاعاتو د تبادلې په برخه کې له دې وړاندې هم اړینې همکارۍ کړي دي.

- **د مالي اطلاعاتو د تبادلې په اړه له لویې ځارنوالۍ سره د همکارۍ هوکړه لیک:**

د افغانستان بانک د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ له تمویل سره په مبارزه کې د اطلاعاتو د تبادلې په موخه د هېواد د نافذه قوانینو په رڼا کې د ۱۳۹۸ کال د لړم په ۹ نېټه له لویې ځارنوالۍ سره د همکارۍ هوکړه لیک لاسلیک کړی دی. د دې هوکړه لیک موخه د همکارۍ د اډانې رامنځته کول، د مالي اطلاعاتو د تبادلې چټکوالی، د پیسو وینځلو، د ترهګرۍ د تمویل او نورو اصلي جرمونو سره په مبارزه کې د یو میکانیزم او اغیزناکې همغږۍ رامنځته کول په ګوته شوي دي.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز له لویې ځارنوالۍ سره په دې برخه کې هر اړخیزې همکارۍ درلودلې دي، او دا همکاري د دې لامل شوي څو د پیسو وینځلو، د ترهګرۍ د تمویل او نورو اصلي جرمونو سره په مبارزه کې غوره پایلې ترلاسه او د دواړو ادارو ترمنځ تخنیکي همکاري لا زیاته شي.

**نړیوالې همکارۍ:**

په ټولیزه توګه، د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې ۶۴ بهرنی رالیږل شویو (Inbound) غوښتنلیکونو او بهرنی لیږل شویو (Outbound) غوښتنلکیونو ته رسېدنه شوې. د بهرنیو هېوادونود مالي استخباراتو له ادارو څخه د اطلاعاتو د ترلاسه کولو په موخه ۱۱ غوښتنلیکونه بهر ته لیږل شوي او ۵۳ بهرني رالیږل شویو غوښتنلکیونو ته ځواب ویل شوی دی. په ټولیزه توګه، په بهرني رالیږل شویو او بهرني لیږل شویو غوښتنلیکونو کې د حقوقي او حُکمي اشخاصو په ګډون ۱۵۶ تنه شامل دي.

**نړیوال هوکړه لیکونه**

د افغانستان بانک د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې دوه نړیوال هوکړه لیکونه لاسلیك کړي دي. د دې هوکړه لیکونو له ډلې، یو یې د مالیزیا د نګارا بانک د مالي استخباراتو له ادارې سره د همکارۍ د اډانې د رامنځته کولو، د مالي اطلاعاتو د تبادلې د لا چټکتیا، د پیسو وینځلو، د ترهګرۍ د تمویل او له نورو اصلي جرمونو سره په مبارزه کې د یو میکانیزم او اغیزناکې د همغږۍ د رامنځته کولو په اړه د دواړو هېوادونو د مالي استخباراتو د ادارو لخوا لاسلیك شوی او بل هوکړه لیک د پیسو وینځلو، د ترهګرۍ د تمویل او د نورو اصلي جرمونو په اړه د مالي اطلاعاتو د تبادلې په موخه د ازبکستان د لویې ځارنوالۍ د اقتصادي جرمونو سره د مبارزې له ادارې سره لاسلیك شوی دی.

**د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل د ملي خطرونو ارزونه:**

د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوي د قانون د حکمونو پر بنسټ، د مالي کړنو د کاري ډلې ( FATF) لومړۍ سپارښتنه او د پیسو د نړیوال صندوق سپارښتنه او د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل د ملي خطرونو ارزونه د دولتي او خصوصي سکتور د استازو په ګډون د نړیوال بانک د موډل مطابق په بیلابیلو سکتورونو کې د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل د زیانمنیدنو د پېژندلو یادو خطرونو د ارزونې په موخه او د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ له تمویل سره د مبارزې د اغیزناکتیا د زیاتوالي په موخه د لومړیتوبونو پېژندل د ۲۰۱۸ کال د جنورۍ له میاشتې راپدېخوا پیل شوي دي. د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د

تمویل د ملي خطرونو د ارزونې پروسه د پنځو کاري ډلو لخوا نهایي او د راپور مسوده او کاري پلان یې د پروسې په وروستي ورکشاپ کې د اړوندو ادارو مسئولینو ته وړاندې شوي دي.


**د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې د همغږۍ عالي کمیسیون:**

د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مخنیوي د قانون په ۳۳ ماده کې د راغلو تعدیلونو پر بنسټ، د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې د همغږۍ عالي کمیسیون د پیسو وینځلو او له جرمونو څخه د ترلاسه شویو عوایدو د مبارزې او د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې په برخه کې د دولتي ادارو ترمنځ د لا همغږۍ په موخه د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د لسو دولتي ادارو په ګډون دوه ناستې کړې دي.

# بودجه او مالي صورت حساب

د افغانستان بانک د بودجې او د عوایدو او لګښتونو د شقوقو ترتیبول د افغانستان بانک د مالي او محاسبې د لوی آمریت مسئولیتونه او دندې ګڼل کیږي. د بودجې جوړولو بهیر د عالي شورا د غونډې له جوړیدو درې میاشتې مخکې د مالي کال د څلورمې ربعې په اوږدو کې په عملي توګه پیلیږي. لومړی د شعبو اړتیاوې را ټولیږي او د هغو پر بنسټ نهایي بودجه ترتیب کیږي. د مالي چارو او محاسبې لوی آمریت ترتیب شوې بودجه د بودجې کمیټې ته وړاندې کوي. عادي او انکشافي بودجه له طی مراحلو او کره ارزونې وروسته په نهایي پړاو کې د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا تصویب او منظوریږي.

(۴۳) ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د بودجې د بنسټیزو شقوقو زیاتوالی او کموالی




**۱. عواید:** په دې برخه کې د کمېشنونو عواید، د ټکټانې او د اسعارو د پانګونې عواید، نور عواید، د کابل بانک د پور د ټکټانې عواید، د اسعارو له پلور څخه ترلاسه شوي حقیقي عواید او د مرستو له درکه تر لاسه شوي عواید شامل دي.

**د کمیشنونو عواید:** دې برخې، د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د پلان شوې بودجې په پرتله ۹ سلنه زیاتوالی موندلی دی.

**د اسعارو له پانګونې څخه د ټکټانې عواید:** د مالي کال په دویمه ربعه کې د بانک د پانګونو له درکه د ټکټانې تر لاسه شوي حقیقي عواید د ټاکل شوې بودجې په پرتله د پام وړ زیاتوالی ښکاره کوي چې لامل یې په نړیوالو بازارونو کې د ټکټانې د نرخ لوړوالی ګڼل کیږي.

**نور عواید:** د نورو عوایدو د ۱۳۹۸ مالي کال حقیقي شمېرې د پلان شوې بودجې په پرتله په ټولیزه توګه ۲۰۶ سلنه زیاتې شوې چې په ۱۳۹۸ مالي کال کې د سوداګریزو بانکونو د جریمو او همدا ډول د تدارکاتي قراردادونو د ځنډېدو د جریمو د کچې زیاتوالی یې ستر لاملونه دي.

**د کابل بانک د پور د ټکټانې عواید:** د دې برخې حقیقي ارقام د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کېد پلان شوې بودجې په پرتله زیاتوالی او کموالی نه ښکاره کوي.

**د اسعارو له پلورلو څخه تر لاسه شوي عواید:** د ۱۳۹۸ مالي کال په دویمه ربعه کې د دې برخې په ارقامو کې د پلان شوې بودجې په پرتله ۲۰ سلنه زیاتوالی راغلی دی چې لامل یې د افغانیو پر وړاندې د اسعارو د نرخ لوړېدل ګڼل کیږي.

**له مرستو څخه تر لاسه شوي عواید:** دا برخه د مرستې له لارې د ترلاسه شوي تجهیزاتو عواید رانغاړي چې په ۱۳۹۸ مالي کال کې حقیقي کچه یې د پلان شوې بودجې په پرتله ۴۷ سلنه کموالی ښکاره کوي چې مهم لامل یې د مالي ټېنګښت د پروژو د آمریت د اړونده پروژو نه تطبیقول ګڼل کیږي.

(۴۴) ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د عوایدو د عمده او بنسټیزو شقوقو زیاتوالي او کموالي





**۲. لګښتونه:** په دې برخه کې احتمالي د نه تمې وړ پېښو، عملیاتي لګښتونه، د کارکوونکو د معاشونو او امتیازونو شقوق او د استهلاکونو لګښتونه شامل دي.

**عملیاتي:** د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د عملیاتي لګښتونو د بودجې حقیقي شمېرې ښکاره کوي چې د دې برخې ټولیزه لګښتونه د پلان شوې بودجې په پرتله ۱۴ سلنه کم اټکل شوي دي چې اصلي لامل یې د بیه لرونکو پاڼو په لیلام کې کموالی ګڼل کېږي.

**د کارکوونکو د معاشونو او امتیازونو شقوق:** په ۱۳۹۸ مالي کال کې د معاشونو د لګښتونو حقیقي شمېرې په پرسونلي برخه کې د پلان شوې بودجې په پرتله ۳ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي چې دا زیاتوالی معمولي دی او د پام وړ بدلونونه له ځان سره نلري.

**۱.۲ د استهلاکونو لګښتونه:** په ۱۳۹۸ مالي کال کې د استهلاکونو د برخې حقیقي شمېرې ( ارقام ) د پلان شوي بودجې په پرتله ۱۶۶ سلنه زیاتوالی ښکاره کوي. دا زیاتوالی د ثابتو شتمنیو په پروسیجر کې د بدلون له کبله را منځ ته شوی چې د انکشافي سافت ویرونو اقتصادي ژوند یې له پنځو کلنو څخه دوو کلنو ته را کم کړی دی او همدا ډول په ځینو زونونو کې د FAMS د پروسې تطبیق یې هم لامل ګڼل کېږي چې په تطبیقولو سره یې هغه اثاثیې هم په سیستم کې شاملې شوې چې پخوا یې پکې شتون نه درلود.

(۴۵) ګراف: د ۱۳۹۸ مالي کال د لګښتونو د عمده او بنسټیزو شقوقو زیاتوالي او کموالي




**۳. د اثاثیې، تجهیزاتو او تعمیراتي پراختیایي لګښتونه:** دا برخه کارکوونکو ته پورونه، تعمیراتي او د اثاثیې لګښتونه او تجهیزات رانغاړي.

**کارکوونکو ته پورونه:** په ۱۳۹۸ مالي کال کې د دې برخې حقیقي ارقام د پلان شوې بودجې په پرتله ۶۷ سلنه کم شوي دي. د دې کموالي اصلي لامل د کور پېرلو لپاره د کارکوونکو د پورونو نه اخیستل دي.

**تعمیراتي:** په دې برخه کې د افغانستان بانک د مرکزي دفتر او ولایتي نماینده ګیو د نویو ودانیو او احاطو جوړول شامل دي چې حقیقي شمېرې یې په ۱۳۹۸ مالي کال کې د پراختیایي او تعمیراتي پروژو ۱۰۰ سلنه نه تطبیق په ګوته کوي.

**د اثاثیو او تجهیزاتو لګښتونه:** په دې برخه کې د فرنیچر، اثاثیې، بریښنایي اثاثیې، موټرونو، د کمپیوټرونو او پرنټرونو، د تکنالوژیکي وسایلو تجهیزاتو، د بانکنوټونو چاپول او د متفرقه برخو تجهیزاتو او پوسټ کالیو (سافټ ویرونو) لګښتونه شامل دي چې حقیقي شمېرې یې په ۱۳۹۸ مالي کال کې د پلان شوي بودجې په پرتله ۸۰ سلنه کموالی

ښکاره کوي چې د دې کموالي بنسټيز لامل په ۱۳۹۸ مالي کال کې له تدارکاتي پلان سره سم د موټرونو نه پېرل په ګوته کېږي.

(۴۶) ګراف: په ۱۳۹۸ مالي کال کې د تجهيزاتو اثاثيې او د تعميراتي پراختيايي لګښتونو د عمده او بنسټيزو شقوقو زياتوالی او کموالی ښکاره کوي



**د افغانستان بانک**

**د مالي و ضعیت صورت حساب**

**د کال پای، د ۱۳۹۸ مالي کال د لیندۍ ۳۰ مه نېټه (د ۲۰۱۹ کال د دیسمبر۲۱ مه)**

| | یادښت | ۱۳۹۸ د لیندۍ ۳۰ (۲۰۱۹ د ډیسمبر ۲۱) | ۱۳۹۷ د لیندۍ ۳۰ (۲۰۱۹ د ډیسمبر ۲۱) |
|---|---|---|---|
| | | ............... (په ۰۰۰ افغانۍ) | ..................... |
| **شتمنۍ** | | | |
| د سرو زرو زېرمې | ۷ | ۸۱،٤۰۰،٥٦١ | ۶۶،۱۷۸،۵۹۱ |
| د اسعارو نغدی زېرمې | ۸ | ١٩،٥٨٣،٣٣٦ | ۲۳،۰۴۸،۲۳۶ |
| د بانکونو او مالي مؤسسو ذمت | ۹ | ٣٥٥،٥٧٠،٣٥٣ | ۳۲۵،۶۷۵،۳۲۷ |
| پانګونې | ۱۰ | ٢١٨،٢٦٤،١٠٦ | ۲۰۷،۱۴۶،۶۰۴ |
| د پور ورکونې د وروستي مرجع په توګه طلبات | ۱۱ | ١٦٦،٧٩٣ | ۶،۹۶۱،۸۸۵ |
| مخکې ورکړې او نورې د حصول وړ شتمنۍ | ۱۲ | ١،٧١٠،٣٧٠ | ۲،۰۴۶،۰۰۴ |
| عملیاتي ثابتې شتمنۍ | ۱۳ | ٥،٣٧٦،٧٩٢ | ۵،۳۹۵،۹۱۳ |
| نا ملموسې شتمنۍ | ١٤ | ٢٣،٢٦٨ | ۶۲،۰۲۶ |
| نورې شتمنۍ | ١٥ | ١٣،٤٩١،٦٥٠ | ۱۳،۴۵۱،۵۹۶ |
| **ټولیزه شتمنۍ** | | ٦٩٥،٥٨٧،٢٢٩ | ۶۴۹،۹۶۶،۱۸۲ |
| **پوراینې او پانګې (اکویټي)** | | | |
| **پوراینې** | | | |
| په ګردښت کې پیسې | ١٦ | ٢٥٩،٣٤٨،٢٥٩ | ۲۲۸،۰۵۵،۵۷۸ |
| پانګه ایزې پانې (د پور سندونه) | ۱۷ | ٢٤،٧٧٥،١٧٣ | ۳۳،۶۹۸،۶۵۰ |
| د بانکونو او نورو مالي ادارو له کبله پوراینې | ۱۸ | ٩٧،٢٢٤،٠٢٤ | ۹۰،۶۵۱،۲۳۹ |
| د پیرودونکو له کبله پوراینې | ۱۹ | ١٣٠،١٢١،٤٨٢ | ۱۳۶،۵۱۶،۲۷۹ |
| د پیسو نړیوال صندوق اړوندې پوراینې | ۲۰ | ٣،٠٠٣،٦٠٠ | ۲،۴۱۸،۷۸۴ |
| د متقاعدینو حقونه | ۲۱ | ١،٧٦٩،٩٠٣ | ۱،۶۴۶،۰۳۳ |
| بې بدیله مرستې (بخششی) | ۲۲ | ١٤٢،١٨٢ | ۱۵۵،۹۳۳ |
| زېرمې او نورې پوراینې | ۲۳ | ١٤،٤٧٩،٩٠٩ | ۱۰،۰۵۱،۶۴۰ |
| **ټولیزې پوراینې** | | ٥٣٠،٨٦٤،٥٣٢ | ۵۰۳،۱۹۴،۱۳۶ |
| **پانګه (اکویټي)** | | | |
| پانګه | ٢٤ | ٢٥،٣٩٨،٠٣٤ | ۲۴،۲۲۱،۶۴۹ |
| بیا ارزښت موندونکې زېرمې | ٢٤ | ٨٢،٢٧٣،٨٩٨ | ۶۴،۹۸۷،۵۱۸ |
| د پانګې (اکویټي) نورې برخې | ٢٤ | ٣١،٦٥٢،٧٣١ | ۳۳،۳۴۱،۲۳۰ |
| عمومي زېرمې | ٢٤ | ٢٥،٣٩٨،٠٣٤ | ۲۴،۲۲۱،۶۴۹ |
| *د زېرمه کولو ګټه* | | – | – |
| **ټولیزه پانګه (اکویټي)** | | ١٦٤،٧٢٢،٦٩٧ | ۱۴۶،۷۷۲،۰۴۶ |
| **ټولیزې پوراینې او پانګې** | ٢٥ | ٦٩٥،٥٨٧،٢٢٩ | ۶۴۹،۹۶۶،۱۸۲ |

احتمالات او ژمنې

له (۱) سخه تر (۳۷) شمیرې پورې پورته یاد شوي یادښتونه د مالي راپور بنسټیزې برخې دي.

**د افغانستان بانک**

**د ګټې او زیان صورت حساب**

**د کال پای، د ۱۳۹۸مالي کال د لیندۍ ۳۰ مه نېټه (د ۲۰۱۹ کال د دیسمبر۲۱ مه)**

| | | ۱۳۹۸ د لیندۍ ۳۰ (۲۰۱۹ د ډیسمبر ۲۱) | ۱۳۹۷ د لیندۍ ۳۰ (۲۰۱۸ د ډیسمبر ۲۱) |
|---|---|---|---|
| | | ..............(په ۰۰۰ افغانۍ) | .................. |
| د ټکټاني عواید | ۲٦ | ۹,۵۲۵,۳۵۵ | ۷,۳۸۶,۳۲۹ |
| د ټکټاني لګښتونه | ۲۷ | (۱۷۵,۱۵۵) | (۱۲۷,۷۱۴) |
| **د ټکټاني خالصه عواید** | | ۹,۳۵۰,۲۰۰ | ۷,۲۵۸,۶۱۵ |
| د فیس او کمېشن عواید | | ۲۳۵,۸۸٤ | ۲۶۹,۷۷۱ |
| د فیس او کمېشن لګښتونه | | (۱٤۱,۲۰۷) | (۱۷۹,۰۷۹) |
| **د فیس او کمېشن خالصه عواید** | | ۹٤,٦۷۷ | ۹۰,۶۹۲ |
| د اسعاري معاملو حقیقي خالصه ګټه | | ۲۱,۰۳۹,۸۵۲ | ۱۴,۴۳۵,۹۸۸ |
| په نورو هر اړخیزه شتمنیو کې د مناسب ارزښت له کبله د سنجش شویو مالي شتمنیو خالصه ګټه/ زیان | | ۲,۲۳۹,۳٦۷ | (۱,۲۸۲,۶۵۲) |
| نور عواید | ۲۸ | ۸۰۷,٦۳۲ | ۱,۰۴۹,۳۰۴ |
| | | ۲٤,۰۸٦,۸۵۱ | ۱۴,۲۰۲,۶۴۰ |
| **عملیاتي عواید** | | ۳۳,۵۳۱,۷۲۸ | ۲۱,۵۵۱,۹۴۷ |
| د کارکوونکو لګښتونه | ۲۹ | (۱,۷۱۱,۹۷٤) | (۱,۴۸۵,۳۹۴) |
| د بانکنوټونو د چاپ لګښتونه | ۱۲.۳ | (۲۸۰,۹۲٤) | (۸۱,۲۳۸) |
| نور عملیاتي لګښتونه | ۳۰ | (۵۱۵,٤۲٦) | (۶۶۱,۱۶۵) |
| د ارزښت د کموالي یا استهلاکي لګښتونه | ۱۳.۲ ۱٤ | (۱۰٤,۳۳۰) | (۸۲,۲۷۱) |
| **خالصه عملیاتي عواید** | | ۳۰,۹۱۹,۰۷٤ | ۱۹,۲۴۱,۸۷۹ |

**غیر عملیاتي عواید او لګښتونه**

| | | | |
|---|---|---|---|
| د ځنډول شویو مالي مرستو پر وړاندې پېژندل شوي عواید | ۲۲ | ۱۱۹,۲٤٤ | ۳۹,۹۳۵ |
| د مرستو پر وړاندې لګښتونه | ۳۱ | (۱۱۹,۲٤٤) | (۳۹,۹۳۵) |
| | | – | – |
| د اسعارو د مبادلې غیر حقیقي خالصه ګټه | ۲٤.۳ | (۱,٦۸۸,۳٦۲) | ۱۰,۶۰۲,۱۴۵ |
| **د روان کال ګټه** | | ۲۹,۲۳۰,۷۱۲ | ۲۹,۸۴۴,۰۲۴ |

له (۱) څخه تر (۳۷) شمیرې پورې پورته یاد شوي یادښتونه د مالي راپور بنسټیزې برخې دي.

**د افغانستان بانک**

**د نورو هر اړخیزه عوایدو صورت حساب**

**د کال پای، د ۱۳۹۸مالي کال د لیندۍ ۳۰ مه نېټه (د ۲۰۱۹ کال د دسمبر ۲۱مه)**

| | | ۱۳۹۸ د لیندۍ ۳۰ (۲۰۱۹ د ډسمبر ۲۱) | ۱۳۹۷ د لیندۍ ۳۰ (۲۰۱۸ د ډسمبر ۲۱) |
|---|---|---|---|
| | | ............... (په ۰۰۰ افغانۍ) | .................... |
| **د روان کال ګټه** | | ۲۹,۲۳۰,۷۱۲ | ۲۹,۸۴۴,۰۲۴ |
| **نور هر اړخیز عواید** | | | |
| **هغه توکي چې په راتلونکو دورو کې د ګټې او زیان صورت حسابونو ته لیږل کیږي** | | | |
| د سرو زرو د زېرمو د بیا ارزښت موندنې له درکه ګټه | ۷ | ۱۵,۲۲۱,۹٦۸ | ۴,۵۱۰,۰۲۰ |
| په نورو هر اړخیزه عوایدو کې د مناسب ارزښت او د پوراینو د ابزارونو په مناسب ارزښت کې د بدلونو له کبله خالصه ګټه | | ۲,۰۵۷,۳۵۹ | ۱,۱۴۵,۰۲۰ |
| د نورو هر اړخیزه عوایدو په مناسب ارزښت کې د پوراینې د ابزارونو د سنجش شوي اعتباري زیان لپاره په ټولو لګښتونو کې بدلونو | | (۱,۳۱۷) | - |
| **د روان کال نور هر اړخیزه عواید** | | ۱۷,۲۷۸,۰۱۰ | ۵,۶۵۵,۰۴۰ |
| **د کال ټولیزه هر اړخیزه عواید** | | ٤٦,۵۰۸,۷۲۲ | ۳۵,۴۹۹,۰۶۴ |

له ۱ څخه تر ۳۷ شمیرې پورې پورته یاد شوي یادښتونه د مالي راپور بنسټیزې برخې دي.

**د افغانستان بانک**

**د نغدي جریانونو صورت حساب**

**د کال پای، د ۱۳۹۸ مالي کال د لیندۍ ۳۰ مه نېټه (د ۲۰۱۹ کال د دسمبر ۲۱مه)**

| | یادداښت | ۱۳۹۸ د لیندۍ ۳۰ (۲۰۱۹ د ډسمبر ۲۱) | ۱۳۹۷ د لیندۍ ۳۰ (۲۰۱۸ د ډسمبر ۲۱) |
|---|---|---|---|
| | | .............. (په ۰۰۰ افغانۍ) .................... | |
| **د عملیاتي کړنو نغدي جریانونه (بهیدنې)** | | | |
| **د کال ګټه/زیان** | | ۲۹،۲۳۰،۷۱۲ | ۲۹،۸۴۴،۰۲۴ |
| **تعدیلات:** | | | |
| د ارزښت کمیدنه او استهلاک | ۱۴ و ۱۳.۲ | ۱۰٤،۳۳۰ | ۸۲،۲۷۱ |
| د ټکټاني عواید | ۲٦ | (۹،٥۲٥،۳٥٥) | (۷،۳۸۶،۳۲۹) |
| د ټکټاني لګښتونه | ۲۷ | ۱۷٥،۱٥٥ | ۱۲۷،۷۱۴ |
| د مرستو عواید | ۲۲ | (۱۱۹،۲٤٤) | (۳۹،۹۳۵) |
| د مرستو لګښتونه | ۳۱ | ۱۱۹،۲٤٤ | ۳۹،۹۳۵ |
| د تمې وړ اعتباري زیان ترلاسه کول (حصول) | ۲۸ | (٤۰۷،۷۰۰) | (۳۵۳،۸۱۴) |
| د نمایندګیو ترمنځ د حسابونو د بیلانس له منځه وړل (حذف) | ۳۰ | ۲٦،۱۱۷ | – |
| | | ۱۹،٦۰۳،۲٥۹ | ۲۲،۳۱۳،۸۶۶ |
| **د کاري پانګې تعدیلات:** | | | |
| د بانکونو او نورو مالي مؤسسو په طلباتو کې کموالی/زیاتوالی | ۹ | ۱٤۰،۷۹۰،۲٦۸ | (۱۱۱،۸۲۹،۱۶۰) |
| د پور ورکوني د وروستۍ مرجع په توګه په مرستو کې کموالی/ زیاتوالی | ۱۱ | ٦،۷۹٥،۰۹۲ | ۷،۴۷۲،۹۵۹ |
| په مخکې ورکړو او نورو ترلاسه کېدونکو حسابونو کې کموالی/ زیاتوالی | ۱۲ | ۳۱٦،٥۲۳ | (۶۱،۵۱۴) |
| په نورو شتمنیو کې کموالی | ۱٥ | ۱،٦۱۷ | ۱۶،۳۲۴ |
| د پیسو په ګردښت کې کموالی/ زیاتوالی | ۱٦ | ۳۱،۲۹۲،٦۸۱ | (۵۷۸،۳۷۸) |
| بانکونو او نورو مالی مؤسسو ته په پوراینه کې کموالی/ زیاتوالی | ۱۸ | ٦،٥۷۲،۷۸٥ | (۱۶،۲۶۸،۱۳۳) |
| د پیرودونکو په پوراینو کې کموالی/ زیاتوالی | ۱۹ | (٦،۳۹٤،۷۹۷) | ۲۷،۳۹۹،۸۰۲ |
| د پیسو نړیوال صندوق اړوند پوراینو کې کموالی/ زیاتوالی | ۲۰ | ٥۸٤،۸۱٦ | ۱،۰۱۶،۱۱۸ |
| د مرستې په ځانګړې مکلفیتونو کې زیاتوالی | ۲۱ | ۱۲۳،۸۷۰ | ۱۷۸،۴۹۹ |
| په تامیناتو او نورو پوراینو کې زیاتوالی | ۲۳ | ٦۳٤،۲۲٥ | ۸،۷۸۹،۶۰۹ |
| | | ۱۸۰،۷۱۷،۰۸۰ | (۸۳،۸۶۳،۸۷۴) |
| | | ۲۰۰،۳۲۰،۳۳۹ | (۶۱،۵۵۰،۰۰۸) |
| تر لاسه شوې ټکټانه | | ۹،٤۸٥،٥۳۲ | ۶،۹۳۵،۶۵۹ |
| ورکړل شوې ټکټانه | | (۱۷٥،۱٥٥) | (۱۲۷،۷۱۴) |
| تر لاسه شوې مرستې | ۲۲ | ۱۲،۳٦٥ | ۸۴،۴۳۹ |
| **د عملیاتي کړنو له درکه نغدي خالصه جریانونه (بهېدنې)** | | ۲۰۹،٦٤۳،۰۸۱ | (۵۴،۶۵۷،۶۲۴) |
| **د پانګونې د کړنو له درکه نغدي جریانونه** | | | |
| د کال په اوږدو کې پانګونې | | (۹،۰٦۰،۱٤۳) | (۱۴،۵۸۱،۸۷۷) |
| د تابع شرکت اوړد مهاله خالصې شتمنۍ | | (٤،۳٦۲) | – |
| د شتمنیو او تجهیزاتو پیرل | ۱۳.۲ | (۷۱،٤۰٤) | (۲۰۰،۲۶۹) |
| د نه لیدیدونکو شتمنیو پیرل | ۱٤ | (۲،۱٥۷) | (۴،۵۷۰) |
| د ثابتو شتمنیو د پلور له درکه عواید | | ٦،۱۲٦ | (۴۹۳) |
| **د پانګونې د کړنو له درکه خالصه نغدي جریانونه** | | (۹،۱۳۱،۹٤۰) | (۱۴،۷۸۷،۲۰۹) |
| **د مالي کړنو له درکه نغدي جریانونه** | | | |
| د پانګه ایزو پاټو د بیا ورکړې له درکه عواید | | (۸،۹۲۳،٤۷۷) | (۵،۲۶۵،۲۱۲) |
| د مالیې وزارت ته د ګټې ورکړه | | (۲۳،۹۸۹،۱٥۹) | – |

| | | | |
|---|---|---|---|
| د مالي کړنو له درکه خالصه نغدي جريانونه | | (۳۲،۹۱۲،٦۳٦) | (۵،۲۶۵،۲۱۲) |
| | | | |
| په نغدي پيسو او د هغه په معادل کې زياتوالى او کموالى | | ۱٦۷،۵۹۸،۵۰۵ | (۷۴،۷۱۰،۰۴۵) |
| **د کال په پيل کې نغدي پيسې يا د هغه معادل** | | **۱۲۸،۳۸٦،۸۹۲** | ۲۰۳،۰۹۶،۹۳۷ |
| **د کال په پاى کې نغدي پيسې يا د هغه معادل** | ۳۲ | **۲۹۵،۹۸۵،۳۹۷** | ۱۲۸،۳۸۶،۸۹۲ |

له ۱څخه تر۳۷ شمېرې پورې پورته ياد شوي يادښتونه د مالي راپور بنسټيزې برخې دي.

**د افغانستان بانک**

**د پانګې د بدلون صورت حساب**

**د کال پای، د ۱۳۹۸مالي کال د لیندۍ ۳۰ مه نېټه (د ۲۰۱۹ کال د دیسمبر ۲۱مه)**

| | بیا ارزښت موندونکې زیرمې | | | | | د پانګې نورې برخې | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | پانګه | د مناسب ارزښت د سنجش له مخې د مالي شتمنیو تحقق نه موندونکې خالصه ګټه/ زیان | ځمکه | سره زر | د زېرمو ټولیزه ارزښت ټاکنه | د اسعارو د مبادلې له درکه زېرمې | د بیا ارزښت ټاکنې له درکه غیرې حقیقي خالصه ګټه | پانګې ټولیزه نورې برخې | عمومي زېرمې | راټوله شوې ګټه | ټولیزه ګټه |
| | (په ۰۰۰ افغانۍ) | | | | | | | | | | |
| **د ۱۳۹۶ کال د مرغومې د لومړی نیټې بیلانس ( ۲۰۱۷ د دسمبر ۲۲)** | ۲۳,۵۲۰,۲۵۰ | (۴۰,۸۶۳) | ۹۳۶,۴۷۷ | ۵۸,۴۳۶,۸۶۴ | ۵۹,۳۳۲,۴۷۸ | ۱۳۷ | ۲۲,۷۳۸,۹۴۸ | ۲۲,۷۳۹,۰۸۵ | ۲۳,۵۲۰,۲۵۰ | (۸,۸۴۷,۸۵۵) | ۱۲۰,۲۶۴,۲۰۸ |
| **د کال ټولیز هر اړخیزه عواید** | | | | | | | | | | | |
| **د کال ګټه** | – | – | – | – | – | – | – | – | – | ۲۹,۸۴۴,۰۲۴ | ۲۹,۸۴۴,۰۲۴ |
| **نور هر اړخیزه عواید** | | | | | | | | | | | |
| د نورو هر اړخیزه عوایدو په مناسب ارزښت سره سنجول شوې مالي شتمنۍ | – | ۱,۱۴۵,۰۲۰ | – | – | ۱,۱۴۵,۰۲۰ | – | – | – | – | – | ۱,۱۴۵,۰۲۰ |
| د سرو زرو د زیرمو د بیا ارزښت ټاکنې له درکه ترلاسه شوې ګټه | – | – | – | ۴,۵۱۰,۰۲۰ | ۴,۵۱۰,۰۲۰ | – | – | – | – | – | ۴,۵۱۰,۰۲۰ |
| **نور هر اړخیزه ټولیز عواید** | – | ۱,۱۴۵,۰۲۰ | – | ۴,۵۱۰,۰۲۰ | ۵,۶۵۵,۰۴۰ | – | – | – | – | – | ۵,۶۵۵,۰۴۰ |
| **د کال ټولیز هر اړخیزه عواید** | – | ۱,۱۴۵,۰۲۰ | – | ۴,۵۱۰,۰۲۰ | ۵,۶۵۵,۰۴۰ | – | – | – | – | ۲۹,۸۴۴,۰۲۴ | ۳۵,۴۹۹,۰۶۴ |
| **په پانګه (اکویټي) کې په مستقیمه توګه ثبت شوې معاملې** | | | | | | | | | | | |
| پانګې ته لیږدونې | ۷۰۱,۳۹۹ | – | – | – | – | – | – | – | – | (۷۰۱,۳۹۹) | – |
| عمومي زیرمو (خزانې) ته لیږدونې | – | – | – | – | – | – | – | – | ۷۰۱,۳۹۹ | (۷۰۱,۳۹۹) | – |
| مالیې وزارت ته لیږدونې | – | – | – | – | – | – | – | – | – | (۸,۹۹۱,۲۲۶) | (۸,۹۹۱,۲۲۶) |
| نا وېشل شوې زېرمې ته د پلورل شویو خالصه شتمنیو لیږدونې | – | – | – | – | – | – | ۱۰,۶۰۲,۱۴۵ | ۱۰,۶۰۲,۱۴۵ | – | (۱۰,۶۰۲,۱۴۵) | – |
| **د کال په پای کې پاتې بیلانس، ۱۳۹۷ د لیندۍ ۳۰ (۲۰۱۸ د دسمبر ۲۱)** | ۲۴,۲۲۱,۶۴۹ | ۱,۱۰۴,۱۵۷ | ۹۳۶,۴۷۷ | ۶۲,۹۴۶,۸۸۴ | ۶۴,۹۸۷,۵۱۸ | ۱۳۷ | ۳۳,۳۴۱,۰۹۳ | ۳۳,۳۴۱,۲۳۰ | ۲۴,۲۲۱,۶۴۹ | – | ۱۴۶,۷۷۲,۰۴۶ |
| د IFRS 9 د تطبیق اغیزه | – | ۸,۲۳۳ | – | – | ۸,۲۳۳ | – | – | – | – | (۸۰۹,۲۱۸) | (۸۰۰,۹۸۵) |
| **د کال پیل، د ۱۳۹۷ کال د مرغومې د لومړی نېټې بیلانس (۲۰۱۸ د دسمبر ۲۲)** | ۲۴,۲۲۱,۶۴۹ | ۱,۱۱۲,۳۹۰ | ۹۳۶,۴۷۷ | ۶۲,۹۴۶,۸۸۴ | ۶۴,۹۹۵,۷۵۱ | ۱۳۷ | ۳۳,۳۴۱,۰۹۳ | ۳۳,۳۴۱,۲۳۰ | ۲۴,۲۲۱,۶۴۹ | (۸۰۹,۲۱۸) | ۱۴۵,۹۷۱,۰۶۱ |
| **د کال ټولیز هر اړخیزه عواید** | | | | | | | | | | | |
| **د کال ګټه** | – | – | – | – | – | – | – | – | – | ۲۹,۲۳۰,۷۱۲ | ۲۹,۲۳۰,۷۱۲ |
| نور هر اړخیز عواید | | | | | | | | | | | |
| په نورو هر اړخیزه عوایدو کې د مناسبت ارزښت له کبله د پوراینو د ابزارونو په مناسب ارزښت کې د بدلونو له امله خالصه | – | ۲,۰۵۷,۳۵۹ | – | – | ۲,۰۵۷,۳۵۹ | – | – | – | – | – | ۲,۰۵۷,۳۵۹ |
| د نورو هر اړخیزه عوایدو په مناسب ارزښت کې د پوراینې د ابزارونو د سنجش شوي اعتباري زیان لپاره په لګښتونو کې بدلونونه | – | (۱,۳۱۷) | – | – | (۱,۳۱۷) | – | – | – | – | – | (۱,۳۱۷) |
| د سرو زرو د بیا ارزښت ټاکنې له درکه غیرې حقیقي خالصه زیان/ګته | – | – | – | ۱۵,۲۲۱,۹۶۸ | ۱۵,۲۲۱,۹۶۸ | – | – | – | – | – | ۱۵,۲۲۱,۹۶۸ |
| **نور ټولیزه هر اړخیزه عواید** | – | ۲,۰۵۶,۰۴۲ | – | ۱۵,۲۲۱,۹۶۸ | ۱۷,۲۷۸,۰۱۰ | – | – | – | – | – | ۱۷,۲۷۸,۰۱۰ |
| **د کال ټولیز هر اړخیزه ګټه/ عواید** | – | ۲,۰۵۶,۰۴۲ | – | ۱۵,۲۲۱,۹۶۸ | ۱۷,۲۷۸,۰۱۰ | – | – | – | – | ۲۹,۲۳۰,۷۱۲ | ۴۶,۵۰۸,۷۲۲ |
| **په پانګې(اکویټي) کې په مستقیمه توګه ثبت شوې معاملې** | | | | | | | | | | | |
| پانګې ته لیږدونې | ۱,۱۷۶,۳۸۵ | – | – | – | – | – | – | – | – | (۱,۱۷۶,۳۸۵) | – |
| عمومي زیرمو (خزانې) ته لیږدونې | – | – | – | – | – | – | – | – | ۱,۱۷۶,۳۸۵ | (۱,۱۷۶,۳۸۵) | – |
| د نورو هر اړخیزه عوایدو په مناسب ارزښت سره د سنجش شوي مالي شتمنیو خالصې نا ترلاسه شوې ګټې ته لیږدونې | – | ۱۳۷ | – | – | ۱۳۷ | (۱۳۷) | – | (۱۳۷) | – | – | – |
| مالیې وزارت ته لیږدونې | – | – | – | – | – | – | – | – | – | (۲۷,۷۵۷,۰۸۶) | (۲۷,۷۵۷,۰۸۶) |
| د بیا ارزښت ټاکنې له درکه د غیرې حقیقي خالصې ګټې لیږدونې | – | – | – | – | – | – | (۱,۶۸۸,۳۶۲) | (۱,۶۸۸,۳۶۲) | – | ۱,۶۸۸,۳۶۲ | – |
| **د کال پای، ۱۳۹۸ کال د لیندۍ د ۳۰ مې بیلانس (۲۰۱۹ د ډسمبر ۲۱)** | ۲۵,۳۹۸,۰۳۴ | ۳,۱۶۸,۵۶۹ | ۹۳۶,۴۷۷ | ۷۸,۱۶۸,۸۵۲ | ۸۲,۲۷۳,۸۹۸ | – | ۳۱,۶۵۲,۷۳۱ | ۳۱,۶۵۲,۷۳۱ | ۲۵,۳۹۸,۰۳۴ | – | ۱۶۴,۷۲۲,۶۹۷ |

له ۱ څخه تر (۳۷) شمیرې پورې پورته یاد شوې یادداښتونه د مالي راپور بنسټیزې برخې دي.

# د بانکي عملیاتو لوی آمریت

## د بانکي عملیاتو لوی آمریت

د افغانستان بانک د دولت او د بانکونو د بانکوال په توګه عمل کوي او په همدې بنسټ د بانکي عملیاتو لوی آمریت د افغانستان بانک په اډانه کې د دولتي ادارو، سوداګریزو بانکونو او د افغانستان بانک کار کوونکو لپاره بانکي خدمتونه وړاندې کوي.

دا آمریت د خپل کاري پلان له مخې د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې توانېدلی دی څو خپلې ټاکل شوې موخې ترلاسه کړي چې په لاندې ډول د دې آمریت له کړنو څخه په لنډه توګه یادونه کوو:

**الف- د نغدو پیسو او غیرنغدي معاملو اداره کول**

دا برخه د افغانۍ د سیالیت ساتل، د اسعاري سیالیت ساتل، د مندرسو بانکنوټونو د ټولولو او محوه کولو پروسه او د بانکي خدمتونو وړاندې کول را نغاړي.

**۱- د افغانۍ د سیالیت ساتل**

د افغانستان بانک د نمایندګیو د نقدینګۍ او سیالیت د ساتلو، د دولت د پولي لګښتونو د تأمینولو، د سوداګریزو بانکونو د نقدینګۍ او د ولسي تړون پروژو ته د اداینو په موخه ۳۲.۲ میلیارده افغانۍ، ۱۸۱ ځلې د ځمکې او هوا له لارې د افغانستان د امنیتي ادارو په همکارۍ ولایتونو ته لېږدول شوي دي. همدا ډول د مرکز د نقدینه ګۍ د تأمینولو او د نمایندګیو د پولي اناډول (محدودې) د ساتلو په موخه ۷۷ میلیارده افغانۍ، ۲۸۴.۸ میلیونه امریکایي ډالر، ۴۰۰ زره یورو او ۵۰۴ میلیونه سعودي ریال د نمایندګیو زیاتې پیسې ۲۶۰ ځلې په بریالیتوب سره له ولایتونو څخه مرکز ته لېږدولي او مرکزي خزانې ته زیاتې شوي دي.

**۲- د اسعارو د نقدینه ګۍ تأمینول**

د سوداګرۍ په بیلانس کې د اناډول د نه شتون په پام کې نیولو سره زمونږ هېواد د بهرنۍ سوداګرۍ د بیلانس د کسر تر اغیز لاندې راغلی دی چې دا ډول حالت د بهرنیو اسعارو د نقدینګۍ مدیریت له ستونزو سره مخ کوي. د اسعارو د نقدینګۍ مدیریت پر وړاندې له شته ستونزو او ننګونو سربېره، د افغانستان بانک وکولای شو چې په بازار کې د اسعارو په ځانګړي ډول د امریکایي ډالرو کسر مدیریت کړي.

**۳- د زړو بانکنوټونو د راټولولو او د له منځه وړلو پروسه**

د یوه منظم او ځواب ویونکي پولي نظام د درلودلو او په بازار کې د زړو بانکنوټونو د زیاتوالي د مخنیوي په موخه د افغانستان بانک په ټول هېواد کې د خپلو ۴۹ نمایندګیو او سوداګریزو بانکونو په مرسته د اړوندې لایحې په پام کې نیولو سره زاړه بانکنوټونه را ټول او معاوضه کوي او وروسته یې راټول شوې زړې پیسې د ملي شورا د استازو په ګډون د دولتي ادارو له استازو څخه د جوړ شوي پلاوي تر څار لاندې په مرکز او اړوندو زونونو کې له منځه وړي دي. د همدې کړنلارې پر بنسټ په ۱۳۹۸ مالي کال کې د ۳.۸ میلیارده افغانیو په ارزښت زاړه او مندرس بانکنوټونه د ګمارل شوي پلاوي تر څارلاندې له پولي دوران څخه ویستل شوي چې تر یو بریده پورې یې په بازار کې د زړو بانکنوټونو له زیاتوالي څخه مخنیوی کړی دی.

**۴- د بانکي خدمتونو وړاندې کول**

د بانکي عملیاتو لوی آمریت په چټکه، خوندي او شفافه توګه د بانکي خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې هیڅ ډول هڅه سپمولې نه ده او د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې یې د دولت

عواید په منظم ډول اړوندو حسابونو ته شامل کړي. د دولت لګښتونه او مالي اړتیاوې په وخت پوره شوي چې تر سره شوي عملیاتي اجرأات په لاندې دوو برخو کې تشریح کیږي.

- د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې سوداګریزو بانکونو، د ولسي تړون پروګرام، د افغانستان بانک او دولتي ادارو کار کوونکو ته ۶۶۱ بانکي حسابونه پرانېستل شوي او د مالیې وزارت او نورو مشتریانو ته ۱۵،۲۵۰ ټوکه چکبوکونه وېشل شوي دي.
- په ټولیزه توګه د دولت، بانکونو او نورو ادارو د افغانیو او اسعارو ۱۹۹،۰۰۰ معاملې په مرکزي دفتر کې پروسس شوي چې ټولې معاملې د ارزښت په پام کې نیولو سره په (۲۶) جدول کې وړاندې کیږي.

| د معاملې ډول | د اسعارو ډول | شمېر | ارزښت (ارقام په میلیارد) |
| --- | --- | --- | --- |
| انتقالیمعاملې | افغانۍ | ۵۷،۳۰۰ | ۲۰۳.۵۸ |
| | ډالري | ۲،۵۹۰ | ۵.۳۸ |
| | یورو | ۱۹۰ | ۰.۷ |
| نغدي معاملې | افغانۍ | ۹۹،۷۰۰ | ۵۴۰.۷۶ |
| | ډالري | ۳۸،۶۰۰ | ۷.۳۰ |
| | یورو | ۱،۴۹۰ | ۰.۱۷۰ |

**ب: اداري او پرمختیایي برخه**

دا برخه د مکتوبونو د لیږد او را لیږد، د تشکیلاتي جوړښت د نوي کولو، د بریښنایي ادراینو د سیستم د پرمختګ د طرحې او د افغانیو بانکنوټونو د بیا ځلي چاپ په اړه اقدمات را نغاړي.

**۱- د مکتوبونو لیږد او را لیږد**

د بانکي عملیاتو لوی آمریت د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې داخلي شعبو، د زونونو آمریتونو، سوداګریزو بانکونو، وزارتونو او ټولو بهرنیو ادارو ته چې د افغانستان بانک سره کاري اړیکې لري، ۱۲،۰۰۰ وارده او صادره لیکونه اجراء کړي دي او ترڅنګ یې د طرحه شوي پلان او پر خپل وخت د ترسره شویو اجرااتو پر بنسټ کاري راپور جوړ کړی او اړوندو برخوته یې لیږلی دی.

**۲- د تشکیلاتي جوړښت نوي کول**

د بانکي عملیاتو د لوی آمریت د کار کوونکو تشکیلاتي جوړښت او د دندو لایحه یوه لسیزه مخکې جوړ شوي ؤ چې د بانکي خدمتونو د وړاندې کولو د اوسنیو پرمختګونو سره یې سمون نه درلود او ستونزې یې هم له ځانه سره درلودې. د دې ستونزو د له منځه وړلو لپاره د دې آمریت تشکیل او د دندو لایحه د اړتیاوو په پام کې نیولو سره ترتیب او د وروستیو اجرااتو لپاره د بشري سرچینو لوی آمریت ته لیږدول شوې او په پایله کې د تشکیلاتو نوی جوړښت د عالي شورا لخوا منظور شو.

**۳- د بریښنایي ادراینو د سیستم د پراختیا طرحه**

په مالي سکتور کې د ادراینو سیستم د بنسټیز رول په پام کې نیولو سره د افغانستان بانک د دې سیستم د لا پراختیا او بډاینې لپاره ارزښتناکه ګامونه پورته کړي دي څو دا سیستم په نړیوالو معیارونو عیار کړي او له دې لارې د بانکي سکتور د شتمنیو په لیږد کې لا ډېره آسانتیا، چټکتیا او روڼتیا را منځ ته کړي. په همدې موخه د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د بریښنایي ادراینو د پراختیا طرحه او عملي میکانیزم د اړوندو ادارو او د افغانستان بانک په ګډو هلو ځلو له اوږدو بحثونو وروسته چمتو او د اقتصاد عالي شورا ته وړاندې شوه چې په پایله کې یاده طرحه او میکانیزم د یادې شورا لخوا د لاندې موخو د ترلاسه کولو لپاره تائید او تصویب شوه.

- مشتریانو په ځانګړي ډول سوداګرو ته اغېزناکه، ارزانه، ډاډمنه او شفافه بانکي خدمتونه وړاندې کول

- د مالیاتو په ورکړه (تحویلی) او نورو سوداګریزو معاملو کې د آسانتیا او چټکتیا د رامنځ ته کول
- د فزیکي پیسو په لیږد رالیږد کې د شته خطرونو کم والی
- جغرافیایي محدودیت پرته د دولت د عوایدو را ټولول
- د خلکو تر منځ د بانکوالی د کلتور د پراختیا او د بانکي نظام د محصولاتو او ګټو سره آشنا کېدل
- د غیر نغدي معاملو دودولو او د افغاني بانکنوټونو د غیر قانوني استهلاک مخنیوی

د یادې طرحې د عملي کولو میکانیزم په دریو پړاوونو (لومړی پړاو –۱۳۹۷ کال د سلواغې په لومړی نېټه،کابل؛ دویم پړاو – د کب په لومړی نېټه، د شپږو زونو په مرکزونو او دریم پړاو –د ۱۳۹۸کال د وري په لومړی نېټه د هېواد په پاتې ولایتونو) کې تطبیق شوې چې د یادې طرحې له مخې به د دولت هغه عواید چې له پنځوس زره افغانیو څخه زیات دي، د سوداګریزو بانکونو لخوا را ټول او په د افغانستان بانک کې د دولت بانکي حسابونو ته لیږدول شوي. د دې پروسې په پلي کولو سره د نغدو پیسو د مدیریت او د هغه د ژر زېږېدو په برخه کې مثبت بدلونونه، د دولت او د عوایدو د ورکوونکو لپاره د عوایدو په راټولونه کې اسانتیا او د فزیکي پیسو په لیږد او رالیږد کې د روڼتیا ډاډ او د خطرونو کموالی رامنځ ته شوی دی.

**۴– د افغاني بانکنوټونو د بیا چاپولو لپاره اقدامات**

د بانکنوټو د زړېدو او له اقتصادي دوران څخه د زړو بانکنوټونو د ایستلو او د بازار د تقاضا او اړتیا په پام کې نیولو سره اړتیا لیدل کېږي چې د افغانی بانکنوټونه بیا چاپ او په اقتصادي چلبنتکې راشي چې د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د نویو بانکنوټونو د چاپولو لپاره په برخه کې لاندې اقدامات تر سره شوي دي.

- د بانکنوټونو د ځانګړتیاوو ترتیبول
- د اداري پړاوونو ترسره کول او د افغانستان بانک د عامل پلاوي او د افغانستان د ملي شورا له لوري تائیدول
- د تدارکاتو آمریت او د تدارکاتو ملي اداري ته د ځانګړتیاوو لیږدول
- د کوچنیو انواعیو لرونکو بانکنوټونو له چاپونکي شرکت څخه د افغانستان بانک د پلاوي لیدنه
- د لس میلیارده کوچنیو بانکنوټونو (۱۰ څخه تر ۱۰۰ افغانیو) د چاپ لپاره له کمپنۍ سره قرار داد
- د یوه جلا وړاندیز له لارې د سل میلیارده کوچنیو او لویو انواعیو لرونکو بانکنوټونو د چاپولو وړاندیز کول

**۵– د معاملې وړ سندونو د قانون نوي کول**

له هغه ځایه چې قوانین د وګړو په لاس او د مفکورو له مخې ترتیب او تصویبیږي، بې له شکه چې له نیمګړتیاوو او ستونزو به خالي نه وي، همدا ډول په اقتصادي او ټولنیزو برخو کې د تکنالوژۍ د پرمختګونو په پام کې نیولو سره اړتیا لیدل کېږي څود هرې لسیزې په تېرېدو سره قوانین د ټولنې اړتیاوو ته ځواب ویلو لپاره بدلون ومومي. د معاملې وړ سندونو د قانون له لومړنی توشیح څخه تر اوسه پورې د یوې لسیزې ډېر وخت تېر شوی دی. د وخت په تېرېدو سره د دې قانونه نوي کېدل او په سوداګرۍ او مالي برخو کې بنسټیز بدلونونه له یوې خوا د قانون په ځینو موادو کې ډېرې تخنیکي او عملیاتي نیمګړتیاوې او پیچلتیاوې چې هیڅ عملي بڼه نه لري، د چک او نورو مهمو برخو کې د مقررې د ترتیب په اړه د لارښود نشتوالی او د دې برخې د ادبي جوړښت ستونزې له بلې خوا، هغه مهم دلیلونه ؤ چې د یاد قانون بیاکتنه او تجدید ترسره شو، څو د سوداګرۍ او مالي سکتور اوسنی اړتیاوې په

ښه توګه پوره کړي. په پایله کې د افغانستان بانک د پورتنیو موضوعاتو او درې کلن ستراتیژیک پلان په پام کې نیولو سره په دې قانون کې د تعدیل پریکړه وکړه او د یاد قانون په ۷۹ مادو کې تعدیلات، حذف او اضافه کول تر سره شوي دي چې د دې تعدیلاتو په رامنځ ته کولو او د اړوندو مقرراتو په جوړولو سره د معاملې وړ سندونو ستونزې او نیمګړتیاوې تر ټولو ټیټې کچې ته رسیدلي او په سوداګرۍ او مالي برخو کې به ډېرې آسانتیاوې را منځ ته کړي. په یاد قانون کې تعدیلات د بانکي عملیاتو د آمریت لخوا بشپړ شوي او د وروستیو اجراآتو لپاره د افغانستان بانک حقوقي مشاوریت ته لیږدول شوي دي.

# اداره او پراختیا

# اداره او پراختیا

## ۱- د ټولو ناظر اداره

د داخلي څېړنو شتون د ادارې د کړنو د څرنګوالي د پیاوړتیا، د داخلي کنټرول د نظام د پرمختیا او پیاوړتیا، د ستراتیژیکو خطرونو له مدیریت سره د مرستې او په داخلي کچه او له اداري څخه بهر په راپور ورکونه کې له روڼتیا څخه د ډاډ تر لاسه کولو لپاره بنسټیزه اړتیا ګڼل کیږي. د دې ادارې د کار ارزښت د هغه په خپلواکۍ او بې پرېتوب پورې تړاو لري. د ټولو ناظر اداره د افغانستان بانک د داخلي څېړنې د ادارې په توګه د داخلي کنټرول د سیستم یوه برخه ده چې په خپلواکه او بې پرې توګه د افغانستان بانک د لایحو، پالیسیو، نافذه قوانینو او مقرراتو د سم تطبیق او رعایتولو په اړه د نظر څرګندول او ارزول او د افغانستان بانک د عالي شورا او عامل پلاوي د پریکړو د سالم تطبیق او اجراءکولو څارل د دې برخې له دندو څخه ګڼل کیږي. د ټولو د ناظر اداري موخې او د فعالیت ساحه د داخلي پلټنې د منشور ( Internal Audit Charter) او د افغانستان بانک د قانون د یوویشتمې مادې پر بنسټ تنظیم او پلي کیږي.


د ټولو د ناظر اداره د نږدې ۴۵ تنه کار کوونکو د ظرفیت په درلودلو سره دوه تنه د ارشد مدیریت په کچه (د ټولو ناظر او د ټولو ناظر د اداري مرستیال)، یو تن د کیفیت د ډاډمنتیا د برخې مدیر، یو تن د پلټنې د برخې مدیر، ۸ تنه تیم لیډران د برخو د مدیریت په کچه، د ۱۳۹۸ کال د پلټنې پلان او غیرپلان شوي موارد په یاده کاري ساحه کې اجراء او پلي کړي دي چې راپور یې په لاندې توګه وړاندې کیږي.

**د ۱۳۹۸ کال د پلان د تطبیق څرنګوالی**

د ۱۳۹۸ مالي کال د پلټنې د پلان پر بنسټ چې د داخلي پلټنې کمیټې لخوا تائید او منظوریږي، د پلان شویو برخو شمېر ۷۳ ته رسیږي چې د افغانستان بانک د مرکزي دفتر شعبې، ښاري څانګې، او د ولایتي نماینده ګیو په ګډون اوه واړه زونونه رانغاړي. د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ټولو ناظر اداره په دې توانېدلې چې د ۵۰ ساحو څېړنې تر سره، بشپړې او له اداري پلوه یې د خپلو موندنو د پایلو راپور د افغانستان بانک لوی رئیس او له عملیاتي پلوه د داخلي پلټنې کمېټې ته سپارلی دی. د یادونې وړ ده چې پاتې ۲۰ ساحو ته د نه لاسرسي لاملونه نا امنې او د لارې په اوږدو کې امنیتي ستونزې په ګوته شوي دي چې د ۱۳۹۹ کال په څېړنه کې په پام کې نیول شوي دي.

درې نورې برخې چې د عالي شورا او عامل پلاوي تصویبونه او د افغانستان بانک د ریاست د مقام جلا حکمونه رانغاړي له صادرېدو وروسته په دوامداره توګه د دې اداري لخوا ترتعقیب لاندې نیول کیږي.

( ۴۷ ) ګراف: ټولیزه پلټل شوې او نا پلټل شوې شعبې ښکاره کوي




د یو لړ اسانتیاوو نه شتون لکه؛ ځینو ولایتونو ته د دولتي او خصوصي سکتور د الوتکو د الوتنو نه ترسره کېدل، د بېلا بېلو دلایلو پر بنسټ د مرکز د ځینو مهمو شعبو د پلټنې ځنډېدل او

د لويو لارو نا امني په ځينو ساحو کې د پلټنې د نه ترسره کېدو ستر لاملونه په ګوته شوي دي. د يادولو وړ ده چې د ۱۳۹۸ کال په اوږدو کې د زياتو ناامنو ساحو پلټنه په غير حضوري ډول د **ځپله کنټرولولو** (Control Self-Assessment) د تصويب شوي کړنلارې له مخې تر سره شوې او راپورونه يې مشر تابه پلاوي ته لېږل شوي دي.


**د کيفيت د ډاډمنتيا د مديريت اجراآت**

څرنګه چې د پلټنې د ټيمونو موندنې د کتنو (مشاهداتو) تر سرليک لاندې د هغه د خطرونو د درجه بندۍ (لوړ، متوسط او ټيټ) په پام کې نيولو سره او د اصلاحي سپارښتونو په جلا راپورونو کې د افغانستان بانک د لوی رياست مقام ته لېږل کيږي. د دې ادارې د سپارښتونو د پلي کېدو په برخه کې د رياست د مقام د کتنې او لازمو لارښوونو وروسته د دې راپورونو يو نقل د تعقيب په موخه د کيفيت د ډاډمنتيا مديريت ته ليږل کيږي. له ټاکل شوې نېټې وروسته د دې سپارښتونو د پلي کېدو يا نه پلي کېدو د څرنګوالي په اړه د ډاډ د ترلاسه کولو په موخه د کيفيت د ډاډمنتيا مديريت د دې سپارښتنو تعقيبي پلټنه پيلوي. هغه ښپارښتنې چې د يو لړ معقول دلايلو له امله تطبيق شوي نه دي، د تعقيبي ټيم لخوا ورته د دويم ځل لپاره نوی وخت ټاکل کيږي.

که چېرې د پام وړ مشاهده ترسره شوې نه وي، په راتلونکي کال کې د پلټنې د ټيم لخوا ورته لومړيتوب ورکول کېږي. د هغه ۵۰ ساحو له ډلې چې د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې پلټل شوي، ۴۴ ساحې چې د اداري طی مراحلو موده او پلټل شويو شعبو ته يې د راپور ليږدول بشپړ شوي د کيفيت د ډاډمنتيا مديريت له لورې تعقيب شوي دي، د ۶ ساحو څېړنه د اداري طی مراحلو د نه پشپړېدو له امله په تعقيبي پلان کې شامل شوي دي.

د يادولو وړ ده چې د عالي شورا او د عامل پلاوي تصويبونه او د افغانستان بانک د لوی رياست حکمونه هغه ۳ برخې دي چې د دې ادارې لخوا په پر له پسې ډول د تعقيب لاندې نيول کيږي.

( ۴۸ ) ګراف : د پلټل شويو، تعقيب شويو، نه تعقيب شويو شعبو او... سلنه ښکاره کوي




همدا ډول د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د افغانستان بانک د عالي شورا ۴۰ تصويبونه او د عامل پلاوي ۴۰۰ تصويبونه د کيفيت د ډاډمنتيا مديريت له لوري تعقيب او د هغه د تطبيق د څرنګوالي راپورونه په ربعواره توګه د داخلي پلټنې کميټې او د افغانستان بانک عالي شورا وړاندې شوي دي.

**د ځانګړو موضوعاتو د پلټنې څرنګوالی:**

هغه ځانګړې موضوعات چې د دې ادارې د پلټنې ټيم ته سپارل شوي دي، د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې ۲۲ موردو ته رسيږي. د لومړنيو موندنو او د تر سره شويو پلټنو پايلې د جلا راپورنو له لارې د اداري پلوه د افغانستان بانک عامل پلاوي او له عملياتی پلوه د داخلي پلټنې کميټې ته وړاندې شوي دي.

**د ټولو ناظر اداري د کار کوونکو د ظرفيت لوړول**

دې ادارې، د کار کوونکو د ظرفيت لوړولو په برخه کې لازمه هڅې ترسره کړي دي او د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ټيم ليډر، د ټيم ليډر د مرستيالانو او آډيټورانو په ګډون

۱۵ تنه کار کوونکو په بېلابېلو بهرنیو روزنیزو پروګرامونو کې د ګډون لپاره هندوستان، د امریکې متحده ایالتونو، عربي متحده اماراتو او پاکستان ته سفرونه کړي دي. له را ګرځېدو وروسته یې خپلې تجربې او موندنې د جلا مقالو په وړاندې کولو سره له نورو کار کوونکو سره شریکې کړي چې د دې ادارې د عملیاتي پروګرامونو په برخه کې اغېزمن ثابت شوي دي.

## ۲- د ریاست د دفتر عمومي آمریت

د افغانستان اسلامي جمهوریت د ادارو د کړنو په اړه معلوماتو ته لاسرسی د هر افغان حق دی. د افغانستان بانک د ریاست د دفتر عمومي آمریت د دې اصل او د روڼتیا او حساب ورکونې د اصل په پام کې نیولو سره چې د بانک یو له مهمو ارزښتونو څخه ګڼل کېږي، تل د کره، اغېزناکو او پر وخت د معلوماتو په خپرولو او منعکس کولو اقدام کړی او د افغانستان بانک د کړنو او په ټوله کې د هېواد د مالي او بانکي نظام په اړه یې خلکو ته پوهاوی ورکړی دی. د افغانستان بانک د ۱۳۹۸ مالي کال د اړیکو او عامه پوهاوي پلان او د بانک په څلور کلن ستراتیژیک پلان (۱۳۹۶-۱۳۹۹) کې درج شویو څلورو ستراتیژیکو اصلونو کې، لکه "د بانک پر سیاستونو د خلکو د باور زیاتولو په موخه د پالیسیو د اعتبار زیاتول، ملي او نړیوالو ادارو او مؤسسو سره د معلوماتو د شریکولو او د پالیسیو په طرحه کولو کې د همغږۍ رامنځته کولو لپاره د اړیکو ټینګښت او تنظیمول، د افغانیو دودولو د هلو ځلو زیاتوالی او د افغانیو کارولو ته د خلکو هڅول او د خلکو د مالي پوهې لوړول" چمتو او پلي کړی چې د اړوندو برخو په توپیر سره په لاندې توګه وړاندې کېږي:

- د بانک پر سیاستونو د خلکو د باور د زیاتولو په موخه د پالیسیو د اعتبار پیاوړتیا

د هېواد د ټولو رسنیو د اقتصادي برخو د ۶۰ تنو راپور ورکوونکو لپاره د پالیسیو د اعتبار د پیاوړتیا او د بانک د کړنو په اړه د خلکو د باور زیاتولو په موخه د بانک د کنفرانسونو په تالار کې د افغانستان بانک د ټولیزو موخو او سیاستونو په اړه د روزنیز ورکشاپ په لاره اچولو سره د عامه پوهاوي پروګرامونه پیل شول.

د دې پروګرامونو په دوام کې د افغانستان بانک وکولای شول څو یاد پروګرامونه د هېواد په مرکز او ولایتونو کې د پوهنتونونو په کچه پراخ کړي چې په پایله کې یې څلور پوهنتونونه په مرکز او شپږ پوهنتونونه په ولایتونو کې د دې پروګرامونو تر پوښښ لاندې راغلل.

په هر پروګرام کې د ګډون کوونکو زده کړیالانو شمېر ۵۰ تنو ته رسېده چې په ټولیزه توګه شاوخوا ۵۰۰ تنو زده کړیالانو له دې روزنیزو پروګرامونو څخه ګټه پورته کړې ده.

د هېواد د مالي او بانکي نظام په تړاو د بانک د مشرتابه پلاوي د ترسره شویو کړنو، لاسته راوړنو او پرېکړو په اړه په لسګونو د رسنیزو کنفرانسونو په لاره اچول د افغانستان بانک د معلوماتي کړنو یوه بله برخه ده چې د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې ترسره شوي دي. دې بانک د مرکز او ولایتونو په کچه د صرافانو او پولي خدمتونو وړاندې کوونکو د پوهاوي لپاره ځانګړي روزنیز پروګرامونه په لاره اچولي دي چې له ډلې یې په خوست، هرات او کابل ولایتونو کې د روزنیزو ورکشاپونو په لاره اچولو او حضوري غونډو ترسره کولو څخه یادونه کوو.

د افغانستان بانک د عامه اعتبارونو د ثبت او پر منقولو مالونو د رهني حقونو د ثبت سیستمونو سره د خلکو د بلدتیا په موخه د سوداګریزو بانکونو استازو، د سوداګرۍ او صنایعو د خونې استازو، صنفي ټولنو او سوداګرو لپاره په کابل، کندهار،

ننګرهار، هرات، مزار شریف او بامیانو ولایتونو کې د عامه پوهاوي پروګرامونه په لاره اچولي دي.

د افغانستان بانک د پورته یادو شویو مواردو ترڅنګ د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د چاپي ابزارونو دکاروني په برخه کې هم ګټورې کړنې ترسره کړي دي چې په دري او پښتو ژبو د افغانستان بانک د ۱۳۹۷ مالي کال د کړنو او لاسته راوړنو د کلني راپور د چمتو کولو او چاپولو څخه یې دلته یادونه کوو. په دري، پښتو او انګلیسي ژبو د افغانستان بانک د ۱۳۹۷ مالي کال د ربعوارو او کلنیو بولټنونو چمتو کول او خپرول او د بانک او د بانکي او مالي نظام د کړنو او فعالیتونو د راپوروونو لرونکې ۱۲ ګڼې میاشتنی، تحلیلي او څېړنیزې مقالې چاپول او خپرول او د ذینفعو شریکانو په واک کې ورکول هغه نور موارد دي چې په دې مود کې چمتو شوي او د بانک د سیاستونو د ذینفعو شریکانو او د بانکي نظام د نورو مینوالو په واک کې ورکول شوي دي.

د افغانستان بانک د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د بانک له ټولنیزو شبکو (فیسبوک، ټویټر، یوټیوب او د افغانستان بانک ویب پاڼې) څخه د ښو وسیلو په توګه ګټه پورته کړې او د زرو پیسو د سوځولو د پروسې، د رهبري پلاوي د خبري غونډو او ورکشاپونو، سیمینارونو او د بانک د نورو رسمي غونډو په ګډون د افغانستان بانک مهم راپورونه او پېښې په دري او پښتو ژبو تر پوښښ لاندې راوستي او په ورته وخت کې د بانک د پالیسیو د اعتبار د زیاتولو په موخه یې لیکلې او انځوریزې خبرتیاوې چمتو او له دې لارې یې خلکو ته وړاندې کړې دي.

- له داخلي او نړیوالو ادارو او مؤسسو سره د معلوماتو د شریکولو او د پالیسیو په طرحه کولو کې د همغږۍ په برخه کې د اړیکو ټینګښت او تنظیمول

د افغانستان بانک د دې اصل پر بنسټ یو لړ پروګرامونه لکه، بحث او خبرې اترې، کنفرانسونه او دوه اړخیزه او څو اړخیزه ناستې ترسره کړي دي چې د پولي سیاست د پلې کولو او په ځانګړې توګه د اسعارو پر وړاندې د افغانی د مبادلې موضوع او د بانکي نظام د کړنو څخه د څارنې په برخه کې د اکاډمیکې ټولنې له استادانو سره د دوو بحثونو په لاره اچولو څخه یې د بیلګې په توګه یادونه کوو.

د اسلامي بانکدارۍ د فعالیتونو د پراخیدو، فرصتونو او ننګونو په برخه کې د یوه ملي کنفرانس په لاره اچول هغه څه دي چې د افغانستان بانک لخوا د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې ترسره شوي دي.

- په پولي معاملو کې د افغانیو د کاروني د دودولو په برخه کې د هلو ځلو زیاتوالی

د افغانستان بانک په پیر او پلور او په کور دننه راکړو ورکړو کې د افغانیو دودولو د هلو ځلو د زیاتوالي او د افغانیو کارولو ته د خلکو د هڅونې د اصل پر بنسټ د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې په لګښتي او غیر لګښتي برخو کې یو شمېر پروګرامونه طرحه او ترسره کړي دي.

د هېواد په هغو زونونو کې چې د نورو هېوادونو پیسې په کې کارول کېږي، د افغانی د دودولو ملي کمپاینونه په لاره اچول شوي دي او یاد کمپاینونه د ولایتي مقاماتو، ولایتي شوراګانو، ځایي مشرانو سره د حضوري کتنو له لارې ترسره شوي او په ترڅ کې یې عملي اقدامات شوي دي چې هېوادوال په دې اړه بشپړ معلومات لري.

د ځایي تلویزیونو او راډیوګانو له لارې د انځوریزو او غږیزو کلیپونو خپرول یو بل پروګرام دی چې د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې په اړوندو ولایتونو کې د ۲۲ تلویزیوني او ۲۳ راډیویي چینلونو له لارې ترسره شوی دی. د افغانستان بانک د

هېواد د نوي نسل او ځوانانو د افکارو په سمبالښت کې د ښوونځيو د ارزښت په پام کې نيولو سره ښوونيزه برخه هم خپله موخه گرځولې او د کابل ښار او ولايتونو د ښوونځيو د زده کوونکو او ښوونکو لپاره يې د ځانگړو توضيحي پروگرامونو په جوړولو سره د ملي ارزښتونو په توگه د خپلو ملي پيسو (افغانۍ) د ورپيژندلو پروگرامونه لا پراخ کړي دي. په همدې موخه يې، د ښوونځيو د زده کوونکو او ادارو د لا هڅونې لپاره تبليغاتي مواد لکه، د ښوونځيو بکسې، قلمونه، کتابچې، روزنيزې رسالې، د ضرب زبانۍ جدولونه، د افغانستان نقشې، گيلاسونه او ديوالي ساعتونه چې د افغانۍ د دودولو پيغامونه لري، چمتو کړي او د ښوونځيو څخه د ليدنې پر مهال يې زده کوونکو او د ښوونځيو ادارو ته ويشلي دي. د يادونې وړ ده چې په دې پروسه کې په مرکز او ولايتونو کې ۱۶۷ ښوونځي د دې پروگرام تر پوښښ لاندې راغلي دي.

همدارنگه د تبليغاتو د پروسې په اوږدو کې د افغانيو د کارونې په موخه د عامه ذهنونو د روښانولو لپاره د هېواد د مرکز، ولايتونو او لويو لارو په بېلابېلو ځايونو کې د افغانيو د دودولو ۱۶۰ تختې بلبورډونه لگول شوي دي.

- د افغانستان بانک د خلکو د مالي پوهې د لوړولو په برخه کې د عامه پوهاوي اغيزناکې کړنې ترسره کړي دي چې له ډلې يې د مالي او بانکي موضوعاتو د کتابونو، چمتو کول، چاپول او خپرول، د سپما د رسالې چمتو کول او چاپول، په مرکز او ولايتونو کې د ښوونځيو له لارې د بانکي نظام د توکو تبليغ، د افغانستان بانک د مجلې، ويب پاڼې او ټولنيزو شبکو له لارې د لنډو ليکلي او انځوريزو پيغامونو ترتيبول او خپرول د يادولو وړ دي.

پــه ورتـه وخت کې، د افغانستان بانک د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د خلکو د مالي پوهې د لوړولو په برخه کې ځينې نورې لاسته راوړنې هم لرلې دي چې د سوداگريزو بانکونو کارکوونکو او د بريښنايي پيسو مؤسسو لپاره د مالي نظام د مشتريانو د حقونو د ملاتړ د اصولو او مقررې په تړاو د درې ورځنې روزنيز ورکشاپ په لاره اچول، د افغانستان نړيوال بانک د کارکوونکو لپاره د اصولو، موضوعاتو او د مشتريانو د حقونو د ملاتړ مقررې په تړاو د روزنيز ورکشاپ په لاره اچول، د کليو پراختيا او بيارغونې وزارت د روزونکو (ټرينرانو) لپاره د درې ورځني ورکشاپ په لاره اچول او د بيمو د رياست د کارکوونکو لپاره د مالي پوهې او د مالي نظام د مشتريانو د حقونو د ملاتړ مقررې روزنيز ورکشاپ په لاره اچولو څخه يې د بېلگې په توگه يادونه کوو.

### ۳- د حقوقي مشاوريت دفتر

د افغانستان بانک د حقوقي مشاوريت او د عالي شورا دارالانشاء دفتر د لازم ليدو، اړتياوو او د ۱۳۹۸ مالي کال د جوړ شوي کاري پلان پر بنسټ د تقنيني او حقوقي چارو اړوندو سندوونو په طرحه، جوړولو او طی مراحلو او په بېلابېلو موضوعاتو کې د حقوقي نظر د څرگندولو په برخو کې کړنې تر سره کړې دي.

په ۱۳۹۸ کال په اوږدو کې د افغانستان بانک د حقوقي مشاوريت او د عالي شورا د دارالانشاء د دفتر د فعاليتونو، کړنو او لاسته راوړنو راپور په لاندې ډول وړاندې کېږي.

**۱- د قوانينو او مقرراتو طی مراحل:**

- د افغانستان بانک په قانون کې تعديلات چې اوس مهال په ملي شورا کې دی.
- په سرحدي گمرکونو کې د پيسو، اسعارو او د معاملې وړ بې نومه سندونو د لېږد د کنټرول او راپور ورکولو په مقرره کې تعديل چې اوس مهال په کابينه کې تر

کار لاندې دي.

- د معاملې وړ سندونو په قانون کې د تعدیل طرحه د بانکي عملیاتو د لوی آمریت په همکارۍ، طی مراحل شوې ده او د عدلیې وزارت د ۱۳۹۹ کال په تقنیني پلان کې په پام کې نیول شوې ده.
- د غیر منقولو اموالو د رهن په قانون کې د تعدیل طرحه د اړونده شعبې په همکارۍ، طی مراحل شوې ده او د عدلیې وزارت د ۱۳۹۹ کال په نقنیني پلان کې په پام کې نیول شوې ده.

**۲- د افغانستان بانک د آمریتونو په مقررو،کړنلارو او لایحو کې تعدیلات او طرحې:**

- د بڼې او ماهیت له پلوه د ATS یا د بانکونو ترمنځ د ادایني او د بیه لرونکو پاڼو د کړنلارې درې ژبې ته ژباړه
- د بڼې او ماهیت له پلوه د بهرنیو اسعارو د لیلام په مقرره کې تعدیل
- د صرافانو او پولي خدمتونو د وړاندې کوونکو د کړنو د تنظیم په مقرره کې تعدیل
- د افغانستان بانک د عالی شورا د ۳ ګڼې ۱۳۹۸/۶/۳۰ نېټې تصویب پر بنست د تسلیمولو او تسلیم ورکولو کړنلاره
- د افغانستان بانک د عالي شورا د ۳ ګڼې ۱۳۹۸/۴/۱ نېټې له تصویب سره سم د بڼې او ماهیت له پلوه د مشتریانو د حقونو د ملاتړ مقرره
- د ریاست د دفتر د لوی آمریت د ډیجیټلي ابزارونو کړنلاره
- د ریاست د دفتر د لوی آمریت د عامه پوهاوي کړنلاره
- د ریاست د دفتر د لوی آمریت اړوند د افغانستان بانک د مطبوعاتي کنفرانسونو کړنلاره
- د ریاست د دفتر د لوی آمریت د اړیکو د مدیریت کړنلاره
- د ریاست د دفتر د لوی آمریت د خپرونو د مدیریت کړنلاره
- له نماینده ګۍ پرته د بانکوالۍ مقرره
- د افغانستان بانک د عالي شوار د ۲ ګڼې ۱۳۹۸/۴/۱ نېټې په مصوبې په اوړدو کې د بانک د ټولو د ناظر د اداري چارټ
- پښتو ژبې ته د ژباړل شوو ۸ مقررو بیا کتنه چې د ۱۳۹۸ کال په اوږدو کې د ریاست د دفتر د لوی آمریت لخوا ژباړل شوې دي
- د خطر د مدیریت چارټر او اړانه Risk Management Charter and Framework
- د خطرونو د مدیریت د کمیټې کړنلاره
- د افغانستان بانک کارکوونکو ته د پور ورکولو په مقرره کې تعدیل
- د اسعارو د لیلام په مقرره کې تعدیل

**۳- د افغانستان بانک د ۴۰ تدارکاتي قراردادونو، هوکړه لیکونو، او پالیسیو مطابقت او د هغو په اړه د حقوقي مشورو وړاندې کول چې ځینې یې د بېلګې په توګه لاندې یاد شوي دي:**

- په افغانستان بانک کې د ملګرو ملتونو (UNODC) د GO AML پروګرام یا اپلیکشن د فعالولو، په ځانګړې ډول د عیارولو، روزنې او د تطبیق څخه د ملاتړ اړوند د ICT د خدمتونو د وړاندې کولو د قرارداد په اړه د نظر ښکاره کول

- د IMF د قراردادونو په اړه د نظر وړاندې کول

**۴- د هغو ۸۰ قضیو په اړه د حقوقي نظرونو وړاندې کول چې د ښاروالۍ او نورو ادارو له لارې را لیږل شوې دي چې له ځینو څخه يې په لاندې ډول يادونه کیږي:**

- په درېیم مکروریانو کې د افغانستان بانک د ۲،۶۶۸ متر مربع ځمکې د موازي غصب په اړه د نظر وړاندې کول
- د ۲۰۳ شمېرې تندر قول اردو د نوي کابل بانک په نماینده ګۍ کې د ۱،۸۶۴،۵۰۰ افغانیو د اختلاس په اړه نظر ورکول
- په بدخشان ولایت کې د افغانستان بانک د توسعوي ځمکې د دعوې په اړه د نظر وړاندې کول

**۵- د ۱۳۰ متفرقه پېښو په اړه د نظرونو او حقوقي مشورو وړاندې کول**

- د لویې ښاروالۍ د محترمې اداري استعلامونو، په ځانګړي ډول د سوداګریزو بانکونو بېلابېلو قضیو ته د حقوقي نظرونو وړاندې کول
- د خسارې د جبران د اداء کولو او د کار اړونده روغتیایي زیان د مقررې د تطبیق په اړه د نظر او حقوقي مشورو وړاندې کول

**۶- په غونډو کې د حقوقي مشاوریت د استازي ګډون:**

- د افغانستان بانک د غیر منقوله شتمنیو په اړه بیا کتنه او له هغو څخه د دفاع لپاره، د افغانستان د جمهوري اسلامي دولت د سترې محکمې د شورا په غونډو کې ګډون
- د پور ورکولو کمیسیون او د کابل بانک د تصفیې د مدیریت د شمتنیو د پلورلو په کمیټه کې ګډون
- د افغانستان بانک د تدارکاتو د آمریت د آفرونو د ارزونې په ټولو غونډو کې په منظم ډول ګډون
- د تېرو (دریو کلنو) سندونو د جلا کولو او محوه کولو په کمیسیون کې ګډون
- د افغانستان بانک کارکوونکو ته د کور د پېرلو د ارزونې په پلاوي کې ګډون
- همدا ډول په کورنیو او بهرنیو ورکشاپونو کې په منظم ډول ګډون

**۷- د نورو دندو او متفرقه موضوعاتو ترسره کول چې ځینې يې په لاندې ډول یاد شوي دي:**

- د حقوقي مشاوریت د دفتر د (۱۳۸۵- ۱۳۹۷) کلنو د هغو سندونو سکن او بریښنایي کول چې د ساتلو او محوه کولو وړ دي
- د ۷۲ ګڼې، ۱۳۹۸/۵/۱۵ نېټې تصویب پر بنسټ د افغانستان بانک د تقنیني سندونو د تعدیل د کمیټې په جوړولو کې همکاري
- د هېواد په رسمي ژبو د تقنیني سندونو د ژباړې په اړه د ۲۱ ګڼې ۱۳۹۷/۱۲/۴ نېټې مصوبې د ۳۲ فقرې تطبیق

## ۴- د بشري سرچینو لوی آمریت

د بشري سرچینو د مدیریت د سیستم د ښه والي او د کارکوونکو د کاري ودې او اغیزمنتیا د زیاتوالي لپاره د زمینې برابرولو په موخه، د بشري سرچینو د مدیریت سیستم د کاري پروسو د بریښنایي کولو، د هر اړخیزه او شفافه حقوقي اړانې د شتون، د معیاري او ځواب ویونکو تشکیلاتو د درلودلو، کارکوونکو ته د روزنیزو، تخصصي او تحصیلي فرصتونو د برابرولو او د هڅوونکو پروګرامونو د تطبیقولو پر بنسټ ښه والی مومي.

له همدې امله د افغانستان بانک د ستراتیژیک پلان د اووم اصل پر بنسټ، د بشري سرچینو لوی آمریت د دریو بنسټیزو

کړنو (د پلانونو او پالیسیو طرح او جوړول، د کارکوونکو د ظرفیت لوړول او د بانك له کارکوونکو سره د اړیکو زیاتوالی او د هغو د روغتیا او خوندیتوب) په ترسره کولو اړ دي.

د بشري سرچینو لوی آمریت د پورتنیو موخو د تحقق لپاره د خپل کلنی کاري پلان جوړ کړی چې لنډیز یې د بشري سرچینو د لوی آمریت د کلني کاري پلان تر سرلیك لاندې وړاندې کیږي.

د بشري سرچینو لوی آمریت د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د کاري پلان پام کې نیولو سره د بشري سرچینو د مدیریت سیستم د ښه والي او د کارکوونکو د اغیزمنتیا او ودې د زیاتوالي لپاره د زمینې برابرولو په موخه، پراخه کړنې تر سره کړې دي.

**د بشري سرچینو جوړښتونه او پلان جوړونه**

د بشري سرچینو لوی آمریت د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د تشکیلاتي ریفورم او کاري پروسو د طرحې او تطبیق په برخه کې د پام وړ اجراات تر سره کړي دي چې د یادو پروسو د پیاوړتیا او کاري اغیزناکتیا او ګټورتیا لامل شوي دي.

- د بشري سرچینو لوی آمریت په ۱۳۹۸ مالي کال کې د بشري سرچینو د کمیټې په کړنلاره کې د تشکیلاتي جوړښت د سمون کمیټه را منځ ته کړې چې د افغانستان بانك د عامل پلاوي او عالي شورا لخوا تائید او منظوره شوې. دې آمریت د تشکیلاتي جوړښت د سمون په اړه د اړوندې کمیټې سره اوه غونډې تر سره کړې او د دې کمیټې په مرسته یې د افغانستان بانك د اداري واحدونو تشکیلاتي جوړښت له اړوندو شعبو سره په نږدې همکارۍ طرح او جوړ کړی دی. په پایله کې د ۱۳۹۸ کال په پای کې د ټولیزه بستونو شمېر ۲،۳۴۰ ته ورسید او د مالي کال په وروستۍ غونډه کې د نویو تشکیلاتو له منظورۍ څخه وروسته د بستونو ټولیزه شمېره ۲،۳۹۵ ته لوړه شوه چې ۱،۰۰۸ بستونه اووه واړه زونونو او ۱،۳۸۷ بستونه مرکزي دفتر پورې تړاو لري.
- د بشري سرچینو لوی آمریت د ۲۴ ساعته سوداګریزو اړیکو په اړه د افغانستان د اسلامي جمهوریت او ګاونډیو هېوادونو د هوکړه لیك د ارزښت په پام کې نیولو سره، سوداګرو ته د خدمتونو د وړاندې کولو او د عوایدو د را ټولولو لپاره دویم کاري شفټ هم جوړ کړ.
- دې آمریت د ۱۳۹۸ مالي کال د کاري پلان پر بنسټ په چارو کې د روڼتیا او د کاري نظم د ساتلو په موخه د کارکوونکو ډیټابیس د وخت له غوښتنو سره سم نوی کړی او همدا ډول د کار کوونکو د بستونو، ګریډونو او دندو د لایحو د درجولو لپاره یې نوي ډیټابیسونه جوړ کړي دي.
- د بشري سرچینو لوی آمریت له اړوندو شعبو سره په همغږۍ د نوي تشکیلاتي جوړښت او له کاري پلان سره سم د افغانستان بانك د اوو زونونو لپاره چې ۱،۰۰۲ بستونه کیږي د دندو لایحې جوړې کړې او د نورو شعبو د دندو د لایحو په اړه یې هم کړنې تر سره کړې دي.

همدا ډول د بشري سرچینو آمریت د خپل آمریت د پلان جوړونې په برخه کې د دریو طرحو لومړني کارونه پیل کړي چې له پلان سره سم یې د لا بشپاینې کارونه دوام لري.

**د تقنیني او اداري سندونو طرحه او جوړول**

د بشري سرچینو لوی آمریت مخکې د بشري سرچینو د مدیریت د مقررې لومړنۍ مسوده د لوی ریاست د مقام له

لاربښوونې سره سم په لنډه تنظیم او د بشري سرچینو د مدیریت ټول اصول يې په هغې کې ځای پر ځای کړي دي. دا تقنيني سند د حقوقي مشاوریت د دفتر له کتنې وروسته په ۱۴ څپرکو او ۱۶۱ مادو کې تنظیم شوی دی.

په ورته وخت کې دې آمریت د بشري سرچینو د مدیریت د مقررې د حکمونو د غوره تطبیق لپاره د اړوندو کړنلارو نهایي مسود طرحه او ترتیب کړي دي چې د بشري سرچینو د مدیریت مقرره به د عالي شورا له منظورۍ وروسته د عامل پلاوي غونډې ته د تصویب لپاره وړاندې شي.

دې آمریت د بشري سرچینو د چارو د ښه تنظیم لپاره، د بشري سرچینو د کمیټو ټولې کړنلارې طرحه او جوړې کړي چې د لازمو نهایي طی مراحلو وروسته اوس مهال د تطبیق په حال کې دي.

د بشري سرچینو لوی آمریت د مناسبو کاري خطوطو او حل لارو د ټاکلو په موخه د بشري سرچینو له پلوه د افغانستان بانک لویو موخو ته د رسیدلو لپاره د دې آمریت د ستراتیژیک پلان لومړنۍ مسوده طرحه او جوړه کړې ده.

د بشري سرچینو لوی آمریت په بازار کې د شته تقاضا په پام کې نیولو سره د مناسبو او عادلانه حقونو او امتیازونو د ټاکلو او تثبیتولو په موخه او د وړ اشخاصو د جلب او جذب او د افغانستان بانک د کار کوونکو د ساتلو او هڅولو او همدا ډول د معاشونو او امتیازونو د یوې همغږې، مناسبې او رښې اډانې د را منځ ته کولو لپاره د مخکني سکیل د ستونزو په رڼا کې د معاشونو نوی سکیل په ۱۳ ګرېډونو او ۳۰ سټیپونو کې د کلني زیاتوالي سره طرح او جوړ کړی دی.

په ادارو کې د تسلیمولو/ تسلیم ورکولو فورم یو مهم او اړین کار دی چې له یوه کارکوونکي څخه بل کار کوونکي ته د توکو، مسئولیتونو او کره کاري معلوماتو د موقتي یا دایمي لیږد لپاره کارول کیږي. له همدې امله د بشري سرچینو لوی آمریت دا کړنلاره طرحه او جوړه کړې چې د افغانستان بانک د عالي شورا لخوا منظوره شوې او اوس مهال د تطبیق په حال کې ده.

د بشري سرچینو لوي آمریت له حقوقي مشاوریت سره په همکارۍ د اداري فساد د جرمونو د خبر ورکونکو د امنیت ساتلو او ملاتړ او د دې برخې له شکایتونو سره د چلند د څرنګوالي لپاره د اداري فساد د جرمونو د خبر ورکونکو د ملاتړ قانون د ۲۲ مادې د لمړۍ فقرې په رڼا کې د اداري فساد د جرمونو د خبر ورکونکو د ملاتړ او د دې برخې له شکایتونو سره د چلند د څرنګوالي کړنلاره طرحه او جوړه کړې چې د عالي شورا لخوا تصویب او اوس مهال د پلي کېدو په حال کې ده.

**د کارکوونکو روزنه او وده**

د بشري سرچینو لوی آمریت د کارکوونکو روزنې او ودې ته چې د دې آمریت تر ټولو بنسټیزه دنده جوړوي،، پاملرنه کړې او د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې يې مهم پروګرامونه رهبري او جوړ کړي دي.

( ۲۷ ) جدول د هېواد دننه او بهر د جوړو شویو پروګرامونو اړوند معلومات وړاندې کوي.

| شمېره | د پروګرام ډول | د ګډونوالو شمېر | ښځینه | نارینه | ځای |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | لیسانس | ۱۳۶ | ۱۱ | ۱۲۵ | مرکز، زونونه او ولایتونه |
| ۲ | ماستر | ۱۲۲ | ۱۰ | ۱۱۲ | مرکز |
| له هېواد څخه بهر د تحصیلي بورسونو هغه پروګرامونه چې د زده کړو په موده کې يې معاشونه د افغانستان بانک لخوا ورکول کېږي | | | | | |
| ۱ | دوکتورا | ۱ تن | | ۱ | روسیه |
| ۲ | ماستري | ۲۷ تنه | ۱ | ۲۶ | هند، جاپان، چین او د امریکې متحده ایالتونه |
| د نړیوال بانک د پروژې آنلاین تحصیلي او تخصصي (Certification) پروګرامونه | | | | | |
| ۱ | ماستري | ۲ | | ۲ | انګلستان او آسټرالیا |
| ۲ | CFA & CFT | ۵ | | ۵ | |
| د نړیوال بانک د پروژې او د کورنيو سرچینو په ملاتړ د هېواد دننه او بهر تخصصي (Certifications) پروګرامونه | | | | | |
| ۱ | CIA | ۱۴ | | ۱۴ | د افغانستان بانک په روزنيز مرکز کې، د AIBF په مرسته |
| ۲ | ACCA ( F3) | ۱۲ | ۱ | | د افغانستان بانک په روزنيز مرکز کې، د AIBF په مرسته |
| ۳ | FIA | ۱۷ | ۴ | | د افغانستان بانک په روزنيز مرکز کې، د مالي آمریت د ټیم لیډر په مرسته |
| ۴ | PMP | ۲۰ | ۵ | ۱۵ | د معلوماتي ټکنالوژۍ د لوی آمر په مرسته |
| | IT Certifications | ۱۱ | | ۱۱ | په هندوستان کې چې د یوه تن لګښتونه د افغانستان بانک لخوا ورکړل شوي دي |
| د هېواد دننه او بهر روزنيز پروګرامونه | | | | | |
| ۱ | له هېواد څخه بهر بېلابېل روزنيز پروګرامونه | ۱۷۵ | ۵ | ۱۷۰ | واشنګټن، جنوبي کوریا، ازبکستان، جرمني، سنګاپور، هند، قزاقستان، پاکستان، ترکیه، اردن، ویتنام، مالیزیا، سویس، دوبی، نیویارک، ایټالیا، کویټ، ارمنیا، بهاماز، مصر، ګرجستان، کمبوډیا، کینیا، لندن، چین او مراکش |
| ۲ | د هېواد دننه بېلابېل روزنيز پروګرامونه | ۴۵۲ | ۵۵ | ۳۹۷ | د افغانستان بانک د داخلي سرچینو په مرسته، د کارکوونکو د روزنې او ودې په مرکز کې |
| ۳ | د ډریورانو لپاره امنيتي او د خوندیتوب پروګرام | ۵۲ | | ۵۲ | په روزنيز مرکز کې د بانک له بودجې څخه د استوګنيز چاپېریال او بشري سرچینو لپاره د ټولنيزو خبرتیاوو د مؤسسې (SAHERO) په مرسته |
| ۴ | د څېړنې (تحقیق) د میتود پروګرام | ۱۳ | | ۱۳ | په روزنيز مرکز کې د هرات پوهنتون د استاد په همکارۍ د مالي چارو د څارنې کارکوونکو لپاره |
| ۵ | Adobe Premier | ۳ | | ۳ | په AIBF کې د ریاست د دفتر د آمریت د کار کوونکو لپاره |
| ۶ | د روزنيزو راټولو شویو معلوماتو (K.S.S) د شریکولو پروګرامونه | ۶۴۹ | ۷۱ | ۵۷۸ | هغه کارکوونکي چې د روزنيزو پروګرامونو لپاره له هېواده بهر سفر کوي، د را ستنېدو وروسته خپل روزنيز راټول شوي معلومات له نورو کارکوونکو سره شریکوي چې له دې پروګرام څخه ۶۴۹ تنه کارکوونکو ګټه اخیستې ده |
| د کتابتون کړنې | | | | | |
| ۱ | د انټرنیټ په سیستم کې د کتابونو ځای په ځای کول | ۳۲ ټوکه کتابونه | | | د انټرنیټ له لارې د کتابونو له سافټ نسخې څخه د ټولو کار کوونکو ګټه اخیستنه |
| ۲ | د کارکوونکو د ګټې اخیستنې او د کتابتون د بډاینې لپاره د کتابونو پېرودل | ۲۰ ټوکه | | | په ټولګي کې د تدریس، په کتابتونکې د ساتلو او د کار کوونکو د ګټې اخیستنې لپاره د PMP د کتابونو پېرودل |
| د هېواد د ځوانو محصلینو د ظرفیت لوړونې لپاره د همکارۍ پروګرامونه | | | | | |
| ۱ | د کار زده کړې دوره (Internship) | ۸۴ | ۴۵ | ۳۹ | په بېلا بېلو شعبو کې د کار زده کړې یوه میاشتنۍ دوره د تصدیق لیکونو وېش او مالي مرستې |
| ۲ | علمي کتنه | ۸۸ | ۴۱ | ۴۷ | د مورا، ابن سینا او آشنا د پوهنتونونو د محصلینو لپاره د پرزنټیشن وړاندې کول او د شعبو څخه د کتنې فرصت برابرول |
| ۳ | د شمېرو او ارقامو راټولول | ۷۱ | ۱۴ | ۵۷ | د مونوګراف او تیزس د جوړولو لپاره، بېلا بېلو شعبو ته د محصلینو پېژندل |

**د بشري سرچينو د سيستم اتومات کول**

د بشري سرچينو لوی آمريت د ۱۳۹۸ مالي کال له کاري پلان سره سم، د بشري سرچينو ماډيولونه (د کار کوونکو د رضايت د سروې، د ګمارنې، تقاعد او د کړنو د ارزونې ماډيولونه) پلان کړي ؤ څو لازمه روڼتيا، اغيزمنتيا او ځواب وركول را منځ ته شي، له دې ډلې د کړنو د ارزونې ماډيول او د کار کوونکو د رضايت د سروې ماډيول له آزمايښتي فعالولو وروسته په نهايي ډول فعال شوي دي. د يادولو وړ ده چې د تخنيکي ستونزو او د ورماتي کمپنۍ د همکارۍ نه کولو له کبله د ګمارنې او تقاعد د ماډيولونو د فعالولو چارې، راتلونکي کال ته ځنډول شوې دي.

د بشري سرچينو لوی آمريت چې مخکې د معلوماتي ټکنالوژۍ د لوی آمريت په تفاهم سره د افغانستان بانک په ويبپاڼه کې د بشري سرچينو د شکايتونو د باب يا پورټال په فعالولو کار پيل کړی ؤ، له نيکه مرغه په ۱۳۹۸ کال کې هغه بشپړ کړ او وروسته مراجعين او کارکوونکي کولای شي چې خپل شکايتونه د دې پورټال له لارې ثبت کړي او دا آمريت به په خپل وخت هغو شکايتونو ته رسيدنه وکړي.

**حقوق و امتيازونه**

د کار کوونکو د ۱۳۹۷ مالي کال د کړنو د ارزونې پروسه د اړونده پاليسۍ پر بنسټ پيل شوې چې په پايله کې د افغانستان بانک ۲،۱۳۸ تنه کارکوونکي د کړنو د کلنۍ ارزونې له کبله د معاش د زياتيدو مستحق پېژندل شوي دي.

همدا ډول د کارکوونکو د کړنو د ارزونې د بيا کتنې په کميسيون کې د ۲۵ هغو کار کوونکو عريضې چې د کړنو د ارزونې له پايلو خوښ نه ؤ او همدارنګه د مستقيمو مديرانو او واک لرونکو آمرينو ۲۷ اصلاحي نظرونه څېړل شوي دي.

په همدې ترتيب، د بشري سرچينو لوی آمريت په د افغانستان بانک کې د مکافاتو او مجازاتو د اصل د ارزښت په پام کې نيولو سره د کارکوونکو د هڅولو او ساتلو او په اداره کې د نظم او دسپلين ساتلو لپاره د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د ۶۴ تنو کار کوونکو له کړنو څخه د ليکونو، ستاينليکونو او تقدير ليکونو ورکولو سره، قدر داني او درناوی کړی دی.

له دې ډلې، په ۱۳۹۸ مالي کال کې د کاري انضباط د تطبيق او له بې نظمۍ څخه د ژغولو په موخه د مرکز او زونونو په کچه په ټوليزه ډول د تأديب ۵۹ پيښې تطبيق شوي دي چې له دې ډلې ۵۵ يې په زونونو او ۴ يې په مرکز کې ترسره شوي دي چې ۵۰ مورده توصيې، ۱ مورد تفيهم ليک او ۸ مورده اخطاريې رانغاړي.

**د کار کوونکو اړيکې، روغتيا او خونديتوب**

د بشري سرچينو لوی آمريت د کار کوونکو روغتيا ته د پاملرنې په برخه کې د روغتيايي بيمې هغه قرار داد چې په ۱۳۹۷/۸/۱۰ نيټه د افغانستان د بيمې له شرکت سره لاسليک شوی ؤ، بيا ځلي د نويو شرايطو په پام کې نيولو سره چې د دې آمريت لخوا وړانديز شوی ؤ، د يو کال لپاره تمديد کړ.

د ۱۳۹۸ کال په اوږدو کې د بشري سرچينو لوی آمريت د افغانستان بانک په استازيتوب د افغانستان د اسلامي جمهوريت د امنيتي او دفاعي ځواکونو له خدمتونو څخه د قدر دانۍ په موخه د وينې د ورکړې (اهدأ) د ملي کمپاين تر سرليک لاندې په مرکزي دفتر کې دا پروسه د عامې روغتيا د وزارت د وينې د بانک رياست په همکارۍ په لار اچولې ده.

**د کار کوونکو د معلوماتو سمون (اصلاح)**

د بشري سرچينو آمريت د کارکوونکو د معلوماتو د اصلاح په برخه کې لاندې کړنې تر سره کړې دي: د ۲،۳۰۰ کارکوونکو د سوانحو د دوسيو د ترتيب او تنظيم د پروسې بشپړول، له نوي تشکيل سره سم په HRMIS سيستم او اړونده

اکسل شیټ کې د ټولو کارکوونکو د لومړنیو او کاري معلوماتو تصحیح کول، د سوانحو په دفتر او اړونده اکسل شیټ کې د ۲،۳۰۰ کارکوونکو د مکتوبونو او د ۱۳۹۷ کال د ارزونې د فورمو ثبتول، په اړوند اکسل شیټ کې د ۲،۳۰۰ کار کوونکو د نوي سکیل د معاشونو تطبیق او ثبتول، د کار کوونکو د TIN فورمو بشپړول او د ټولو کارکوونکو د تفریحي رخصتیو د نوبتي جدول تطبیق او بشپړول. همدا ډول د کارکوونکو د معلوماتو د سمونونو په برخه کې لاندې کړنې هم تر سره شوې دي: په نوي سیستم او اکسل شیټ کې د ۱۴۸ نوي مقرر شویو کارکوونکو د سوانحو د معلوماتو د ثبتولو اړوندې چارې، د ۱۵۳ د نویو مقرر شویو کارکوونکو لپاره د سوانحو د دفتر جوړول، د مرکزي احصائیې ادارې ته په څلورو ربعو کې د جنسیت، د تحصیل درجې او کاري موقعیت د توپیر پر بنسټ د احصائیوي راپور جوړول او د ۶۵ تنو هغه کارکوونکو د خدمت د مودې سنجش چې د خپلې غوښتنې، د دندې د معیارونو د نه بشپړولو او د قانوني عمر د پوره کولو او یا د خدمت د مودې پر بنسټ تقاعد ته سوق شوي دي.

**د کار کوونکو د تقاعد حقونه**

د بشري سرچینو آمریت په ۱۳۹۸ مالي کال کې د تقاعد شویو کارکوونکو د تقاعد د حقونو د سنجش او اداء کولو په برخه کې لاندې کړنې تر سره کړې دي.

د ۸۶ تنه تقاعد شویو کارکوونکو د تقاعد د حقونو اجراء کول، د ۸ تنو هغه تقاعد شویو کارکوونکو د تقاعد د حقونو د ورکولو اړوندې چارې چې د بېلابېلو لاملونو پر بنسټ د بانک له بست څخه منفک شوي دي او د تېرو کلنو د ۱،۶۹۴ تنو تقاعد شویو کارکوونکو د دوسیو جوړول، په سیستم کې ثبتول او حفظ کول.

د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د بر حاله کارکوونکو د تقاعد د حقونو د سنجش او ورکولو په برخه کې هم اجراات تر سره شوي دي.

په دې برخه کې د هغو ۲۴ تنه برحاله کارکوونکو د تقاعد حقونو چارې چې د ۱۳۹۵ کال د وري له ۱۵ نېټې څخه وروسته بیاځلي مقرر شوي، بشپړې شوې دي. د نوي تشکیل او نویو پوزیشنونو پر بنسټ د مرکز د برحاله کارکوونکو د ډیټابیس د نوي کولو چارې هم روانې دي. د ۳۲ تنه هغه پوروړو کارکوونکو د تقاعد حقونه چې د غیابت پر بنسټ منفک شوي، د عالي شورا د ۱۴ پریکړې پر بنسټ د هغو د طلب حساب ته لیږدول شوي دي.

**ګمارنه**

د ۱۳۹۸ کال په اوږدو کې د بشري سرچینو لوی آمریت د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې د ستراتیژۍ د تطبیق او د تشکیلاتي او پرسونلي ریفورمونو په برخه کې د منظمو او معیاري تشکیلاتو د درلودلو د ژمنتیا لپاره د افغانستان بانک د تشکیلاتو بیا کتنه کړې او په هغو کې یې لازمه اصلاحات را منځ ته کړي دي.

د یادې ستراتیژۍ پر بنسټ، د افغانستان بانک ۱۳ تنه کارکوونکي د لوړو زده کړو د دوام له امله د معاش په درلودلو سره د انتظار په حالت کې دي. ۳۴ کارکوونکي د لوړو زده کړو د نه درلودلو له کبله تقاعد ته سوق شوي او همدا ډول ۱۸ تنه نور د بست د ټاکلو په موخه د معاش په درلودلو سره د انتظار په حالت او یا هم په خپله خوښه تقاعد ته سوق شوي دي.

د یادولو وړ ده چې د بشري سرچینو آمریت د یوه ښه تشکیل د درلودلو لپاره، په اړینو بستونو کې د مناسبو او وړتیا لرونکو اشخاصو د پېژندلو او ګمارلو په برخه کې د لاندې چارو په

ترسره کولو بریالی شوی دی:

۱- د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۱۴۷ تنه کارکوونکي په افغانستان بانک کې مقرر شوي چې ۱۳۱ تنه یې نارینه او ۱۶ تنه یې ښځینه دي.

۲- د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه د افغانستان بانک ۱۵۲ تنه کارکوونکي د بېلابېلو شعبو تر منځ تغییر او تبدیل شوي چې ۱۴۳ تنه یې نارینه او ۹ تنه یې ښځینه دي.

۳- د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې په ټولیزه توګه ۵۲۱ تنه کارکوونکو ته ارتقاء ورکړل شوې چې ۳۱ تنه یې ښځینه او ۴۹۰ تنه یې نارینه دي.

۴- د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د دې اداري ۴۹ تنه کارکوونکي ګوښه کېدو، استعفا او منفکۍ ته سوق شوي چې ۴۶ تنه یې نارینه او ۳ تنه یې ښځینه دي.

### ۵- د معلوماتي ټکنالوژۍ لوی آمریت

د افغانستان بانک د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت د افغانستان بانک د بېلابېلو سیستمونو د معیاري کولو لپاره له اوسني عصر سره سم د ټکنالوژۍ د آسانتیاوو په برابرولو کې مهم رول لوبوي.

د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت ۸ مدیریتونه لري چې هر مدیریت یې ځانګړې دندې لري. دې آمریت د۱۳۹۸ کال په اوږدو کې د شبکې د بیخبنسټونو، د معلوماتو د ساتنې، د پوستکالو (سافټ ویرونو) د پراختیا او را منځته کولو او داسې نورو برخو کې کړنې ترسره کړي چې د هر مدیریت راپور په لنډه توګه وړاندې کېږي.

#### د شبکې د بیخبنسټونو مدیریت

د شبکې د بیخبنسټونو مدیریت د افغانستان بانک په مرکزي دفتر او ټولو ولایتي نماینده ګیو کې د انټرنټي خدمتونو، شبکې او د شبکې د بیخبنسټونو په معیاري ډول د را منځته کولو لپاره کار کوي څو شبکه ایزې تخنیکي ستونزې حل کړي.

په ۱۳۹۸ مالي کال کې د دې مدیریت بنسټیزې لاسته راوړنې په لاندې ډول دي:

- د آسانتیا او خوندیتوب د را منځته کولو او په خپل وخت د شبکه ایزو ستونزو د حلولو لپاره د افغانستان بانک په مرکزي دفتر او نماینده ګیو کې د عصري شبکه ایزو سیستمونو نصبول
- د امنیتي خوندیتوب په موخه د Site to site VPN له لارې له نماینده ګیو سره د مرکزي بانک د سیستمونو نښلول
- د مرکزي دفتر او ولایتونو د شبکې او انټرنټ د څرنګوالي د راپور اخیستلو لپاره د نوي سیستم جوړول
- د افغانستان بانک سیستمونو ته د لاسرسي او له ATS سیستم سره د هغه د نښلولو په موخه د افغانستان بانک او ځینو خصوصي بانکونو ترمنځ د Site to site VPN جوړول
- د انټرنټي شبکې، معلوماتي ټکنالوژۍ د وسایلو او د E1 داخلي او سیمه ایزو لینکونو څارنه
- د ATS سیستم آزمایل او د سوداګریزو بانکونو، مالیې وزارت او APS سره د هغه نښلول

#### د معلوماتو د ساتنې مدیریت

د معلوماتو د ساتنې مدیریت د سیستمونو د ورځنې مانیټورینګ سربېره، په ټولو سیستمونو او کاروونکو (یوزرانو) باندې د پالیسیو د تطبیق او د دې آمریت هرې برخې ته د معیاري پالیسیو او منظمو کړنلارو د جوړولو چارې پر مخ وړي. د دې تر څنګ، د بانکونو ترمنځ او سویفټ د سیستم د یوزرانو جوړول او مدیریت، د افغانستان بانک په ټولو

سیستمونو د Security Assessment او Penetration testing ترسره کول هم د دې مدیریت دندې ګڼل کیږي.

د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې دې مدیریت پر اوو سیستمونو کار کړی چې د هغو له ډلې یې درې سیستمونه عملي کړي او په لاندې (۲۸) جدول کې ښودل شوي دي.

| موخه | د موخې نېټه | حالت |
|---|---|---|
| Deploying standard policy to ACSS and SWIFT for user securities | ترسره شوې دی | ترسره شوې دی |
| Configured and Deployed domain to all DAB Branches | ترسره شوې دی | ترسره شوې دی |
| Create Admin users for each Commercial bank and managing all those users | ترسره شوې دی | ترسره شوې دی |

**د پوستکالو (سافټ ویرونو) د پراختیا او جوړولو مدیریت**

د پوستکالو د پراختیا او جوړولو مدیریت د شته پوستکالو په پراختیا او د نویو پوستکالو په جوړولو کې د افغانستان بانک هڅولو آمریتونو سره همکار دی او د هغو د ضرورت وړ پوستکالي جوړوي.

په ۱۳۹۸ کال کې د دې مدیریت بنسټیزېلاسته راوړنې په لاندې ډول دي.

۱– د ریاست د دفتر د لوی آمریت د سندونو د ثبت د سیستم پراختیا او په هغې کې د یوې نوې برخې جوړول چې د بانک د اړوندو آمریتونو اجرائیې له دې سیستم سره نښلول شوي دي. اوس مهال د ټولو آمریتونو د اجرائیې مدیریتونه کولای شي چې د خپل آمریت اړونده سندونوته د محرمیت له ساتلو سره لاسرسي ولري.

۲– د بشري سرچینو د شکایتونود ثبت سیستم ډیزاین او جوړول چې اوس مهال په آنلاین ډول کارول کیږي.

د دې سیستم په کارونې سره هر شخص کولای شي خپل شکایتونه په دې سیستم کې ثبت کړي چې وروسته بیا د اړونده برخې لخوا مطرح کیږي، څو ستونزې له منځه یوړل شي.

۳– د ATS/CSD سیستمونه، او د بهرنیو سیستمونو د نښلولو لپاره د ازمایښت چمتو کول

۴– له هغو دوډیزومعیارونو سره د Auction او Acss پروګرامونو خوندیتوب چې اوس مهال د پخوا پرتله ښه شوي دي

**د ډیټابیس مدیریت**

دا مدیریت د افغانستان بانک د ډیټابیسونو د بنسټیز جوړښت مسئولیت په غاړه لري او د معلوماتو د مرکزونو (ډیټابیسونو) ټول اطلاعات ترتیب او مدیریت کوي.

په ۱۳۹۸ کال کې د دې مدیریت ترسره شوې کړنې په لاندې ډول دي:

- خصوصي بانکونو ته د ATS ټسټ سیستم وړاندې کول
- د پوستکالو د پراختیا او جوړولو مدیریت لخوا د جوړو شویو سیستمونو د ډیټابیس په عصري کولو کې همکاري کول

**د سویفټ مدیریت (SWIFT)**

د ادارینو آمریت د سویفټ مدیریت د تخنیکي مواردو ساتنه یو اړین کار ګڼل کیږي چې دا کار د معلوماتي ټکنالوژۍ د سویفټ مدیریت لخوا پر مخ وړل کیږي.

په ۱۳۹۸مالي کال کې د دې مدیریت کړنې په لاندې ډول دي.

- د سویفټ سیستم د ښه خوندیتوب لپاره په۷.۴ نوي ورژن باندې د SAE Migration بدلول

- د سویفټ په ټولو سرورونو کې له۷.۲ ورژن څخه ۷.۴ نوي ورژن باندې د SAE Migration تطبیقول
- له احتمالي خطرونو څخه د لا خوندیتوب لپاره د Customer Security Program د وړاندیز شوي پروګرام تطبیق او ترسره کول
- د سویفټ سیستم د معلوماتو او اطلاعاتو د خوندیتوب لپاره د Disaster Recovery ویب پاڼې فعالول
- د سویفټ د شبکې د لا خوندیتوب لپاره د East Nets شرکت د نوي رالیږل شوي Juniper Box فعالول
- د سویفټ سیستم د خوندیتوب لپاره د ځیرک موبایل له لارې د Two Factor Authentication په آسانتیا د سویفټ سیستم سمبالول
- د سویفټ شرکت د وړاندیز شوې تر ټولو نوي ورژن Security Patch سره ویب پلاتفورم ته پراختیا ورکول

**د مرستې د میز مدیریت**

د معلوماتي ټکنالوژۍ د آمریت د مرستې د میز مدیریت د مرکز د کارکوونکو د IT وسایلو ټولو ستونزو ته رسیدنه کوي. د ولایتونو د نماینده ګیو او ښاري څانګو ډیری ستونزې په لومړي قدم کې د ټیلفوني اړیکې له لارې حلوي او که چیرې ستونزه جدي وي، نو د دې آمریت تخنیکي کارکوونکی اړوندې ساحې ته لیږل کیږي، څو ستونزه حل کړي.

د افغانستان بانک د کارکوونکو تخنیکي ستونزې به مخکې د ټیلفون له لارې د دې آمریت سره شریکېدې، خو اوس مهال د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت د Manage-Engine نوی پوستکالی د دې لپاره فعال کړی چې له دې لارې د افغانستان بانک د کارکوونکو تخنیکي ستونزې تر لاسه کړي.

۱- د افغانستان بانک د کارکوونکو د تخنیکي ستونزو د تر لاسه کولو او حلولو لپاره د Manage-Engine سیستم فعالول

۲- د افغانستان بانک د مرکزي دفتر، ښاري څانګو او د کابل زون د نماینده ګیو په ټولو کمپیوټرونو کې د معیاري او رسمي پوستکالو نصبول

۳- د کابل د ښاري څانګو او زون په کمپیوټرونو کې د نویو وینډوزونو د ستونزو حلول

۴- د رسمي پریزنټیشنونو او کنفرانسونو لپاره د ریاست په تالار کې د پروجکټور عیارول

**د ترمیمونو ( Hardware )مدیریت**

د معلوماتي ټکنالوژۍ د آمریت دا برخه د افغانستان بانک د ټولو هغو ټکنالوژیکي وسایلو د ترمیمولو دنده پر غاړه لري چې د Hardware ستونزه ولري.

دې مدیریت د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې لاندې کړنې تر سره کړې دي:

۱- د ولایتونو د ټولو نماینده ګیو او مرکز د ۱۳۹۹ کال د بودجې د وړاندوینې لپاره د سندونو راټولول او د سلا مشورې ورکول

۲- د فني او تخنیکي برخې لخوا داخلي ترمیم او همدا ډول له بازار څخه د خریدارۍ لپاره د آی ټي وسایلو د ځانګړتیاوو وړاندې کول

۳- په بېلا بېلو سندونو کې د رنګونو او تونرونو د اړتیا د ټاکلو لپاره د نظر ثبت او وړاندې کول

**د افغانستان بانک د رسمي برېښنا لیک مدیریت**

د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت د برېښنالیک مدیریت، د افغانستان بانک د کار کوونکو ترمنځ د سندونو په تبادلې کې

د آسانتیا د رامنځته کولو په موخه، جوړ شوی دی.

د مرکزي بانک د کارکوونکو د رسمي برېښنالیک جوړول، تنظیم او فعال ساتل او همدا ډول د شییر فولډرونو جوړول او تنظیم چې د کارکوونکو ترمنځ د سندونو په تبادلې کې بنسټیز رول لوبوي، د دې مدیریت له دندو څخه شمېرل کېږي.

د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې د دې مدیریت کړنې په لاندې ډول دي:

۱- په مرکز او ولایتونو کې کارکوونکو ته د نویو رسمي برېښنالیکونو جوړول او د رسمي برېښنالیکونو په برخه کې د کارکوونکو ستونزې حلول

۲- د شییر فولډرونو په برخه کې د کارکوونکو ستونزو ته رسیدنه او د کارکوونکو ترمنځ د سندونو په تبادلې کې د آسانتیا د رامنځته کولو لپاره د ډېرو شییر فولډرونو جوړول

۳- د Outlook په پروګرام کې د کارکوونکو د ایمیل آدرسونو تنظیم او ترتیب

### ۶- د خطرونو او د قانون د رعایتولو لوی آمریت

څرنګه چې ښکاره ده، هره اداره او په ځانګړي توګه مالي مؤسسې د خپلو کړنو د ماهیت پر بنسټ له بېلا بېلو خطرونو سره مخ کېږي. د افغانستان بانک د مشر تابه پلاوی د هېواد په بانکي نظام باندې د قانون د نه رعایتولو له کبله د خطرونو د اغېزو او د دې ترڅنګ په دې برخه کې د نړیوالو همکارانو او ذینفع شریکانو د سپارښتونو په پام کې نیولو سره د خطرونو او د قانون د رعایتولو په لوی آمریت کې بنسټیز جوړښتیز او دنده ایز بدلونونه را منځ ته کړي دي.

د دې بدلونونو پر بنسټ دې آمریت د افغانستان بانک د لویو آمریتونو او مدیریتونو د کلنی ارزونې تر څنګ، درې نور آمریتونه لکه د بازار عملیاتو، د بانکي عملیاتو او د ادارو آمریتونه هم د خطرونو د مدیریت او د قانون د رعایت له پلوه ارزولي چې په لاندې ډول ورته اشاره کېږي.

- د قانون د رعایت مدیریت د بازار عملیاتو د آمریت درې بنسټیزې کاري ساحې لکه، نړیوالې لېږدونې، د اسعارو د لیلام په پروسه کې د ګډونوالو شمېر او لیټر آف کریډېټونه د قانون د رعایت له پلوه او د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې د قوانینو او مقررو پر بنسټ تر ارزونې نیولې دي چې بشپړ جزئیات یې لاندې وړاندې کېږي.

**نړیوالې لېږدونې:** د قانون د رعایت مدیریت، د معامله لرونکو بانکونو نړیوالې لېږدونې چې معاملې یې د افغانستان بانک له لارې اجراء کېږي، د پیسو وینځلو او د تروریزم د تمویل پر وړاندې د مبارزې له قوانینو او مقررو سره سم مرور او پلې کوي. د ذینفع اشخاصو نومونه (رئیس، مرستیال او د شرکت نوم) د (World Check) په ډیټابیس کې چې د ملګرو ملتونو د بندیزونو لیستونه (UN Sanction Lists)، د بهرنیو شتمنیو د کنټرول دفتر (Office of Foreign Assets Control)، د اروپایي ټولنې لیستونه (EU Sanction Lists) او د افغانستان د مالي معاملو او راپورونو د شننې مرکز د بندیزونو لستونه رانغاړي، تطبیق او ارزوي.

**د اسعارو د لیلام د پروسې ګډون کوونکي:** په دې برخه کې د اسعارو د لیلام د پروسې د ګډون کوونکو لیست ( انفرادي او شرکتي صرافیو، د پولي خدمتونو وړاندې کوونکي، شرکتونه او سوداګریز بانکونه چې د ذینفع اشخاصو نومونه (رئیس، مرستیال او د شرکت نوم) یې د World Check په ډیټابیس او د فنټراکا ترنظر لاندې اشخاصو په لیست کې شتون ولري) په اونۍ کې یو ځل د اسعارو د لیلام څخه مخکې مرور او تطبیقېږي.

د اسعارو د لیلام د پروسې ګډون کوونکي د ۱۳۹۸ مالي

کال په اوږدو کې ۲،۸۸۰ ځلې د بندیزونو په لیستونو کې تطبیق شوي او په دې برخه کې اړین اجراات تر سره شوي دي.

لیټر آف کریډېټ او بانکي تضمینونه: د قانون د رعایت مدیریت د ذینفعانو د تشخیص او ارزونې په موخه، د بانکي تضمینونو او لیټرآف کریډېټ د پرانیستلو اسانتیاوې د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې له قانون سره سم د بندیزونو په لیستونو کې چک، مرور او په اړه یې لازم اجراات تر سره کوي.

په ۱۳۹۸ مالي کال کې، په دې برخه کې ۱۷ لیټر آف کریډېټونه پرانیستل شوي چې کچه یې ۱۵۲،۱۰۵،۲۸۴.۱۴ امریکایي ډالرو او ۱۶،۰۸۴،۳۷۰.۲۰ یورو ته رسیږي.

- د کاري لایحو او کړنلارو پر بنسټ، د قانون د رعایت مدیریت د بانکي عملیاتو په آمریت کې هغه انتقالي چکونه چې کچه یې له ۵۰۰،۰۰۰ افغانیو څخه ډېره وي او همدا ډول د حقیقي او حکمي اشخاصو اسعاري چکونه د مبلغونو په پام کې له نیولو پرته د رعایت د قانون له پروسیجر او پروګرام سره سم د بندیزونو په لیستونو کې مرور او تطبیقوي. که چېرې له یادو اشخاصو څخه د یوه نوم د بندیزونو د لیستونو له نومونو سره ورته والیو لري، دا مدیریت د مشتریانو د ښه او زیاتې پېژندنې (EDD) لپاره له سوداګریزو بانکونو څخه د لازمو سندونو غوښتنه کوي.

د قانون د رعایت مدیریت، د اداینو د آمریت د سویفټ (SWIFT) د شبکې د نړیوالو وارده معاملو ذینفعان د پیسو وینځلو او د ترهګرۍ د تمویل پر وړاندې د مبارزې له قوانینو سره سم د بندیزونو په لیستونو کې مرور او تطبیقوي. که چېرې معاملې د World Check په سیستم کې څه ستونزه ونلري، نو په نورمال ډول تائید او طی مراحل کېږي. که معامله په نوموړي سیستم کې ورته والی ولري، د لازمو سندونو د غوښتنې او ترلاسه کولو وروسته د مشتري د ښه او زیاتې پېژندنې (EDD) لپاره بیا ځلې تطبیقیږي.

## ۷– د مالي خدمتونو د پراختیا لوی آمریت

د مالي خدمتونو د پراختیا لوی آمریت خپلو کاري موخو ته د رسیدلو لپاره په ۱۳۹۸ مالي کال کې یو لړ کارونه تر سره کړي دي. د دې آمریت کاري موخې د یوه داسې پراخه مالي نظام جوړول دي چې اشخاص او تشبثونه پکې مناسبو، با کیفیته او ارزانه مالي خدمتونو ته لاسرسی ومومي او له هغو څخه په دوامداره ډول ګټه واخلي.

په ۱۳۹۸ مالي کال کې د مالي خدمتونو د پراختیا د لوی آمریت د کړنو لنډ راپور په لاندې ډول وړاندې کېږي:

- له ذیدخله دولتي او غیر دولتي ادارو سره په همغږۍ او مشورې د افغانستان لپاره مالي خدمتونو ته د عامه لاسرسی د لومړني ملي ستراتیژۍ جوړول او نهایي کول د دې آمریت مهمه لاسته راوړنه وه چې د یوه پراخه مالي نظام د جوړولو لپاره د افغانستان بانک ته یوه طرحه په لاس ورکوي. په پنځو راتلونکو کلنو کې به د دې ستراتیژۍ په بریالیتوب سره تطبیق، مالي خدمتونو ته د عامه لاسرسی کچه لوړه کړي. دا ستراتیژي به مالي خدمتونو ته د عامه لاسرسي په لار کې شته لوی فرصتونه، ننګونې او خنډونه په ګوته کړي او د هر اړخیزه کاري پلان په اډانه کې به د یادو شویو ننګونو او خنډونو د شدت کچه را ټیټه کړي او د شته فرصتونو څخه به مالي خدمتونو ته د عامه لاسرسي د کچې د لوړولو لپاره په سیستماتیک ډول ګټه واخیستل شي.

- د مالي چارو د څارنې د لوی آمريت سره په همغږۍ له نماينده ګۍ پرته د بانکوالۍ او د مالي سکتور د پېرودونکو (مشتريانو) د حقونو د مقررو جوړول د مالي خدمتونو د پراختيا د لوی آمريت يوه بله بنسټيزه کړنه ګڼل کېږي چې په ياده دوره کې يې تر سره کړې ده. جواز لرونکو مالي مؤسسو ته د پېرودونکو د حقونو د مقررې په ورپېژندلو او د هېواد په مالي سکتور کې د دې مقررې په تطبيقولو سره د مالي مؤسسو لخوا د خدمتونو او محصولاتو وړاندې کول په مسئولانه ډول تر سره شوي دي او له دې لارې به د هېواد په مالي سکتور د خلکو باور زيات شي. په همدې ډول له نماينده ګۍ پرته د بانکوالۍ مقرره به جواز لرونکو بانکونو ته د دې فرصت برابر کړي چې وکولای شي خپل خدمتونه د نورو تشبثونو لکه پُسته خونو، پوهنتونونو، روغتونونو، درملتونونو او نورو له لارې خلکو ته وړاندې کړي او له دې لارې د بانکونو د عملياتي لګښتونو د کموالي سره د خدمتونو د پوښښ کچه لوړه کړي.
- د ۱۳۹۸ مالي کال په اوږدو کې ځينو مالي مؤسسو د مالي نظام د پېرودونکو د حقونو د مقررې په اړه کې د پېرودونکو د حقونو د ملاتړ برخه جوړه کړې ده. د دې برخې جوړېدل به پيرودونکو (مشتريانو) ته فرصت برابر کړي څو خپل شکايتونه د بېلابېلو لارو او طريقو څخه په ګټې اخيستنې سره د مالي مؤسسې د پېرودونکو د حقونو د ملاتړ برخې ته ورسوي. د پېرودونکو د حقونو د ملاتړ برخه مکلفه ده چې د پېرودونکو (مشتريانو) ستونزو او شکايتونو ته د بانکي نافذه قوانينو، مقررو او متحدالمال مکتوبونو او همدا ډوله پيرودونکو سره د ترسره شويو قرار دادونو په رڼا کې ځواب وړاندې او د هغوی د حقونو د تأمين څخه ډاډ تر لاسه کړي.
- د مالي پوهاوي په برخه کې د کليو د بيا رغونې او پراختيا او همدا ډول د ښځو د کلتوري، روزنيزې او ټولنيزې مؤسسې سره د خلکو، په ځانګړي ډول د ښځو د مالي پوهاوي د زياتولو په موخه د همکارۍ هوکړه ليکونه لاسليک شوي دي چې د دې هوکړه ليکونو په اړه کې د يادو دوو ادارو د روزنيزو برخو کارکوونکو ته د مالي پوهاوي لنډ مهاله روزنيز پروګرامونه په لار اچول شوي دي. تمه کېږي چې د لاسليک شويو هوکړه ليکونو په اړه کې به د مالي پوهاوي لنډ مهاله روزنيز پروګرامونه د هېواد په بېلابېلو سيمو کې ښځو او د کلو اوسېدونکو ته وړاندې شي.